لِیَضْرَبُوْا	په کارده چې وهل وکړي هغه ټول سړي	په راتلونکي زمانه کې	صیغه جمع مذکر غائبین فعل امر غائب معلوم
لِتَضْرِبْ	په کارده چې وهل وکړي هغه یوه ښځه	په راتلونکي زمانه کې	صیغه واحده مؤنثه غائبه فعل امر غائب معلوم
لِتَضْرَبَا	په کارده چې وهل وکړي هغه دوه ښځې	په راتلونکي زمانه کې	صیغه تثنیه مؤنثه غائبین فعل امر غائب معلوم
لِیَضْرَبْنَ	په کارده چې وهل وکړي هغه ټولې ښځې	په راتلونکي زمانه کې	صیغه جمع مؤنثه غائبتین فعل امر غائب معلوم
لِأَضْرِبْ	په کارده چې وهل وکړم زه یو سړي یا یوه ښځه	په راتلونکي زمانه کې	صیغه واحد متکلم مشترک فعل امر غائب معلوم
لِنَضْرِبْ	په کارده چې وهل وکړو مونږ دوه سړي یا مونږ دوه ښځې یا مونږ دیر سړي یا مونږ دیرې ښځې	په راتلونکي زمانه کې	صیغه تثنیه و جمع متکلم مشترک مع الغیر فعل امر غائب معلوم

باب اول صرف کبیر فعل امر غائب معلوم مؤکد با لام و نون تاکید ثقیله

لِيَضْرِبَنَّ	په کارده چې خامخا ضرور دې وهل وکړي هغه يو سړي	په راتلونکي زمانه کې	صيغه واحد مذکر غائب فعل امر غائب معلوم مؤکد په نون تاکيد ثقيله
لِيَضْرِبَانِّ	په کارده چې خامخا ضرور دې وهل وکړي هغه دوه سړي	په راتلونکي زمانه کې	صيغه تثنيه مذکر غائبين فعل امر غائب معلوم مؤکد په نون تاکيد ثقيله
لِيَضْرِبُنَّ	په کارده چې خامخا ضرور دې وهل وکړي هغه ټول سړي	په راتلونکي زمانه کې	صيغه جمع مذکر غائبين فعل امر غائب معلوم مؤکد په نون تاکيد ثقيله
لِتَضْرِبَنَّ	په کارده چې خامخا ضرور دې وهل وکړي هغه يوه ښځه	په راتلونکي زمانه کې	صيغه واحده مؤنثه غائبه فعل امر غائب معلوم مؤکد په نون تاکيد ثقيله
لِتَضْرِبَانِّ	په کارده چې خامخا ضرور دې وهل وکړي هغه دوه ښځې	په راتلونکي زمانه کې	صيغه تثنيه مؤنثه غائبين فعل امر غائب معلوم مؤکد په نون تاکيد ثقيله
لِيَضْرِبْنَانِّ	په کارده چې خامخا ضرور دې وهل وکړي هغه ټولې ښځې	په راتلونکي زمانه کې	صيغه جمع مؤنثه غائبتين فعل امر غائب معلوم مؤکد په نون تاکيد ثقيله
لِأَضْرِبَنَّ	په کارده چې خامخا ضرور دې وهل وکړم زه يو سړي يا زه يوه ښځه	په راتلونکي زمانه کې	صيغه واحد متکلم مشترک فعل امر غائب معلوم مؤکد په نون تاکيد ثقيله
لِنَضْرِبَنَّ	په کارده چې خامخا ضرور دې وهل وکړو مونږ دوه سړي يا مونږ دوه ښځې يا ټول سړي يا ټولې ښځې	په راتلونکي زمانه کې	صيغه تثنيه و جمع متکلم مشترک مع الغير فعل امر غائب معلوم مؤکد په نون تاکيد ثقيله

باب اول صرف کبير فعل امر غائب معلوم مؤکد با نون تاکيد خفيفه

لِيَضْرِبَنْ	په کارده چې خامخا وهل دې وکړي هغه يو سړي	په راتلونکي زمانه کې	صيغه واحد مذکر غائب فعل امر غائب معلوم مؤکد په نون تاکيد خفيفه
لِيَضْرِبُنْ	په کارده چې خامخا وهل دې وکړي هغه ټول سړي	په راتلونکي زمانه کې	صيغه جمع مذکر غائبين فعل امر غائب معلوم مؤکد په نون تاکيد خفيفه
لِتَضْرِبَنْ	په کارده چې خامخا وهل دې وکړي هغه يوه ښځه	په راتلونکي زمانه کې	صيغه واحده مؤنثه غائبه فعل امر غائب معلوم مؤکد په نون تاکيد خفيفه
لِأَضْرِبَنْ	په کارده چې خامخا وهل دې وکړم زه يو سړي يا زه يوه ښځه	په راتلونکي زمانه کې	صيغه واحد متکلم مشترک فعل امر غائب معلوم مؤکد په نون تاکيد خفيفه
لِنَضْرِبَنْ	په کارده چې خامخا وهل دې وکړو مونږ دوه سړي يا مونږ دوه ښځې يا ټول سړي يا ټولې ښځې	په راتلونکي زمانه کې	صيغه تثنيه و جمع متکلم مشترک مع الغير فعل امر غائب معلوم مؤکد په نون تاکيد خفيفه

باب اول صرف کبير امر غائب مجهول ثلاثي مجرد صحيح از باب فَعَلَ يَفْعِلُ

لِيُضْرَبْ	په کارده چې ووهل شي هغه يو سړي	په راتلونکي زمانه کې	صيغه واحد مذکر غائب فعل امر غائب مجهول

Maktaba Tul Ishaat.com

لِيُضْرَبَا	په کارده چې ووهل شي هغه دوه سړي	په راتلونکي زمانه کې	صیغه تثنیه مذکر غائبین فعل امر غائب مجهول
لِيُضْرَبُوْا	په کارده چې ووهل شي هغه ټول سړي	په راتلونکي زمانه کې	صیغه جمع مذکر غائبین فعل امر غائب مجهول
لِتُضْرَبْ	په کارده چې ووهل شي هغه یوه ښځه	په راتلونکي زمانه کې	صیغه واحده مؤنثه غائبه فعل امر غائب مجهول
لِتُضْرَبَا	په کارده چې ووهل شي هغه دوه ښځې	په راتلونکي زمانه کې	صیغه تثنیه مؤنثه غائبین فعل امر غائب مجهول
لِيُضْرَبْنَ	په کارده چې ووهل شي هغه ټولې ښځې	په راتلونکي زمانه کې	صیغه جمع مؤنثه غائبتین فعل امر غائب مجهول
لِأُضْرَبْ	په کارده چې ووهل شم زه یو سړي یا یوه ښځه	په راتلونکي زمانه کې	صیغه واحد متکلم مشترک فعل امر غائب مجهول
لِنُضْرَبْ	په کارده چې ووهل شو مونږ دوه سړي یا دوه ښځې یا ټول سړي یا ټولې ښځې	په راتلونکي زمانه کې	صیغه تثنیه و جمع متکلم مشترک مع الغیر فعل امر غائب مجهول

باب اول صرف کبیر فعل امر غائب مجهول مؤکد با لام و نون تاکید ثقیله

لِيُضْرَبَنَّ	په کارده چې خامخا ضرور دې ووهلې شي هغه یو سړي	په راتلونکي زمانه کې	صیغه واحد مذکر غائب فعل امر غائب مجهول مؤکد په نون تاکید ثقیله
لِيُضْرَبَانِّ	په کارده چې خامخا ضرور دې ووهلې شي هغه دوه سړي	په راتلونکي زمانه کې	صیغه تثنیه مذکر غائبین فعل امر غائب مجهول مؤکد په نون تاکید ثقیله
لِيُضْرَبُنَّ	په کارده چې خامخا ضرور دې ووهلې شي هغه ټول سړي	په راتلونکي زمانه کې	صیغه جمع مذکر غائبین فعل امر غائب مجهول مؤکد په نون تاکید ثقیله
لِتُضْرَبَنَّ	په کارده چې خامخا ضرور دې ووهلې شي هغه یوه ښځه	په راتلونکي زمانه کې	صیغه واحده مؤنثه غائبه فعل امر غائب مجهول مؤکد په نون تاکید ثقیله
لِتُضْرَبَانِّ	په کارده چې خامخا ضرور دې ووهلې شي هغه دوه ښځې	په راتلونکي زمانه کې	صیغه تثنیه مؤنثه غائبین فعل امر غائب مجهول مؤکد په نون تاکید ثقیله
لِيُضْرَبْنَانِّ	په کارده چې خامخا ضرور دې ووهلې شي هغه ټولې ښځې	په راتلونکي زمانه کې	صیغه جمع مؤنثه غائبتین فعل امر غائب مجهول مؤکد په نون تاکید ثقیله
لِأُضْرَبَنَّ	په کارده چې خامخا ضرور دې و وهلې شم زه یو سړي یا یوه ښځه	په راتلونکي زمانه کې	صیغه واحد متکلم مشترک فعل امر غائب مجهول مؤکد په نون تاکید ثقیله
لِنُضْرَبَنَّ	په کارده چې خامخا ضرور دې ووهلې شو مونږ دوه سړي یا مونږ دوه ښځې یا ټول سړي یا ټولې ښځې	په راتلونکي زمانه کې	صیغه تثنیه و جمع متکلم مشترک مع الغیر فعل امر غائب مجهول مؤکد په نون تاکید ثقیله

باب اول صرف کبیر فعل امر غائب مجهول مؤکد بانون تاکید خفیفه

لِيُضْرَبَنْ	په کارده چې خامخا دې ووهل شي هغه یو سړي	په راتلونکي زمانه کې	صیغه واحد مذکر غائب فعل امر غائب مجهول مؤکد په نون تاکید خفیفه
لِيُضْرَبُنْ	په کارده چې خامخا دې ووهل شي هغه ټول سړي	په راتلونکي زمانه کې	صیغه جمع مذکر غائبین فعل امر غائب مجهول مؤکد په نون تاکید خفیفه
لِتُضْرَبَنْ	په کارده چې خامخا دې ووهل شي هغه یوه ښځه	په راتلونکي زمانه کې	صیغه واحده مؤنثه غائبه فعل امر غائب مجهول مؤکد په نون تاکید خفیفه
لِأُضْرَبَنْ	په کارده چې خامخا دې ووهل شم زه یو سړي یا زه یوه ښځه	په راتلونکي زمانه کې	صیغه واحد متکلم مشترک فعل امر غائب مجهول مؤکد په نون تاکید خفیفه
لِنُضْرَبَنْ	په کارده چې خامخا دې ووهل شو مونږ دوه سړي یا مونږ دوه ښځې یا ټول سړي یا ټولې ښځې	په راتلونکي زمانه کې	صیغه تثنیه و جمع متکلم مشترک مع الغیر فعل امر غائب مجهول مؤکد په نون تاکید خفیفه

باب اول صرف کبیر فعل نهي حاضر معلوم ثلاثي مجرد صحیح از باب فَعَلَ يَفْعِلُ :

لَاتَضْرِبْ	وهل مه کوه ته یو سړي	په راتلونکي زمانه کې	صیغه واحد مذکر مخاطب فعل نهي حاضر معلوم
لَاتَضْرِبَا	وهل مه کوي تاسې دوه سړي	په راتلونکي زمانه کې	صیغه تثنیه مذکر مخاطبین فعل نهي حاضر معلوم
لَاتَضْرِبُوْا	وهل مه کوي تاسې ټول سړي	په راتلونکي زمانه کې	صیغه جمع مذکر مخاطبین فعل نهي حاضر معلوم
لَاتَضْرِبِيْ	وهل مه کوه ته یوه ښځه	په راتلونکي زمانه کې	صیغه واحده مؤنثه مخاطبه فعل نهي حاضر معلوم
لَاتَضْرِبَا	وهل مه کوي تاسې دوه ښځې	په راتلونکي زمانه کې	صیغه تثنیه مؤنثه مخاطبتین فعل نهي حاضر معلوم
لَاتَضْرِبْنَ	وهل مه کوي تاسې ټولې ښځې	په راتلونکي زمانه کې	صیغه جمع مؤنثه مخاطبتین فعل نهي حاضر معلوم

باب اول صرف کبیر فعل نهي حاضر معلوم مؤکد بنون تاکید ثقیله

لَاتَضْرِبَنَّ	بالکل وهل مه کوه ته یو سړي	په راتلونکي زمانه کې	صیغه واحد مذکر مخاطب فعل نهي حاضر معلوم مؤکد په نون تاکید ثقیله
لَاتَضْرِبَانِّ	بالکل وهل مه کوي تاسې دوه سړي	په راتلونکي زمانه کې	صیغه تثنیه مذکر مخاطبین فعل نهي حاضر معلوم مؤکد په نون تاکید ثقیله
لَاتَضْرِبُنَّ	بالکل وهل مه کوي تاسې ټول سړي	په راتلونکي زمانه کې	صیغه جمع مذکر مخاطبین فعل نهي حاضر معلوم مؤکد په نون تاکید ثقیله

Maktaba Tul Ishaat.com

لَاتَضْرِبِنَّ	بالکل وهل مه کوه ته یوه ښځه	په راتلونکي زمانه کې	صیغه واحده مؤنثه مخاطبه فعل نهي حاضر معلوم مؤکد په نون تاکید ثقیله
لَاتَضْرِبَانِّ	بالکل وهل مه کوي تاسې دوه ښځي	په راتلونکي زمانه کې	صیغه تثنیه مؤنثه مخاطبَتین فعل نهي حاضر معلوم مؤکد په نون تاکید ثقیله
لَاتَضْرِبْنَانِّ	بالکل وهل مه کوي تاسې ټولې ښځې	په راتلونکي زمانه کې	صیغه جمع مؤنثه مخاطبات فعل نهي حاضر معلوم مؤکد په نون تاکید ثقیله

باب اول صرف کبیر فعل نهي حاضر معلوم مؤکد با نون تاکید خفیفه

لَاتَضْرِبَنْ	هرګز مه وهه ته یو سړي	په راتلونکي زمانه کې	صیغه واحد مذکر مخاطب فعل امر حاضر معلوم مؤکد په نون تاکید خفیفه
لَاتَضْرِبُنْ	هرګز مه وهي تاسې دوه سړي	په راتلونکي زمانه کې	صیغه جمع مذکر مخاطبین فعل امر حاضر معلوم
لَاتَضْرِبِنْ	هرګز مه وهه ته یوه ښځه	په راتلونکي زمانه کې	صیغه واحده مؤنثه مخاطبه فعل امر حاضر معلوم

باب اول صرف کبیر فعل نهي حاضر مجهول ثلاثي مجرد صحیح از باب فَعَلَ یَفْعِلُ

لَاتُضْرَبْ	ودې ونه وهلې شي ته یو سړي	په راتلونکي زمانه کې	صیغه واحد مذکر مخاطب فعل نهي حاضر مجهول
لَاتُضْرَبَا	ودې ونه وهلې شي تاسې دوه سړي	په راتلونکي زمانه کې	صیغه تثنیه مذکر مخاطَبین فعل نهي حاضر مجهول
لَاتُضْرَبُوْا	ودې ونه وهلې شي تاسې ټول سړي	په راتلونکي زمانه کې	صیغه جمع مذکر مخاطبین فعل نهي حاضر مجهول
لَاتُضْرَبِيْ	ودې ونه وهلې شي ته یوه ښځه	په راتلونکي زمانه کې	صیغه واحده مؤنثه مخاطبه فعل نهي حاضر مجهول
لَاتُضْرَبَا	ودې ونه وهلې شي تاسې دوه ښځي	په راتلونکي زمانه کې	صیغه تثنیه مؤنثه مخاطَبتین فعل نهي حاضر مجهول
لَاتُضْرَبْنَ	ودې ونه وهلې شي تاسې ټولې ښځې	په راتلونکي زمانه کې	صیغه جمع مؤنثه مخاطبات فعل نهي حاضر مجهول

باب اول صرف کبیر فعل نهي حاضر مجهول مؤکد بنون تاکید ثقیله

لَاتُضْرَبَنَّ	بالکل دې ونه وهلې شي ته یو سړي	په راتلونکي زمانه کې	صیغه واحد مذکر مخاطب فعل نهي حاضر مجهول مؤکد په نون تاکید ثقیله
لَاتُضْرَبَانِّ	بالکل دې ونه وهلې شي تاسو دوه سړي	په راتلونکي زمانه کې	صیغه تثنیه مذکر مخاطَبین فعل نهي حاضر مجهول مؤکد په نون تاکید ثقیله
لَاتُضْرَبُنَّ	بالکل دې ونه وهلې شي تاسې ټول سړي	په راتلونکي زمانه کې	صیغه جمع مذکر مخاطبین فعل نهي حاضر مجهول مؤکد په نون تاکید ثقیله

لَاتُضْرَبِنَّ	بالکل دې ونه وهلې شي ته یوه ښځه	په راتلونکي زمانه کې	صیغه واحده مؤنثه مخاطبه فعل نهي حاضر مجهول مؤکد په نون تاکید ثقیله
لَاتُضْرَبَانِّ	بالکل دې ونه وهلې شي تاسې دوه ښځې	په راتلونکي زمانه کې	صیغه تثنیه مؤنثه مخاطبتین فعل نهي حاضر مجهول مؤکد په نون تاکید ثقیله
لَاتُضْرَبْنَانِّ	بالکل دې ونه وهلې شي تاسې ټولې ښځې	په راتلونکي زمانه کې	صیغه جمع مؤنثه مخاطبات فعل نهي حاضر مجهول مؤکد په نون تاکید ثقیله

باب اول صرف کبیر فعل نهي حاضر مجهول مؤکد با نون تاکید خفیفه

لَاتُضْرَبَنْ	هرګز دې ونه وهلې شي ته یو سړي	په راتلونکي زمانه کې	صیغه واحد مذکر مخاطب فعل نهي حاضر مجهول مؤکد په نون تاکید خفیفه سره
لَاتُضْرَبُنْ	هرګز دې ونه وهلې شي تاسې دوه سړي	په راتلونکي زمانه کې	صیغه جمع مذکر مخاطبین فعل نهي مجهول
لَاتُضْرَبِنْ	هرګز دې ونه وهلې شي ته یوه ښځه	په راتلونکي زمانه کې	صیغه واحده مؤنثه مخاطبه فعل نهي مجهول

باب اول صرف کبیر فعل نهي غائب معلوم ثلاثي مجرد صحیح از باب فَعَلَ یَفْعِلُ

لَایَضْرِبْ	وهل دې نه کوي هغه یو سړي	په راتلونکي زمانه کې	صیغه واحد مذکر غائب فعل نهي غائب معلوم
لَایَضْرِبَا	وهل دې نه کوي هغه دوه سړي	په راتلونکي زمانه کې	صیغه تثنیه مذکر غائبین فعل نهي غائب معلوم
لَایَضْرِبُوْا	وهل دې نه کوي هغه ټول سړي	په راتلونکي زمانه کې	صیغه جمع مذکر غائبین فعل نهي غائب معلوم
لَاتَضْرِبْ	وهل دې نه کوي هغه یوه ښځه	په راتلونکي زمانه کې	صیغه واحده مؤنثه غائبه فعل نهي غائب معلوم
لَاتَضْرِبَا	وهل دې نه کوي هغه دوه ښځې	په راتلونکي زمانه کې	صیغه تثنیه مؤنثه غائبین فعل نهي غائب معلوم
لَایَضْرِبْنَ	وهل دې نه کوي هغه ټولې ښځې	په راتلونکي زمانه کې	صیغه جمع مؤنثه غائبات فعل نهي غائب معلوم
لَا اَضْرِبْ	وهل دې نه کوم زه یو سړي یا زه یوه ښځه	په راتلونکي زمانه کې	صیغه واحد متکلم مشترک فعل نهي غائب معلوم
لَانَضْرِبْ	وهل دې نه کوو مونږ دوه سړي یا مونږ دوه ښځې یا ټول سړي یا ټولې ښځې	په راتلونکي زمانه کې	صیغه تثنیه و جمع متکلم مشترک مع الغیر فعل نهي غائب معلوم

باب اول صرف کبیر فعل نهي غائب معلوم مؤکد با لام و نون تاکید ثقیله

لَایَضْرِبَنَّ	بالکل دې وهل نه کوي هغه یو سړي	په راتلونکي زمانه کې	صیغه واحد مذکر غائب فعل نهي غائب معلوم مؤکد په نون تاکید ثقیله

Maktaba Tul Ishaat.com

لَايَضْرِبَانِ	بالکل دې وهل نه کوي هغه دوه سړي	په راتلونکي زمانه کې	صیغه تثنیه مذکر غائبین فعل نهي غائب معلوم مؤکد په نون تاکید ثقیله
لَايَضْرِبُنَّ	بالکل دې وهل نه کوي هغه ټول سړي	په راتلونکي زمانه کې	صیغه جمع مذکر غائبین فعل نهي غائب معلوم مؤکد په نون تاکید ثقیله
لَاتَضْرِبَنَّ	بالکل دې وهل نه کوي هغه یوه ښځه	په راتلونکي زمانه کې	صیغه واحده مؤنثه غائبه فعل نهي غائب معلوم مؤکد په نون تاکید ثقیله
لَاتَضْرِبَانِّ	بالکل دې وهل نه کوي هغه دوه ښځې	په راتلونکي زمانه کې	صیغه تثنیه مؤنثه غائبین فعل نهي غائب معلوم مؤکد په نون تاکید ثقیله
لَايَضْرِبْنَانِّ	بالکل دې وهل نه کوي هغه ټولې ښځې	په راتلونکي زمانه کې	صیغه جمع مؤنثه غائبتین فعل نهي غائب معلوم مؤکد په نون تاکید ثقیله
لَااَضْرِبَنَّ	بالکل دې وهل نه کوم زه یو سړي یا زه یوه ښځه	په راتلونکي زمانه کې	صیغه واحد متکلم مشترک فعل نهي غائب معلوم مؤکد په نون تاکید ثقیله
لَانَضْرِبَنَّ	بالکل دې وهل نه کوو مونږ دوه سړي یا مونږ دوه ښځې یا ټول سړي یا ټولې ښځې	په راتلونکي زمانه کې	صیغه تثنیه و جمع متکلم مشترک مع الغیر فعل نهي غائب معلوم مؤکد په نون تاکید ثقیله

فعل نهي غائب معلوم مؤکد بانون تاکید خفیفه

لَايَضْرِبَنْ	هرګز دې وهل نه کوي هغه یو سړي	په راتلونکې زمانه کې	صیغه واحد مذکر غائب فعل امر غائب معلوم مؤکد په نون تاکید خفیفه
لَايَضْرِبُنْ	هرګز دې وهل نه کوي هغه ټول سړي	په راتلونکې زمانه کې	صیغه جمع مذکر غائبین فعل امر غائب معلوم مؤکد په نون تاکید خفیفه
لَاتَضْرِبَنْ	هرګز دې وهل نه کوي هغه یوه ښځه	په راتلونکې زمانه کې	صیغه واحده مؤنثه غائبه فعل امر غائب معلوم مؤکد په نون تاکید خفیفه
لَااَضْرِبَنْ	هرګز دې وهل نه کوم زه یو سړي یا یوه ښځه	په راتلونکې زمانه کې	صیغه واحد متکلم مشترک فعل امر غائب معلوم مؤکد په نون تاکید خفیفه
لَانَضْرِبَنْ	هرګز دې وهل نه کوو مونږ دوه سړي یا مونږ دوه ښځې یا ټول سړي یا ټولې ښځې	په راتلونکې زمانه کې	صیغه تثنیه وجمع متکلم مشترک مع الغیر فعل امر غائب معلوم مؤکد په نون تاکید خفیفه

باب اول صرف کبیر فعل نهي غائب مجهول ثلاثي مجرد صحیح از باب فَعَلَ يَفْعِلُ

لَايُضْرَبْ	نه دې وهلې شي هغه یو سړي	په راتلونکي زمانه کې	صیغه واحد مذکر غائب فعل نهي غائب مجهول
لَايُضْرَبَا	نه دې وهلې شي هغه دوه سړي	په راتلونکي زمانه کې	صیغه تثنیه مذکر غائبین فعل نهي غائب مجهول
لَايُضْرَبُوْا	نه دې وهلې شي هغه ټول سړي	په راتلونکي زمانه کې	صیغه جمع مذکر غائبین فعل نهي غائب مجهول

لَاتُضْرَبْ	نه دې وهلې شي هغه يوه ښځه	په راتلونکي زمانه کې	صيغه واحده مؤنثه غائبه فعل نهي غائب مجهول
لَاتُضْرَبَا	نه دې وهلې شي هغه دوه ښځې	په راتلونکي زمانه کې	صيغه تثنيه مؤنثه غائبين فعل نهي غائب مجهول
لَايُضْرَبْنَ	نه دې وهلې شي هغه ټولې ښځې	په راتلونکي زمانه کې	صيغه جمع مؤنثه غائبات فعل نهي غائب مجهول
لَا أُضْرَبْ	نه دې وهلې شم زه يو سړي يا يوه ښځه	په راتلونکي زمانه کې	صيغه واحد متکلم مشترک فعل نهي غائب مجهول
لَانُضْرَبْ	نه دې وهلې شو مونږ دوه سړي يا دوه ښځې يا ټول سړي يا ټولې ښځې	په راتلونکي زمانه کې	صيغه تثنيه و جمع متکلم مشترک مع الغير فعل نهي غائب مجهول

باب اول صرف کبير فعل نهي غائب مجهول مؤکد با لام و نون تاکيد ثقيله :

لَايُضْرَبَنَّ	بالکل دې نه شي وهلې هغه يو سړي	په راتلونکي زمانه کې	صيغه واحد مذکر غائب فعل نهي غائب مجهول مؤکد په نون تاکيد ثقيله
لَايُضْرَبَانِّ	بالکل دې نه شي وهلې هغه دوه سړي	په راتلونکي زمانه کې	صيغه تثنيه مذکر غائبين فعل نهي غائب مجهول مؤکد په نون تاکيد ثقيله
لَايُضْرَبْنَّ	بالکل دې نه شي وهلې هغه ټول سړي	په راتلونکي زمانه کې	صيغه جمع مذکر غائبين فعل نهي غائب مجهول مؤکد په نون تاکيد ثقيله
لَاتُضْرَبَنَّ	بالکل دې نه شي وهلې هغه يوه ښځه	په راتلونکي زمانه کې	صيغه واحده مؤنثه غائبه فعل نهي غائب مجهول مؤکد په نون تاکيد ثقيله
لَاتُضْرَبَانِّ	بالکل دې نه شي وهلې هغه دوه ښځې	په راتلونکي زمانه کې	صيغه تثنيه مؤنثه غائبين فعل نهي غائب مجهول مؤکد په نون تاکيد ثقيله
لَايُضْرَبْنَانِّ	بالکل دې نه شي وهلې هغه ټولې ښځې	په راتلونکي زمانه کې	صيغه جمع مؤنثه غائبتين فعل نهي غائب مجهول مؤکد په نون تاکيد ثقيله
لَاأُضْرَبَنَّ	بالکل دې نه شم وهلې زه يو سړي يا زه يوه ښځه	په راتلونکي زمانه کې	صيغه واحد متکلم مشترک فعل نهي غائب مجهول مؤکد په نون تاکيد ثقيله
لَانُضْرَبَنَّ	بالکل دې نه شو وهلې مونږ دوه سړي يا مونږ دوه ښځې يا ټول سړي يا ټولې ښځې	په راتلونکي زمانه کې	صيغه تثنيه و جمع متکلم مشترک مع الغير فعل نهي غائب مجهول مؤکد په نون تاکيد ثقيله

فعل نهي غائب مجهول مؤکد با نون تاکيد خفيفه

لَايُضْرَبَنْ	هيڅکله دې نه شي وهلې هغه يو سړي	په راتلونکي زمانه کې	صيغه واحد مذکر غائب فعل نهي غائب مجهول مؤکد په نون تاکيد خفيفه
لَايُضْرَبُنْ	هيڅکله دې نه شي وهلې هغه ټول سړي	په راتلونکي زمانه کې	صيغه جمع مذکر غائبين فعل نهي غائب مجهول مؤکد په نون تاکيد خفيفه

Maktaba Tul Ishaat.com

لَاَنْضُرَبَنْ	هیڅکله دې نه شي وهلې هغه یوه ښځه	په راتلونکې زمانه کې	صیغه واحده مؤنثه غائبه فعل نهي غائب مجهول مؤکد په نون تاکید خفیفه
لَاَاُضْرَبَنْ	هیڅکله دې نه شم وهلې زه یو سړي یا یوه ښځه	په راتلونکې زمانه کې	صیغه واحد متکلم مشترک فعل نهي غائب مجهول مؤکد په نون تاکید خفیفه
لَانُضْرَبَنْ	هیڅکله دې نه شو وهلې مونږ دوه سړي یا مونږ دوه ښځې یا ټول سړي یا ټولې ښځې	په راتلونکې زمانه کې	صیغه تثنیه وجمع متکلم مشترک مع الغیر فعل نهي غائب مجهول مؤکد په نون تاکید خفیفه

اسم ظرف ثلاثي مجرد صحیح از باب فَعَلَ یَفْعِلُ

مَضْرِبٌ	د وهلو یو ځای	صیغه واحد اسم ظرف ثلاثي مجرد صحیح از باب فَعَلَ یَفْعِلُ
مَضْرِبَانِ	د وهلو دوه ځایونه	صیغه تثنیه اسم ظرف ثلاثي مجرد صحیح از باب فَعَلَ یَفْعِلُ
مَضَارِبُ	د وهلو ټول ځایونه	صیغه جمع مکسر اسم ظرف ثلاثي مجرد صحیح از باب فَعَلَ یَفْعِلُ
مُضَيْرِبٌ	د لږ وهلو یو ځای	صیغه واحد مصغر اسم ظرف ثلاثي مجرد صحیح از باب فَعَلَ یَفْعِلُ

صرف کبیر اسم آله صغری ثلاثي مجرد صحیح از باب فَعَلَ یَفْعِلُ

مِضْرَبٌ	د وهلو یوه وړه آله	صیغه واحد اسم آله صغری ثلاثي مجرد صحیح از باب فَعَلَ یَفْعِلُ
مِضْرَبَانِ	د وهلو دوه وړې آلې	صیغه تثنیه اسم آله صغری ثلاثي مجرد صحیح از باب فَعَلَ یَفْعِلُ
مَضَارِبُ	د وهلو ټولې وړې آلې	صیغه جمع مکسر اسم آله صغری ثلاثي مجرد صحیح از باب فَعَلَ یَفْعِلُ
مُضَيْرِبٌ	د لږو وهلو یوه وړه آله	صیغه واحد مصغر اسم آله صغری ثلاثي مجرد صحیح از باب فَعَلَ یَفْعِلُ

صرف کبیر اسم آله وسطی ثلاثي مجرد صحیح از باب فَعَلَ یَفْعِلُ

مِضْرَبَةٌ	د وهلو یوه درمیانه آله	صیغه واحد اسم آله وسطی ثلاثي مجرد صحیح از باب فَعَلَ یَفْعِلُ
مِضْرَبَتَانِ	د وهلو دوه درمیانې آلې	صیغه تثنیه اسم آله وسطی ثلاثي مجرد صحیح از باب فَعَلَ یَفْعِلُ
مَضَارِبُ	د وهلو ټولې درمیانې آلې	صیغه جمع مکسر اسم آله وسطی ثلاثي مجرد صحیح از باب فَعَلَ یَفْعِلُ
مُضَيْرِبَةٌ	د لږو وهلو یوه درمیانه آله	صیغه واحد مصغر اسم آله وسطی ثلاثي مجرد صحیح از باب فَعَلَ یَفْعِلُ

صرف کبیر اسم آله کبری ثلاثي مجرد صحیح از باب فَعَلَ یَفْعِلُ

مِضْرَابٌ	د وهلو یوه لویه آله	صیغه واحد اسم آله کبری ثلاثي مجرد صحیح از باب فَعَلَ یَفْعِلُ
مِضْرَابَانِ	د وهلو دوه لویې آلې	صیغه تثنیه اسم آله کبری ثلاثي مجرد صحیح از باب فَعَلَ یَفْعِلُ
مَضَارِيْبُ	د وهلو ټولې لویې آلې	صیغه جمع مکسر اسم آله کبری ثلاثي مجرد صحیح از باب فَعَلَ یَفْعِلُ
مُضَيْرِيْبٌ	د لږو وهلو یوه لویه آله	صیغه واحد مصغر اسم آله کبری ثلاثي مجرد صحیح از باب فَعَلَ یَفْعِلُ

اسم تفضيل المذكر ثلاثي مجرد صحيح از باب فَعَلَ يَفْعِلُ

اَضْرَبُ	زيات وهلو والا يو سړي	صيغه واحد مذكر اسم تفضيل ثلاثي مجرد
اَضْرَبَانِ	زيات وهلو والا دوه سړي	صيغه تثنيه مذكر اسم تفضيل ثلاثي مجرد
اَضْرَبُوْنَ	زيات وهلو والا ټول سړي	صيغه جمع مذكر سالم اسم تفضيل ثلاثي مجرد
اَضَارِبُ	زيات وهلو والا ټول سړي	صيغه جمع مذكر مكسر اسم تفضيل ثلاثي مجرد
اُضَيْرِبُ	لږ زيات وهلو والا يو سړي	صيغه واحد مذكر مصغر اسم تفضيل ثلاثي مجرد

اسم تفضيل المؤنث ثلاثي مجرد صحيح از باب فَعَلَ يَفْعِلُ

اَضْرَبُ	زيات وهلو والا يوه ښځه	صيغه واحد مؤنث اسم تفضيل ثلاثي مجرد
اَضْرَبَانِ	زيات وهلو والا دوه ښځې	صيغه تثنيه مؤنث اسم تفضيل ثلاثي مجرد
اَضْرَبُوْنَ	زيات وهلو والا ټولې ښځې	صيغه جمع مؤنث سالم اسم تفضيل ثلاثي مجرد
اَضَارِبُ	زيات وهلو والا ټول ښځې	صيغه جمع مؤنث مكسر اسم تفضيل ثلاثي مجرد
اُضَيْرِبُ	لږ زيات وهلو والا يوه ښځه	صيغه واحد مؤنث مصغر اسم تفضيل ثلاثي مجرد

فعل التعجب ثلاثي مجرد صحيح از باب فَعَلَ يَفْعِلُ

مَا اَضْرَبَهُ	څه ښائسته وهل کړې دی هغه يو سړي	صيغه واحد مذكر غائب فعل تعجب ثلاثي مجرد
وَاَضْرِبْ بِهِ	څه ښائسته وهل کړې دی هغه يو سړي	صيغه واحد مذكر غائب فعل تعجب ثلاثي مجرد
وَضُرُبَ	څه ښائسته وهل کړې دی هغه يو سړي	صيغه واحد مذكر غائب فعل تعجب ثلاثي مجرد

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ
مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى اِبْرٰهِيْمَ وَعَلٰى اٰلِ
اِبْرٰهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ
اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ
كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى اِبْرٰهِيْمَ وَعَلٰى اٰلِ اِبْرٰهِيْمَ
اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ

Maktaba Tul Ishaat.com

د ضمائرو بحث :

د اسم تقسیم : اسم په دوه قسمه دي : (١) ظاهر ، (٢) ضمير :

اسم ضمير : دا هغه اسم دی چې په دې کې د متکلم ، مخاطب يا د غائب حال بيان کړې شي لکه اَنَا ، اَنْتَ ، هُوَ دا ټول اسم ضمير دی ددې نه علاوه ټول اسم ظاهر دی .

بيا د اسم ضمير دري قسمونه دي : (١) مرفوع ، (٢) منصوب ، (٣) مجرور .

مرفوع د فاعل علامت دی ، منصوب د مفعول علامت دی ، او مجرور د مضاف اليه علامت دی .

بيا د مرفوع دوه اقسام دی : (١) مرفوع متصل ، (٢) مرفوع منفصل .

(١) ضمير مرفوع متصل : دا هغه دی چې د فعل سره يو ځای شوې وي او په ترکيب کې فاعل يا نائب فاعل واقع وي .

د مرفوع متصل مثال : ضَرَبَ ، ضَرَباَ ، ضَرَبُوْا ، ضَرَبَتْ ، ضَرَبَتَا ، ضَرَبْنَ ، ضَرَبْتَا ، ضَرَبْتُمْ ، ضَرَبْتِ ، ضَرَبْتُمَا ، ضَرَبْتُنَّ ، ضَرَبْتُ ، ضَرَبْنَا .

(٢) ضمير مرفوع منفصل : دا هغه دی چې د فعل نه جدا وي .

د ضمير مرفوع منفصل مثال : هُوَ ، هُمَا ، هُمْ ، هِيَ ، هُمَا ، هُنَّ ، اَنْتَ ، اَنْتُمَا ، اَنْتُمْ ، اَنْتِ ، اَنْتُمَا ، اَنْتُنَّ ، اَنَا ، نَحْنُ .

د ضمير مرفوع متصل اقسام : د ضمير مرفوع متصل دوه قسمونه دي : (١) ضمير بارز ، (٢) ضمير مستتر :

(١) بارز : د بارز لغوي معنی ظاهر يدونکي او ښکاره کيدونکي ده او په اصطلاح کې بارز هغه ضمير وي چې د فعل د لام کلمې سره يو ځای شوې وي او ددې نه په غير فعل تام نه وي لکه : ضَرَبَا ، ضَرَبُوْا .

قاعده : هغه حروف چې د ضَرَبَ په اخر کې راځي بغير د تاء تانيث ساکنه نه دا ټول ضمير مرفوع متصل بارز دی .

(٢) مستتر : دا په لغت کې پټ شوې ته وايي او په اصطلاح کې دا هغه ضمير وي چې ظاهر نه ويل کيږي بلکې د خپل طرف نه معتبر کړې شي .

د مستتر اقسام : مستتر په دوه قسمه دی : (١) جائز الاستتار ، (٢) واجب الاستتار :

(١) جائز الاستتار : په واحد مذکر غائب او واحده مؤنثه غائبه مضارع اور ماضي کې وي ، او د صفت په صيغه کې مطلقاً جائز دی ، (٢) واجب الاستتار : دا په پنځو ځايونو کې وي او هغه پنځه ځايونه دادی : (١) واحد متکلم ، (٢) جمع متکلم فعل مضارع معلوم کې ، (٣) واحد مذکر مخاطب فعل مضارع معلوم کې ، (٤) واحد مذکر مخاطب امر حاضر معلوم کې ، (٥) اسماء افعال چې په معنی د امر وي .

د منصوب اقسام : بيا د منصوب دوه قسمه دي : (١) منصوب متصل ، (٢) منصوب منفصل :

(١) منصوب متصل : دا هغه ضمير وي چې د خپل عامل سره يو ځای شوې وي او داد فعلونو او د حروف مشبه بالفعل او د اسماء افعال نه پس راځي .

د افعالو مثال لکه : ضَرَبَهُ . ضَرَبَهُمَا . ضَرَبَهُمْ . ضَرَبَهَا . ضَرَبَهُمَا . ضَرَبَهُنَّ . ضَرَبَكَ . ضَرَبَكُمَا . ضَرَبَكُمْ . ضَرَبَكِ . ضَرَبَكُنَّ . ضَرَبَنِيْ . ضَرَبَنَا .

د حروف مشبه بالفعل مثال لکه : اِنَّهُ . اِنَّهُمَا . اِنَّهُمْ . اِنَّهَا . اِنَّهُمَا . اِنَّهُنَّ . اِنَّكَ . اِنَّكُمَا . اِنَّكُمْ . اِنَّكِ . اِنَّكُمَا . اِنَّكُنَّ . اِنَّنِيْ . اِنَّنَا .

حروف مشبه بالفعل ټول شپږ (٦) دي : اِنَّ . اَنَّ . كَاَنَّ . لَيْتَ . لٰكِنَّ . لَعَلَّ .

د اسماء افعال مثال لکه : رُوَيْدَهُ . رُوَيْدَهُمَا . رُوَيْدَهُمْ . رُوَيْدَهَا . رُوَيْدَهُمَا . رُوَيْدَهُنَّ . رُوَيْدَكَ . رُوَيْدَكُمَا . رُوَيْدَكُمْ . رُوَيْدَكِ . رُوَيْدَكُمَا . رُوَيْدَكُنَّ . رُوَيْدَنِيْ . رُوَيْدَنَا .

(۲) منصوب منفصل : دا هغه ضمیر دی چې د خپل عامل نه جدا وي لکه : اِيَّاهُ . اِيَّاهُمَا . اِيَّاهُمْ . اِيَّاهَا . اِيَّاهُمَا . اِيَّاهُنَّ . اِيَّاكَ . اِيَّاكُمَا . اِيَّاكُمْ . اِيَّاكِ . اِيَّاكُمَا . اِيَّاكُنَّ . اِيَّايَ . اِيَّانَا .

(۳) مجرور : ددې یو قسم دی مجرور متصل : دا هغه ضمیر وي چې د حروف جاره او د اسماء مضاف نه پس راځي او په ترکیب کې مضاف الیه واقع وي .

د اسماء مضاف مثال لکه : غُلَامُهُ . غُلَامُهُمَا . غُلَامُهُمْ . غُلَامُهَا . غُلَامُهُمَا . غُلَامُهُنَّ . غُلَامُكَ . غُلَامُكُمَا . غُلَامُكُمْ . غُلَامُكِ . غُلَامُكُمَا . غُلَامُكُنَّ . غُلَامُنِيْ . غُلَامُنَا .

د حروف جاره مثال لکه : لَهُ . لَهُمَا . لَهُمْ . لَهَا . لَهُمَا . لَهُنَّ . لَكَ . لَكُمَا . لَكُمْ . لَكِ . لَكُمَا . لَكُنَّ . لِيْ . لَنَا .

د حروف جارو تعداد : حروف جاره ټول اولس دي چې په لاندې شعر کې ذکر دی :

باؤ . تاؤ . کاف . و لام . واو . و منذ . و مذ . خلا رب . حاشا . من . عدا . في . عن . علی . حتی . الی

د پنځه قسمونو تعریف او ترکیب :

ضمیر مرفوع متصل : دا هغه دی چې د فعل سره یو ځای شوې وي او په ترکیب کې فاعل یا نائب فاعل واقع وي لکه ضَرَبْتَ . ضُرِبْتَ .

ضمیر مرفوع منفصل : دا هغه دی چې د فعل نه جدا وي که چیرته داد فعل نه مخکې وي او په اول د کلام کې وي نو په ترکیب کې به مبتداء واقع کیږي لکه هم یجادلون – انت مذکر او که چیرته د فعل نه پس وي نو فاعل به وي لکه ما قام الا انا – اراغب انت ، یا تاکید وي لکه قمت انت .

ضمیر منصوب متصل : دا هغه دی چې د فعل یا د اسم فعل سره یو ځای شوې وي او مفعول به واقع وي لکه ضربک یا د حرف مشبه بالفعل سره یو ځای شوې وي او اسم واقع وي لکه انک .

ضمیر منصوب منفصل : دا هغه دی چې د فعل نه جدا وي او په ترکیب کې همیشه مفعول واقع کیږي برابره خبره ده که د فعل نه مقدم وي او یا مؤخر لکه ایاک نعبد .

ضمیر مجرور متصل : دا هغه دی چې د حرف جر یا مضاف سره یو ځای شوې وي لکه لي . غلامي .

Maktaba Tul Ishaat.com

باب اول اَلضَّرْبُ زدن:

د نون تنوين قانون / (۲) حکم

قانون : هرنون تنوين مفتوح آن را با الف بدل کردن کثير است و ساقط کردن قليل است و اگر مضموم يا مکسور باشد آنرا با حرف علت بدل کردن قليل است و ساقط کردن کثير است در حالت وقف .

ترجمه : هر نون تنوين مفتوحه په الف سره بدلول ډير دی او غورځول يې کم دی او که چيرته مضموم يا مکسور وي دا په حرف علت بدلول کم دی او غورځول يې ډير دی په حالت د وقف کې .

نوم : ددې قانون نوم دی د نون تنوين قانون ددې د پاره دوه حکمه دي :

(۱) حکم : په حالت د وقف کې نون تنوين مفتوح په الف سره بدلول ډير دی او غورځول يې کم دی .

اتفاقي مثال : عَلِيْمًا حَكِيْمًا ، عَلِيْمَا حَكِيْمَا ويل ډير او عَلِيْمُ حَكِيْمُ ويل کم دی .

(۲) حکم : نون تنوين مضموم او مکسور په حالت د وقف کې په حرف علت سره بدلول کم دی او غورځول يې ډير دی .

اتفاقي مثال : عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ، عَلِيْمُوْ ، حَكِيْمُوْ ويل کم او عَلِيْمْ ، حَكِيْمْ ويل ډير دی .

موزون	وزن	سه اقسام	در اصل	قانون
خَدَمُوْ بغير ماضي	فَعَلٌ		خَدَمٌ	نون تنوين
اَلْسِنَتِيْ	اَفْعِلَةٌ		اَلْسِنَةٌ	
قَرَبُوْ	فَعْلٌ	مصدر	قَرْبٌ	
قِتَالِيْ	فِعَالٌ	مصدر	قِتَالٌ	
مَنَعَتَابِي ماضي	فَعَلَةٌ	اسم فاعل	مَنَعَةٌ	
ضَرَبَتَا	فَعَلَةٌ	اسم فاعل	ضَرَبَةٌ	
ضَرَبَتَا	فَعَلَتَا	ماضي معلوم		
اَرْبَابُوْ	اَفْعَالٌ	جمع	اَرْبَابٌ	
قُرْبَانِيْ	فُعْلَانٌ	مصدر	قُرْبَانٌ	

د ضَرَبَ بناء : ضَرَبَ د ضَرْبًا مصدر نه جوړولې کيږي ، په دا سې طريقې سره چې اول حرف به په خپل حالت پرېښودلې شي او دوهم حرف ته به فتحه ورکړې شي او تنوين تمکن علامت د اسميت به يې حذف کړې شي او آخر حرف به يې په فتحې سره مبني کړې شي نو د ضَرْبًا نه به ضَرَبَ فعل ماضي جوړ شي .

ضَرَبَا : ضَرَبَا د ضَرَبَ نه جوړولې کيږي ځکه چې هره تثنيه او جمع د خپل واحد نه جوړيږي نو د ضَرَبَ په آخر کې الف علامه د تثنيه او ضمير د فاعل راوړې شي نو ضَرَبَا به ترې جوړ شي .

ضَرَبُوْا : ضَرَبُوْا د ضَرَبَ نه جوړولې کيږي په داسې طريقې سره چې د ضَرَبَ په آخر کې واو ساکنه علامه د جمع مذکر او ضمير د فاعل د ماقبل په ضمې سره به راوړې شي نو د ضَرَبَ نه به ضَرَبُوْا جوړ شي .

د ضَرَبَتْ بناء : ضَرَبَتْ د ضَرَبَ نه جوړولې کيږي په داسې طريقې سره چې مؤنث د مذکر فرع ده او هره فرعه د خپل اصل نه جوړيږي نو تاء ساکنه صرف علامت د تانيث به يې د دې په آخر کې راوړې شي نو د ضَرَبَ نه به ضَرَبَتْ جوړ شي .

ضَرَبَتَا : ضَرَبَتَا د ضَرَبَتْ نه جوړولې کيږي په داسې طريقې سره چې الف علامت د تثنيه او ضمير د فاعل به يې په آخر کې راوړو نو د ضَرَبَتْ نه به ضَرَبَتَا جوړ شي .

ضَرَبْنَ : ضَرَبْنَ د ضَرَبَتْ نه جوړولې کيږي نون مفتوحه علامت د جمع مؤنث او ضمير د فاعل به يې په آخر کې راوړې شي نو ضَرَبْتُنَّ به شي اوس دوه علامې د تانيث (تاء او نون) په فعل کې جمع شوي چې دا ناجائز دی نو ددې وجې نه يوه تاء به حذف کړې شي نو ضَرَبْنَ به شي بيا څلور حرکات مسلسل سره جمع شي نو د ضَرَبْنَ دوهم قانون به جاري کړې شي نو ضَرَبْنَ به شي .

فائده : د ضَرَبْنَ په بناء کې دوه شيان دي : (۱) د تاء تانيث حذف کول ، (۲) لام کلمه (ب) ساکن کول نو ددې وجې نه د ضَرَبْنَ دوه قانونه دی .

د ضَرَبْنَ اول قانون	(۱) حکم	(۱) شرط

قانون : اجتماع دو علامت تانيث در فعل مطلقاً ممنوع است و در اسم وقتيكه از يك جنس باشد .

ترجمه : اجتماع د دوو علامو د تانيث په فعل کې مطلقاً ممنوع دی او په اسم کې هم ممنوع دی خو په هغه وخت کې چې د يو جنس نه وي .

نوم : ددې قانون نوم دی د ضَرَبْنَ اول قانون چې ددې د پاره يو حکم دی د فعل د پاره هم يو شرط او د اسم د پاره هم يو شرط دی .

حکم : ددې حکم دا دی چې د دوه علامو د تانيث نه يوه حذف کول واجب دی .

شرط : د فعل د پاره شرط دا دی چې دوه علامې د تانيث مطلقاً جمع وي .

احترازي مثال : ضَرَبَتْ . **اتفاقي مثال** : ضَرَبْتُنَّ نه ضَرَبْنَ شو .

Maktaba Tul Ishaat.com

د اسم د پاره شرط دادی چې دوه علامې د تانیث د یو جنس نه په کې جمع وي.

احترازي مثال : ضُرَبَيَاتٌ. **اتفاقي مثال** : ضَارِبَتَاتٌ نه ضَارِبَاتٌ شو.

قاعده : الف او واو چې په فعل کې راشي دا ضمیر د فاعل وي او که چیرته الف او واو په اسم کې راشي نو بالاتفاق نه شي کیدې.

قاعده : که چیرته د واو نه پس الف وي نو واو د جمع به وي ورنه واو عاطفه به وي.

سوال : په قرآن مجید کې بعضې داسې مثالونه موجود دی چې چیرته د مفرد صیغه وي او ددې نه پس الف موجود وي او د جمع صیغه وي او هلته الف نه وي لکه وما کنت ترجوا په دې مثال کې ترجوا مفرد دی ددې نه پس الف هم دی او کنا ندعو کې ندعو جمع ده لیکن ددې نه پس الف نشته لهذا ستا دا خبره چې که چیرته د واو نه پس الف وي هغه به د جمع صیغه وي صحیح نه شوه؟

(۱) جواب : د قرآن کریم رسم الخط داسې دی د قرآن کریم په رسم الخط باندې سوال نه وارديږي ځکه چې د قرآن پاک رسم الخط سماعي دي نه قیاسي. **(۲) جواب** : روح المعاني کې ذکر دی چې قرآن مجید اصل دی او صرف او نحو فرع دی ځکه چې د صرف او نحو قوانین د قرآن مجید نه مستنبط دی لهذا که چیرته په قرآن مجید کې د صرفي یا د نحوي قانون خلاف واقع شي نو هلته د قرآن کریم غلطي به نه شي تصور کولې.

فائده : الف علامت د تثنیه او واو د جمع په دې باره کې اختلاف دی : **اول مذهب** : محققین وایي چې په ضَرَبَا کې الف علامت د تثنیې دی او ضمیر د فاعل هم دی او په ضَرَبُوْا کې واو علامت د جمع مذکر دی او ضمیر د فاعل هم دی. **دوهم مذهب** : نور حضرات وایي چې په ضَرَبَا او ضَرَبُوْا کې الف او واو علامت دی مثلاً الف دا واضح کوي چې د ضرب فاعل تثنیه ده او د ضربوا فاعل جمع ده لیکن په خپله الف او واو فاعل نه شي کیدې بلکې د ضَرَبَا فاعل (هما) ضمیر دی او د (ضربوا) فاعل (هم) ضمیر دی.

علامات د تانیث : علامات د تانیث تقریباً اته (۸) دی چې په دې شعر کې ذکر دی :

هشت علامات مؤنث را بدان — تاء ساکن تاء متحرک را بخوان

الف مقصوره و ممدوه شمار — بعد ازان کسره بدان ای یارِ غار

تاء مقدره یاء ساکن را بگیر — بعد ازان هم نون مفتوح را پذیر

ددې آتو علاماتو د مؤنث مثالونه دادی : (۱) د تاء ساکن مثال لکه ضَرَبَتْ، (۲) د تاء متحرکه مثال لکه ضَارِبَةٌ، (۳) د الف مقصوره مثال لکه : حُبْلٰى، (۴) د الف ممدوده مثال لکه : حَمْرَاءُ، (۵) د کسرې مثال لکه : ضَرَبْتِ، (۶) د تاء مقدره مثال لکه : أَرْضٌ (ارض په اصل کې ارضة وو)، (۷) د یاء ساکن مثال لکه : تَضْرِبِيْنَ، (۸) د نون مفتوحه مثال لکه : ضَرَبْنَ. تاء ساکنه په فعل کې موندل کیږي او تاء متحرکه په اسم کې موندل کیږي چې ددې وجه داده چې فعل د مخکې نه معناً ثقیل وو اوس که چیرته په فعل باندې تاء متحرکه ورزیاته کړو نو فعل به لفظاً هم ثقیل شي، او اسم چونکه معناً ثقیل نه دی نو لهذا په دې کې تاء

متحرکه وي (رضي شارح د شافیه لیکلي دي چې لکه څنګه په فعل کې دوه علامې د تانیث مطلقاً ممنوع دی نو همدارنګې په اسم کې هم مطلقا ممنوع او ناجائز دی).

سوال: نو بیا په ضُرَبَيَاتٌ کې د دوه علامو نه یاء ولې حذف کړې شوه. **جواب**: علامت د تانیث په اصل کې الف دی کوم چې په ضُرَبٰى کې دی او هغه الف په قانون د الف مقصوره سره د یاء نه بدل شوې دی نو لهذا د دوه علامو جمع پاتې نه شو. (شرح شافیه)

سوال: په ضَرَبْنَ کې یو حرکت ولې حذف کړې شو؟ **جواب**: په کلام د عربو کې د څلورو حرکاتو توالي راتلل اجتماع ناجائزوه نو ددې وجې نه یې حذف کړو لیکن یادلري داعلت پوره نه دی بلکه ناقص جواب دی.

بهتر جواب دادی چې فعل د فاعل ضمیر وي نو دا به د دوه حالونو نه خالي نه وي ضمیر به په خپله ساکن یا وي یا که متحرک چیرته ساکن وو نو ماقبل به متحرک وي لکه ضَرَبُوْا، او که چیرته په خپله ضمیر متحرک وي نو ماقبل به همیشه ساکن وي ددې دپاره چې د فعل د فاعل سره یو شان اتصال وشي دا علت د عدم جواز تام او بهتر دی ځکه چې په دې کې به د اکثر په اقل باندې حمل شي لکه اَکْرَمْنَ. اِکْتَسَبْنَ. ضَرَبْنَ.

د ضَرَبْنَ دوهم قانون	(۱) حکم	(۱) شرط

قانون: اجتماع اربع حرکات متوالیات در یک کلمه وحکم وی ممنوع است.

ترجمه: جمع کیدل د څلورو حرکاتو پرلپسې په یوه کلمه کې ددې حکم ممنوع دی یعنې څلور حرکات په یوه کلمه کې جمع کیدل دا ممنوع دی.

نوم: ددې قانون نوم د ضَرَبْنَ دوهم قانون دی چې ددې د پاره یو حکم او یو شرط دی:

حکم: دادی چې د څلورو حرکاتو نه یو حذف کول واجب دی.

شرط: دادی چې څلور حرکات مسلسل حقیقتاً یا حکما په یو کلمه کې جمع وي.

احترازي مثال: ضَرَبَکَ. **اتفاقي مثال**: ضَرَبَنَ نه ضَرَبْنَ شو.

حقیقتا هغه دی چې په اصل کې یوه کلمه وي او واضع داد یوې معنی د پاره وضع کړې وي.

حکماً هغه دی چې په اصل کې یوه کلمه نه وي لیکن واضع د یو معنی د پاره نه وي وضع کړې بلکې د شدید اتصال د وجې نه دې ته د یوې کلمې حکم ورکړې شوې وي.

موزون	وزن	سه اقسام	در اصل	قانون
وَضَعْنَ	فَعَلْنَ	ماضي معلوم	وَضَعَتْنَ	ضرب نمبر ۱-۲
سَائِلَاتٌ	فَاعِلَاتٌ	اسم فاعل	سَائِلَتَاتٌ	ضرب نمبر ۱-۲
دُحْرِجْنَ	فُعْلِلْنَ	ماضي مجهول	دُحْرِجَتْنَ	ضرب نمبر ۱-۲
هَرُفْنَ	فَعُلْنَ	ماضي معلوم	هَرُفَتْنَ	ضرب نمبر ۱-۲
أُهْهُوْبِنَ	أُفْعُوْلِلْنَ	ماضي مجهول	أُهْهُوْبِبَتْنَ	

Maktaba Tul Ishaat.com

مَعْشُوْشَاتٌ	مَفْعُوْلَاتٌ	اسم مفعول	مَعْشُوْشَتَاتٌ	ضرب نمبر ۱
اِنْعَمَدْنَ	اِنْفَعَلْنَ	ماضي معلوم	اِنْعَمَدْتُنَّ	ضرب نمبر ۱-۲

د ضَرَبْتُمْ اول قانون / (۱) حکم / (۱) شرط

قانون : هرواوی که واقع شود در آخر اسم غیر متمکن ماقبلش مضموم آن واو را حذف کنند وجوبا مگر واو هُوَ.

ترجمه : هر هغه واو چې واقع شي په آخر د اسم غیر متمکن کې چې مخکې مضموم وي نو دا واو به حذف کولې شي وجوبا مګر واو د هُوَ به نه شي حذف کولې.

نوم : ددې قانون نوم د ضَرَبْتُمْ قانون دی چې ددې د پاره یو حکم او یو شرط دی.

حکم : واو چې کله د اسم غیر متمکن په اخر کې وي او ماقبل تري ضمه وي نو دا واو حذف کول او میم ساکن کول واجب دی.

شرط : شرط یې دا دی چې دا کلمه به د دري حروفو نه کم نه وي.

احترازي مثال : هُوَ. **اتفاقي مثال** : د ضَرَبْتُمُوْا نه ضَرَبْتُمْ شو او د اَنْتُمُوْا نه اَنْتُمْ شو.

ضَرَبْتَ : ضَرَبْتَ د ضَرَبَ نه جوړولې کیږي په داسې طریقې سره چې تاء مفتوحه علامت د واحد مذکر مخاطب سره د سکون د ماقبل به ددې په آخر کې راوړې شو ، د ضَرَبَ نه به ضَرَبْتَ جوړ شي ، او تاء مو ددې وجې نه ساکن نه کړه چې د واحد مذکر مخاطب علامت وو نه لهذا باء مو ساکن کړه.

ضَرَبْتُمَا : ضَرَبْتُمَا د ضَرَبْتَ نه جوړولې کیږي په داسې طریقې سره چې الف علامت د تثنیې او ضمیر د فاعل ددې په آخر کې راوړي شي نو ضَرَبْتَا به شي بیا به میم مفتوحه سره د ماقبل د ضمې په مینځ کې تاء او الف راوړې شي نو ضَرَبْتُمَا به شي.

ضَرَبْتُمْ : ضَرَبْتُمْ د ضَرَبْتَ نه جوړولې کیږي په داسې طریقې سره چې واو ساکن علامت د جمع مذکر او ضمیر د فاعل ددې په آخر کې به راوړې شي نو ضَرَبْتَوْا به شي بیا به میم مضمومه سره د ماقبل ضمې په مینځ کې به تاء او واو راوړې شي نو ضَرَبْتُمُوْا به شي بیا به واو حذف کړې شي او میم به ساکن کړې شي نو ضَرَبْتُمْ به شي.

ضَرَبْتِ : ضَرَبْتِ د ضَرَبْتَ نه جوړولې کیږي په داسې طریقې سره چې د تاء فتحه به په کسرې سره بدله کړې شي نو ضَرَبْتِ به شي.

ضَرَبْتُمَا : ضَرَبْتُمَا د ضَرَبْتِ نه جوړولې کیږي په دې طریقې سره چې الف علامه د تثنیه او ضمیر د فاعل په فتحې د ماقبل سره د دې په آخر کې راوړې شي بیا به میم مفتوحه په ضمې د ماقبل سره د تاء او الف په مینځ کې راوړې شي نو د ضَرَبْتِ نه به ضَرَبْتُمَا شي .

ضَرَبْتُنَّ : ضَرَبْتُنَّ د ضَرَبْتِ نه جوړولې کیږي په دې طریقې سره چې نون مفتوحه علامت د جمع مؤنث او ضمیر د فاعل د دې په آخر کې به راوړې شي نو د ضَرَبْتِ نه به ضَرَبْتَن جوړ شي او میم ساکنه په ضمې د ماقبل سره په مینځ د تاء او د نون کې راوړې شي نو ضَرَبْتُمْنَ به شي بیا به میم د وجې د قرب مخرج نه په نون سره بدل کړې شي او نون به په نون کې مدغم کړې شي نو ضَرَبْتُنَّ به شي.

ضَرَبْتُ : ضَرَبْتُ د ضَرَبَ نه جوړولې کیږي د ضَرَبَ په آخر کې به تاء مضمومه په سکون د ماقبل سره راوړې شي نو د ضَرَبَ نه به ضَرَبْتُ جوړ شي .

ضَرَبْنَا : ضَرَبْنَا د ضَرَبْتُ نه جوړولې کیږي داسې چې تاء مضمومه به حذف کړې شي او د نا ضمیر د جمع متکلم به د دې په آخر کې راوړې شي نو د ضَرَبْتُ نه به ضَرَبْنَا جوړ شي .

فائده : (نَا) د جمع متکلم د علامت کیدو په باره کې اختلاف دی بعضې حضرات وایي چې د جمع متکلم علامت صرف نون دی بیا چونکې د ضَرَبْنَ سره یې التباس راتلو نو د دې التباس د ختمیدو د وجې نه الف زیات کړې شي نو ضَرَبْنَا به شي .

موزون	وزن	سه اقسام	در اصل	قانون
شَرُفْتُمْ	فَعُلْتُمْ	ماضي معلوم	شَرُفْتُمُوْ	ضربتم
زُلْزِلْتُمْ	فُعْلِلْتُمْ	ماضي مجهول	زُلْزِلْتُمُوْ	
ءَاَمِنْتُمْ	فَعِلْتُمْ	ماضي معلوم	اَمِنْتُمُوْ	
اُسْمُوْلِلْتُمْ	اُفْعُوْلِلْتُمْ	ماضي مجهول	اُسْمُوْلِلْتُمُوْ	
تَوَالَيْتُمْ	تَفَاعَلْتُمْ	ماضي معلوم	تَوَالَيْتُمُوْ	
اِجْلَوَّذْتُمْ	اِفْعَوَّلْتُمْ	ماضي معلوم	اِجْلَوَّذْتُمُوْ	
رِئْنَ	فَعِلْنَ	ماضي معلوم	وَرِئْتَنَ	ضربن ۱-۲

د ماضي مجهول قانون / (۱) حکم / (۱) شرط

قانون : در هر ماضی مجهول حروف متحرك را حرکت ضمه و ماقبل آخر را کسره و باقی را برحال خود می دارند وجوباً .

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : په هر ماضي مجهول کې حروف متحرکو لره حرکت د ضمې او ماقبل آخر لره کسره او باقي په خپل حال باندې پرېښودل واجب دی .

نوم : ددې قانون نوم دی د ماضي مجهول قانون ، ددې د پاره یو حکم او یو شرط دی :

حکم : ددې حکم دادی چې په ماضي مجهول کې حروف متحرکو ته حرکت د ضمې ورکول او ماقبل آخر ته کسره ورکول او باقي حروف په خپل حال پرېښودل واجب دی .

شرط : ددې شرط دادی چې د ماضي معلوم نه د ماضي مجهول د جوړولو اراده وي .

احترازي مثال : ضَرَبَ (چې کله يې اراده نه وي) . **اتفاقي مثال** : د ضَرَبَ نه ضُرِبَ ، د اَکْرَمَ نه اُکْرِمَ ، د دَحْرَجَ نه دُحْرِجَ ، د اِکْتَسَبَ نه اُکْتُسِبَ ويل واجب دی .

ضُرِبَ : ضُرِبَ د ضَرَبَ نه جوړولې کيږي په دې طريقې سره چې حرف اول ته ضمه او ماقبل آخر ته کسره ورکړې شوه نو ضُرِبَ شو .

دَيَضْرِبُ تَضْرِبُ اَضْرِبُ نَضْرِبُ جوړول : يَضْرِبُ تَضْرِبُ اَضْرِبُ نَضْرِبُ د ضَرَبَ ماضي معلوم نه جوړولې کيږي حروف اتين مفتوحه به ددې په شروع کې راوړي او فاکلمه به ساکن کړي او ماقبل آخر ته به کسره ورکړي او په لام کلمه به ضمه اعرابي جاري کړي نو يَضْرِبُ تَضْرِبُ اَضْرِبُ نَضْرِبُ به شي .

فائده : ماضي مجهول د ماضي معلوم نه د جوړولو طريقې : د ماضي معلوم نه د ماضي مجهول د جوړولو دري (۳) طريقې دي : **اوله طريقه** : د ماضي مجهول ټولې صيغې د ماضي معلوم د ټولو صيغو نه جوړې کړي په داسې طريقې سره چې د ماضي معلوم اول حرف ته ضمه او ماقبل آخر ته دې کسره ورکړې شي نو ماضي مجهول به ترې جوړ شي لکه د ضَرَبَ ، ضَرَبَا ، ضَرَبُوْا نه ضُرِبَ ، ضُرِبَا ، ضُرِبُوْا . **دوهمه طريقه** : د ماضي مجهول صرف يوه صيغه د واحد مذکر غائب د ماضي معلوم د يوې صيغې واحد مذکر غائب نه جوړولې شي يعنې ضُرِبَ د ضَرَبَ نه او باقي صيغې ددې واحد مذکر غائب ماضي مجهول نه جوړې کړې شي . **دريمه طريقه** : د ماضي مجهول دري صيغې د ماضي معلوم د دري صيغو نه جوړې کړې شي (۱) واحد مذکر غائب ، (۲) واحد مذکر مخاطب ، (۳) واحد متکلم نه جوړې شي او پاتې صيغې دې د همدې نه جوړې شي .

د مضارع مجهول قانون	(۱) حکم	(۱) شرط

قانون : در هر مضارع مجهول بر حرف اول ضمه و ماقبل آخر را فتحه می خواند وجوباً .

ترجمه : په هر مضارع مجهول کې په اول حرف ضمه او ماقبل آخر به مفتوح وايي وجوباً .

نوم : ددې قانون نوم دی د مضارع مجهول قانون چې ددې د پاره يو حکم او يو شرط دی :

حکم : حکم يې دادی چې په اول حرف ضمه او په ماقبل آخر حرف باندې فتحه ويل واجب دی .

شرط : شرط يې دادی چې د ماضي معلوم نه د مضارع مجهول د جوړولو اراده وي .

احترازي مثال: يَضْرِبُ ،چې کله د مضارع مجهول د جوړولو اراده يې نه وي .

اتفاقي مثال: د يَضْرِبُ نه يُضْرَبُ ، د يُكْرِمُ نه يُكْرَمُ ، د يَدَحْرِجُ نه يُدَحْرَجُ شو .

فائده: د مضارع د جوړولو طريقه: د مضارع تولې څوارلس (۱۴) صيغې دی ، په دې کې پنځه (۵) صيغې د واحد مذکر غائب ،واحده مؤنثه غائب، واحد مذکر ،حاضر ،واحد متکلم او د جمع متکلم (يَضْرِبُ ، تَضْرِبُ ، تَضْرِبُ ، اَضْرِبُ ، نَضْرِبُ) داد ضَرَبَ نه جوړولې کيږي ، او بيا واحد مذکر غائب فعل مضارع معلوم نه دوه صيغې جوړيږي صيغه تثنيه مذکر غائب او جمع مذکر غائب يعنې يَضْرِبَانِ نه يَضْرِبَانِ او يَضْرِبُوْنَ جوړيږي او واحد مؤنث غائب نه دوه صيغې جوړيږي صيغه تثنيه مؤنث غائب او جمع مؤنث غائب يعنې تَضْرِبُ نه تَضْرِبَانِ او يَضْرِبْنَ جوړيږي او واحد مذکر حاضر نه دري صيغې تثنيه مذکر حاضر جمع مذکر حاضر او واحد مؤنث حاضر يعنې تَضْرِبُ نه تَضْرِبَانِ او تَضْرِبِيْنَ جوړيږي او بيا د واحد مؤنث حاضر نه تثنيه مؤنث حاضر او جمع مؤنث حاضر يعنې تَضْرِبِيْنَ نه تَضْرِبَانِ او تَضْرِبْنَ جوړيږي .

فائده: مضارع يې د ماضي نه ځکه جوړه کړه چې ماضي په زمانه سابق دلالت کوي او مضارع په زمانه لاحق باندې دلالت کوي او قاعده داده چې هر لاحق د خپل سابق نه جوړيږي .

د مضارع په باره کې اختلاف دی بعضې حضرات ماضي د مصدر نه او مضارع د ماضي نه جوړوي ليکن د صاحب د فصول اکبري په نزد ماضي او مضارع دواړه د مصدر نه جوړيږي .

ضَارِبٌ: ضَارِبٌ د يَضْرِبُ نه داسې جوړولې کيږي چې د يا ء حرف مضارعت د حذف کولو نه پس فاء کلمه ته فتحه ورکولې شي او ددې نه پس الف علامت د اسم فاعل به راوړې شي او ددې په آخر کې به تنوين د تمکن چې علامت د اسميت دی ددې په آخر کې به راوړې شي نو ضَارِبٌ به شي .

فائده: د اسم فاعل د جوړولو طريقه: د ثلاثي مجرد په بابونو کې اسم فاعل د فعل مضارع معلوم نه داسې جوړولې کيږي چې علامت د مضارع د حذف کولو نه پس فاء کلمې ته فتحه ورکولې شي او ددې نه پس الف علامت د اسم فاعل به راوړې شي او عين کلمې ته به کسره ورکړې شي په دې شرط چې د مخکې نه کسره موجود نه وي و په لام کلمه باندې به تنوين تمکن علامت د اسم راوړې شي نو د فعل مضارع نه به اسم فاعل جوړ شي لکه د يَضْرِبُ نه ضَارِبٌ .

ضَارِبَانِ د ضَارِبٌ نه جوړ شوې الف تثنيه د ماقبل فتحې سره او نون مکسور عوض د هغه ضمې يا د تنوين يا دد واړو چې په واحد کې وو ددې په آخر کې راوړې شو نو په همدې طريقې د ضَارِبٌ نه ضَارِبَانِ جوړ شو .

ضَارِبُوْن د ضَارِبٌ نه په دې طريقې سره جوړولې کيږي چې واو ساکن علامت د جمع مذکر د ضمې ماقبل سره او نون مفتوح عوض ددې ضمې يا د تنوين يا د دواړو چې په واحد کې وو ددې په آخر کې دې راوړې شي نو د ضَارِبٌ نه به ضَارِبُوْنَ جوړ شي .

Maktaba Tul Ishaat.com

ضَرَبَةٌ : ضَرَبَةٌ د ضَارِبٌ نه داسې جوړولې کيږي چې اول حرف په حال باندې پرېښودل او دوهم حذف کول او عين او لام کلمو ته فتحه ورکول تاء متحرکه علامت د جمع مذکر مکسر ددې په آخر کې به راوړې شي او په دې باندې به اعراب د تاء جاري کړې شي نو د ضَارِبٌ نه ضَرَبَةٌ جوړ شي .

ضُرَّابٌ : ضُرَّابٌ د ضَارِبٌ نه په داسې طريقې سره جوړولې کيږي چې اول حرف ته ضمه ورکول او دوهم حذف کول عين کلمه به مشدد مفتوح شي او ددې نه پس به الف علامت د جمع مذکر مکسر راوړې شي نو د ضَارِبٌ نه به ضُرَّابٌ جوړيږي .

ضُرَّبٌ : ضُرَّبٌ د ضَارِبٌ نه داسې جوړولې کيږي چې اول ته به ضمه ورکړې شي او دوهم به حذف کړې شي او عين کلمه به مشدد مفتوح کړې شي نو د ضَارِبٌ نه به ضُرَّبٌ جوړ شي .

ضُرْبٌ : ضُرْبٌ د ضَارِبٌ نه داسې جوړولې کيږي چې اول حرف ته به ضمه او دوهم به حذف کړې شي او عين کلمه به ساکن کړې شي نو د ضَارِبٌ نه به ضُرْبٌ جوړ شي .

ضُرَبَاءُ : ضُرَبَاءُ د ضَارِبٌ نه داسې جوړولې کيږي چې حرف اول ته به ضمه ورکړې شي او دوهم به حذف کړې شي عين او لام کلمو ته به فتحه ورکړې شي او الف ممدوده چې علامت د جمع مذکر مکسر دی هغه به ددې په آخر کې راوړې شي او تنوين تمکن چې علامت د اسميت دی د غير منصرف کيدو د وجې نه به حذف کړې شي نو د ضَارِبٌ نه به ضُرَبَاءُ جوړ شي .

ضُرْبَانٌ : ضُرْبَانٌ د ضَارِبٌ نه داسې جوړولې کيږي په داسې طريقې سره چې حرف اول ته به ضمه ورکړې شي او علامه د اسم فاعل به حذف کړې شي او عين کلمه به ساکن کړې شي او الف او نون زائده چې علامت د جمع مذکر مکسر دی د فتحې ماقبل سره به ددې په آخر کې راوړې شي او اعراب به په نون جاري کړې شي ځکه چې دا آخري کلمه ده نو د ضَارِبٌ نه به ضُرْبَانٌ جوړ شي .

ضِرَابٌ: ضِرَابٌ د ضَارِبٌ نه داسې جوړولې کيږي چې اول حرف ته به کسره ورکړې شي او دوهم به حذف کړې شي او دريم ځای الف علامت د جمع مذکر مکسر د ماقبل فتحې سره به راوړې شي نو د ضَارِبٌ نه به ضِرَابٌ جوړ شي

ضُرُوْبٌ : ضُرُوْبٌ د ضَارِبٌ نه داسې جوړولې کيږي چې اول حرف ته به ضمه ورکړې شي او دوهم به حذف کړې شي او دريم ځای به واو ساکن علامت د جمع مذکر مکسر د ماقبل ضمې سره راوړې شي نو د ضَارِبٌ نه به ضُرُوْبٌ جوړ شي .

أَضْرَابٌ : أَضْرَابٌ د ضَارِبٌ نه داسې جوړولې کيږي چې ددې په شروع کې به همزه مفتوحه د فاء کلمې د سکون سره راوړې شي او ځلورم ځای کې به الف علامت د جمع مذکر مکسر د فتحې ماقبل سره راوړې شي نو د ضَارِبٌ نه به أَضْرَابٌ جوړ شي .

ضَارِبَةٌ : ضَارِبَةٌ د ضَارِبٌ نه داسې جوړولې کيږي چې تاء متحرکه علامت د تانيث د فتحې ماقبل سره ددې په آخر کې به راوړې شي او اعراب به په تاء باندې جاري کړې شي ځکه چې دا آخري کلمه ده نو د ضَارِبٌ نه به ضَارِبَةٌ جوړ شي.

موزون	وزن	سه اقسام	در اصل	قانون
دُحْرِجَ	فِعْلِلَ	ماضي مجهول	دَحْرَجَ	ماضي مجهول
يُكْتَسَبُ	يُفْتَعَلُ	مجهول	يَكْتَسِبُ	مضارع مجهول
اُحْدُوْدِبَ	اُفْعُوْعِلَ	ماضي مجهول	اِحْدَوْدَبَ	ماضي مجهول
تُتَقَوَّلُ	تُتَفَعَّلُ	مضارع مجهول	تَتَقَوَّلُ	مضارع مجهول
اُنْصَرَفُ	اُنْفَعَلُ		اَنْصَرِفُ	مضارع مجهول
اُشْرَفُ	اُفْعَلُ		اَشْرُفُ	مضارع مجهول
صُرِفْنَ	فُعِلْنَ	ماضي مجهول	صَرَفْنَ	ماضي مجهول
تَوَاعَدْتُمْ	تَفَاعَلْتُمْ	ماضي معلوم	تَوَاعَدْتُمُوْ	ضربتم
وُعِيْنَ	فُعِلْنَ	ماضي مجهول	وُعِيَتْنَ	ضربن نمبر ۱-۲

د ضَارِبَةٌ قانون / (۱) حکم / (۱) شرط

قانون : هر تائے متحرکہ بحرکت اعرابی و ماقبلش متحرک باشد در حالتِ وقف بها بدل کنند وجوباً بشرطیکہ تائے جمع مؤنث سالم نہ باشد۔

ترجمه : هر هغه تاء چې متحرکه وي په حرکت اعرابي سره او ماقبل يې متحرک وي په حالت د وقف کې به په هاء سره بدليږي وجوباً خو په دې شرط چې دا تاء د جمع مؤنث سالم نه وي.

نوم : ددې قانون نوم دی د ضَارِبَةٌ والا قانون چې ددې د پاره يو حکم او يو شرط دی :

حکم : هغه تاء چې په حرکت اعرابي سره متحرک وي او ماقبل يې هم متحرک وي نو په حالت د وقف کې دا تاء په هاء سره بدلول واجب دی.

شرط : تاء د جمع مؤنث سالم به نه وي.

احترازي مثال : ضَارِبَاتٌ. **اتفاقي مثال** : عائشة نه عائشه او د ضاربةٌ نه ضاربه ويل واجب دی.

ضَارِبَتَانِ : ضَارِبَتَانِ د ضَارِبَةٌ نه داسې جوړوو چې الف علامت تثنيه د فتحې ماقبل سره او نون مکسور عوض د ضمې يا تنوين دواړو چې واحد کې دننه وي ددې په آخر کې به يې راوړي نو د ضَارِبَةٌ نه به ضَارِبَتَانِ جوړ شي.

Maktaba Tul Ishaat.com

ضَارِبَاتٌ : ضَارِبَاتٌ د ضَارِبَةٌ نه داسې جوړوو چې الف او تاء علامت د جمع مؤنث سالم د ماقبل فتحې سره ددې په آخر کې به راوړې شي او اعراب به په تاء باندې جاري کړې شي ځکه چې دا آخري کلمه ده نو د ضَارِبَةٌ نه به ضَارِبَتَاتٌ جوړ شي نو دوه علامات د تانیث دیو جنس نه سره جمع راغلي همدارنګې دوه علامې د تانیث په اسم کې جمع کیدل لازم راغلل او دا ناجائزوو نو ددې وجې نه مویوه تاء حذف کړه نو ضَارِبَاتٌ جوړ شو .

ضَوَارِبُ : ضَوَارِبُ د ضَارِبَةٌ نه داسې جوړولې کیږي چې اول حرف به په خپل حال باندې پریږد شي او دوهم به په واو مفتوحه سره بدل شي ددې نه پس به الف علامت د جمع مؤنث مکسر او تاء واحده او تنوین تمکن علامت د اسم حذف کړې شي تاء واحده د ضدیت د وجې نه او تنوین د غیر منصرف کیدو د وجې نه چې په غیر منصرف باندې تنوین نه راځي نو د ضَارِبَةٌ نه به ضَوَارِبُ جوړ شي .

ضُوَيْرِبٌ ضُوَيْرِبَةٌ : ضُوَيْرِبٌ ضُوَيْرِبَةٌ د ضَارِبٌ ضَارِبَةٌ نه داسې جوړولې کیږي چې اول حرف ته ضمه ورکوو او دوهم حرف په واو مفتوحه سره بدلوو او په دریم ځای کې یاء ساکن علامت د تصغیر راوړو نو د ضَارِبٌ ضَارِبَةٌ نه به ضُوَيْرِبٌ ضُوَيْرِبَةٌ جوړ شي .

د مده زائده قانون	(۱) حکم	(۱) شرط

قانون : هر مدهٔ زائده که واقع شود در مفرد مکبر بدو مرجائے وقت بنا کردن جمع اقصیٰ و تصغیر آن را بواو مفتوحه بدل کنند وجوباً .

ترجمه : هر مده زائده چې واقع شي په مفرد مکبر او په دوهم ځای کې نو په وخت د جوړولو د جمع اقصی او تصغیر کې نو دا به په واو مفتوحه سره بدلولې شي وجوباً .

نوم : ددې قانون نوم دی د مده زائده والا قانون ، چې ددې د پاره یو حکم او یو شرط دی :

حکم : ددې حکم دادی چې د مدې زائدې نه د جمع اقصی او تصغیر جوړولو په وخت کې په واو مفتوحه سره بدلول واجب دی . **شرط** : ددې شرط دادی چې مده زائده ، مفرد ، مکبر کې وي .

احترازي مثال : ضارب ضورب .

دویم شرط : په دوهم ځای کې واقع وي . **احترازي مثال** : عصا ، ضربی ، مصطفی .

اتفاقي مثال د الف : ضَارِبٌ ضَارِبَةٌ نه ضَوَارِبُ ضُوَيْرِبٌ .

اتفاقي مثال د یاء : ضِيْزَابٌ نه ضَوَارِيْبُ ، ضُوَيْرِيْبٌ .

اتفاقي مثال د واو : طُوْمَارٌ نه طَوَامِيْرُ ، طُوَيْمِيْرٌ .

فائده : حرف علت په درې قسمه دی : (۱) علت تام (۲) لین (۳) مده : **(۱) مده** : دا هغه ته وایي چې حرف

علت ساکن وي او ماقبل حرکت ددې موافق وي لکه أُوْيِنَا. (۲) **لين**: لين هغه ته وايي: چې حرف علت ساکن وي برابره خبره ده چې ماقبل حرکت موافق وي يا مخالف لکه خَوْفٌ، سَيْفٌ، أُوْيِنَا. (۳) **علت علت**: دا مطلقاً حرف علت ته وايي برابره خبره ده که ساکن وي يا متحرک او دماقبل حرکت موافق وي يا مخالف وي.

د جمع اقصی تعریف: دا هغه جمع مکسره ده چې ددې نه بله جمع مکسره نه شي ـ وريدې لکه أَفَاوِيْلُ، دې ته جمع منتهی الجموع او جمع الجموع او جمع غير منصرف هم وايي، خو البته جمع سالم ترې جوړيدې شي.

د جمع اقصی د جوړولو طريقه: اوڼۍ دوه حروف ته به فتحه ورکړې شي او دريم ځای کې به الف علامت د جمع اقصی راوړې شي بيا که چيرته د الف نه پس که چيرته يو حرف مشدد وي نو دا به د خپل عامل موافق وي ځکه چې دا محل د اعراب دی لکه دَوَابُّ نه دَوَابٌّ، او که چيرته دوه حرفه وي نو اول ته به کسره او دوهم به د خپل عامل موافق پرېښودلې شي لکه مِضْرَبٌ نه مَضَارِبُ، او که چيرته دري حرفه وي نو اول ته به کسره ورکولې شي دوهم به په ياء ساکنه سره بدلولې شي او دريم به د خپل عامل موافق پرېښودلې شي لکه مِضْرَبٌ نه مَضَارِيْبُ.

د تصغير تعريف: دا هغه دی چې په دې کې تغير او تبديل وکړې شي د کم والي يا د سپکوالي يا د محبت او يا د عظمت د معنی د حاصلولو د پاره لکه ضُوَيْرِبٌ، رُجَيْلٌ، بُنَيَّةٌ، قُرَيْشٌ.

د تصغير د جوړولو طريقه: اول حرف ته به ضمه او دوهم حرف ته به فتحه ورکړې شي او دريم ځای کې به ياء ساکن علامت د تصغير راوړې شي بيا که ددې نه پس که چيرته يو حرف وي نو د عامل موافق به وي لکه رَجُلٌ نه رُجَيْلٌ، او که چيرته دوه حرفه وي نو اول ته به کسره ورکړې شي دوهم حرف به د خپل عامل موافق پرېښودلې شي لکه مَضْرِبٌ مُضَيْرِبٌ او که چيرته دري حرفه وي نو اول حرف ته به کسره او دوهم حرف به په ياء ساکنه سره بدلولې شي او دريم حرف به د خپل عامل موافق پرېښودلې شي لکه مِضْرَابٌ نه مُضَيْرِيْبٌ.

مَضْرُوْبٌ: د يُضْرَبُ نه داسې جوړولې کيږي چې ياء حرف مضارعت د حذف کولو نه پس ددې په ځای به ميم مفتوح علامت د اسم مفعول به راوړې شي عين کلمې ته به ضمه ورکړې شي او په آخر کې تنوين تمکن علامت د اسم به راوړې شي نو د يَضْرِبُ نه مَضْرُوْبٌ په وزن د مَفْعُلٌ جوړ شي ليکن ددې په وزن باندې اسم مفعول په کلام د عربو کې نه دی راغلې مګر دا د مَعْوُوْنٌ مُكْرُمٌ او دا هم شاذ دی يعنې کم دی ځکه چې د عين کلمې په ضمه کې اشباع (را اخستې دی) کړې ددې د پاره چې واو پيدا شي نو د مَضْرُوْبٌ نه مَضْرُوْبٌ جوړ شو.

موزون	وزن	سه اقسام	در اصل	قانون
جَوَامِعُ	فَوَاعِلُ	اسم فاعل	جَامِعَةٌ	مده زائده
قُوَيْرِلَةٌ	فُوَيْعِلَةٌ	اسم فاعل	قَارِلَةٌ	مده زائده

Maktaba Tul Ishaat.com

مَوَابِرُ	فَوَاعِلُ	اسم فاعل	مَابِرَةٌ	
فُوَيْرُرٌ	فُوَيْعِلٌ		فَارِرٌ	
شَوَاهِدُ	فَوَاعِلُ		شَاهِدَةٌ	
مَوَيْنِعَةٌ	فُوَيْعِلَةٌ		مَانِعَةٌ	
أَوَاسِمُ	فَوَاعِلُ		وَاسِعَةٌ	

د الف لام او اضافت قانون / (۱) حکم / (۲) شرائط

قانون: هرنون تنوین وقت دخول الف و لام و اضافت حذف کړده شود و نون تثنیه و جمع در وقت اضافت حذف کړده شود وجوباً.

ترجمه: هر نون تنوین په وخت د دخول د الف لام او د اضافت کې حذف کولې شي او نون تثنیه او نون د جمع به په وخت د اضافت کې حذف کولې شي وجوباً.

نوم: ددې قانون نوم دی د اضافت والا قانون، چې ددې د پاره یو حکم او دري شرطونه دی، دوه شرطونه د نون تنوین د پاره او یو شرط د نون تثنیه او نون د جمع د پاره.

حکم: دادی چې نون تنوین او نون تثنیه او نون د جمع حذف کول واجب دی.

(۱) د نون تنوین شرط: اول شرط دادی چې په کومه کلمه کې چې نون تنوین وي نو ددې په شروع کې دې الف لام داخل شي. **احترازي مثال:** حَمْدٌ، غُلَامٌ. **اتفاقي مثال:** اَلْحَمْدُ، اَلْغُلَامُ.

(۲) شرط: دوهم شرط دادی چې په کومه کلمه کې چې نون تنوین وي ددې دوهمې کلمې طرف ته دې اضافت وشي. **احترازي مثال:** زَيْدٌ. **اتفاقي مثال:** غُلَامُ زَيْدٍ.

(۳) شرط: دریم شرط دادی چې نون د تثنیې او نون د جمع چې په کومه کلمه کې وي ددې اضافت دې بلې کلمې طرف ته وي.

احترازي مثال: ضَارِبَانِ، ضَارِبُوْنَ. **اتفاقي مثال:** ضَارِبَا زَيْدٍ، ضَارِبُوْ زَيْدٍ.

د الف تثنیې او واو جمع مذکر سالم قانون / (۱) حکم / (۱) شرط

قانون: هر الف تثنیه و واو جمع مذکر سالم در حالت نصب و جر بیا بدل کنند وجوباً در تثنیه یاء ماقبل مفتوح و در جمع یاء ماقبل مکسور باشند.

ترجمه: هر الف د تثنیې او واو د جمع مذکر سالم په حالت د نصب او جر کې په یاء سره بدلولې شي وجوباً په تثنیه کې یاء ماقبل مفتوح او په جمع کې به یاء ماقبل مکسور وي.

نوم: ددې قانون نوم دی د الف تثنیه او د واو جمع مذکر سالم قانون، چې ددې د پاره یو حکم او یو شرط دی:

حکم: ددې حکم دادی چې الف تثنیه او واو د جمع مذکر سالم په یاء سره بدلول واجب دی، او په تثنیه کې یاء ماقبل مفتوح او په جمع کې یاء ماقبل مکسور کیدل واجب دی.

شرط: ددې شرط دادی چې الف د تثنیې او واو د جمع مذکر سالم په حالت نصبي یا جري کې دې راشي.

احترازي مثال: هٰذَا ضَارِبَانِ. اَنْتُمْ مُسْلِمُوْنَ.

اتفاقي مثال: رَاَيْتُ مُسْلِمَيْنِ وَ مُسْلِمِيْنَ وَ مَرَرْتُ بِمُسْلِمَيْنِ وَ مُسْلِمِيْنَ ویل واجب دی.

سوال: تاسو وویل چې په جمع مذکر سالم کې په وخت د داخلیدو د ناصبو او جارو یاء ماقبل مکسور کیدل واجب دی حالانکه مِنَ الْمُصْطَفِيْنَ، مَرَرْتُ بِالْاَعْلَى عِلِّيِّيْنَ کې یاء ماقبل مفتوح ده او دا د جمع صیغې دی چې داولې؟ **جواب**: ددې اصل ته وګورئ چې دا په اصل کې مُصْطَفِيْنَ اَعْلَوِيْنَ وو دا اعلالا تونه پس مُصْطَفُوْنَ اَعْلُوْنَ شو لهذا هیڅ اشکال نه وارديږي او په دخول د نواصبو او جارو سره په ظاهر یاء ماقبل مفتوح ده.

موزون	وزن	سه اقسام	در اصل	قانون
ضَارِبِيْكَ	فَاعِلِيْنَ	اسم فاعل	ضَارِبِيْنَ	اضافت
رَاشِدَانِ	فَاعِلَانِ		رَاشِدَانِ	
شَدِيْدُوْهَا	فَعِيْلُوْنَ	صفت مشبه	شَدِيْدُوْنَ	
مُشَاوِرَا زَيْدٍ	مُفَاعِلَانِ	اسم فاعل	مُشَاوِرَانِ	
وَالِدَيْهِ	فَاعِلَيْنِ		وَالِدَيْنِ	
اَمِيْرُكُمْ	فَعِيْلٌ	صفت مشبه	اَمِيْرٌ	
مُتَيَسِّرُوْنَ	مُتَفَعِّلُوْنَ	اسم فاعل	مُتَيَسِّرُوْنَ	
اَلضَّالُّ	فَاعِلٌ		ضَالٌّ	
شَرِيْفَيْكَ	فَعِيْلَيْنِ	صفت مشبه	شَرِيْفَيْنِ	
مَضْرِبَيْهِ	مَفْعِلَيْنِ	اسم ظرف	مَضْرِبَيْنِ	
قُرْآنِيْ	فُعْلَانٌ	اسم	قُرْآنٌ	

د نون خفیفه قانون / (۱) حکم / (۱) شرط

قانون: هرنون خفیفه را موافق حرکت ماقبل بحرف علت بدل می کنند جوازاً در حالت وقف.

ترجمه: هر نون خفیفه چې موافق د حرکت د ماقبل په حرف علت سره بدلولې شي جوازاً په حالت د وقف کې.

Maktaba Tul Ishaat.com

نوم : ددې قانون نوم دي د نون خفیفه والا قانون، چې ددې د پاره یو حکم او یو شرط دی :

حکم : ددې حکم دادی چې نون خفیفه د ماقبل حرکت موافق په حرف علت سره بدلول جائز دی .

شرط : ددې شرط دادی چې نون خفیفه به په حالت د وقف کې وي

احترازي مثال : اِضْرِبَنِ الْقَوْمُ .

اتفاقي مثال : اِضْرِبَنْ لره اِضْرِبَا او اِضْرِبُنْ لره اِضْرِبُوْا او اِضْرِبِنْ لره اِضْرِبِيْ ویل جائز دی .

لَمْ يَضْرِبْ لَمْ يُضْرَبْ : لَمْ يَضْرِبْ لَمْ يُضْرَبْ (الی آخره) داد يَضْرِبُ ، يُضْرَبُ (الی آخره) نه دارنګې جوړولې کیږي چې لَمْ جازمه جحدیه ددې په اول کې به راوړې شي نو په پنځو پنځو صیغو کې به د آخر نه ضمه اعرابي وغورځولې شي او سکون به راوړلې شي او په اوه صیغو کې به نون اعرابي وغورځولې شي او په دوه صیغو کې به هیڅ عمل نه کوي ځکه چې دا دوه صیغې مبني دي نو د يَضْرِبُ ، يُضْرَبُ (الی آخره) نه به لَمْ يَضْرِبْ لَمْ يُضْرَبْ (الی آخره) جوړ شي .

موزون	وزن	سه اقسام	در اصل	قانون
اِكْتَسَبَا بغیر تثنیه	اِفْتَعَلَنْ	امر حاضر	اِكْتَسَبَنْ	نون خفیفه
أُشْرُفِيْ ۲ عدد	أُفْعُلِنْ		أُشْرُفِنْ	
ضَارِبُوْ	فَاعِلُنْ		ضَارِبُنْ	
ضَارِبُوْ	فَاعِلُوْا		ضَارِبُوْا	نون تنوین
اِنْصَرِفَا ۳ عدد	اِنْفَعِلَنْ	امر حاضر	اِنْصَرِفَنْ	نون خفیفه
اِنْصَرِفَا	اِنْفَعِلَا		خود	
اِنْصَرِفَا			خود	
جَمَعُوْ ۲ عدد	فَعَلٌ	مصدر	جَمْعٌ	نون تنوین
جَمَعُوْ	فَعَلُوْا	ماضي معلوم	بر اصل	

د نون اعرابي قانون / (۱) حکم / (۵) شرائط

قانون : هر نون اعرابی وقت دخول جوازم و نواصب و لحوق نون ثقیله و خفیفه و بناء کردن امر حاضر معلوم حذف کرده شود وجوباً .

ترجمه : هر نون اعرابي په وخت د داخلیدو د جوازمو او نواصبو او په وخت د لاحق کیدو د نون ثقیله او خفیفه او په وخت د جوړولو د امر حاضر معلوم حذف کولې شي وجوباً .

نوم : ددې قانون نوم دی د نون اعرابي والا قانون، چې ددې د پاره یو حکم او پنځه شرطونه کامل دی :

حکم : ددې حکم دادی چې د نون اعرابي حذف کول واجب دی .

(۱) شرط : په کومه کلمه کې چې نون اعرابي وي په دې کلمه باندې دې حرف جازم داخل شي .

احترازي مثال : يَضْرِبَانِ ، يَضْرِبُوْن. **اتفاقي مثال** : لَمْ يَضْرِبَا ، لَمْ يَضْرِبُوْا.

(۲) شرط : په کومه کلمه کې چې نون اعرابي وي په دې کلمه باندې دې حرف ناصب داخل شي .

احترازي مثال : يَضْرِبَانِ ، يَضْرِبُوْن. **اتفاقي مثال** : لَنْ يَّضْرِبَا ، لَنْ يَّضْرِبُوْا.

(۳) شرط : په کومه کلمه کې چې نون اعرابي وي دې کلمه پورې دې نون ثقيله لاحق شي .

احترازي مثال : يَضْرِبَانِ ، يَضْرِبُوْن. **اتفاقي مثال** : لَيَضْرِبَانِّ ، لَيَضْرِبُنَّ.

(۴) شرط : په کومه کلمه کې چې نون اعرابي وي دې کلمه پورې دې نون خفيفه لاحق شي .

احترازي مثال : يَضْرِبُوْن، تَضْرِبُوْن . **اتفاقي مثال** : اِضْرِبُنْ ، لَيَضْرِبُنْ ، لَتَضْرِبُنْ .

(۵) شرط : په کومه کلمه کې چې نون اعرابي وي ددې کلمه نه د امر حاضر معلوم د جوړولو اراده وي .

احترازي مثال : تَضْرِبَانِ ، تَضْرِبُوْن. **اتفاقي مثال** : اِضْرِبَا ، اِضْرِبُوْا.

(۱) حکم / دير ملون قانون

قانون : هرنون ساکن و تنوين را در حروف يرملون ادغام ميکنند وجوباً و متحرك را جوازا در حروف يَمُوْنَ بغُنه و در لَرْ بغير غُنه.

ترجمه : هر نون ساکن او تنوين په حروف يرملون کې مدغم کولې شي وجوباً او متحرک مدغم کولې شي جوازاً په حروف يَمُوْنَ کې د غنې سره او په لَرْ کې په غير د غُنې نه .

نوم : ددې قانون د پاره دوه حکمونه دي او هر حکم د پاره دري دري شرطونه دي : اول حکم (وجوبي) او دويم حکم (جوازي) :

اول حکم : که چرې نون ساکن او نون تنوين د کلمې په آخر کې او د حروف يرملون نه مخکې واقع وي نو نون ساکن او نون تنوين لره د حروف يرملون هم جنس ګرځول او بيا جنس په جنس کې مدغم کول واجب دي او که نون متحرک وي نو حروف يرملون کې ادغام کول جائز دي .

اول شرط : نون ساکن او نون تنوين د کلمې په آخر کې او د حروف يرملون نه مخکې وي .

دويم حکم : نون متحرک د حروف يرملون سره هم جنس کول او جنس په جنس کې مدغم کول جائز دي .

شرط : نون متحرک وي ، او نون متحرک د حروف يرملون نه مخکې وي .

اتفاقي مثال د نون ساکن او د نون تنوين : لَنْ يَضْرِبَ ، غَفُوْرٌ رَحِيْمٌ دا لَن يَضْرِبَ ، غَفُوْرٌ الرَّحِيْم ويل واجب دي .

Maktaba Tul Ishaat.com

اتفاقي مثال د نون متحرک : اَلَّذِيْنَ لَا يَرْجُوْنَ دا اَلَّذِي لَّا يَرْجُوْنَ ويل جائز دی .

فائده : په حروف يرملون کې ادغام مع الغُنه او په لام او راء کې ادغام بلا غُنه کيږي لکه مَن يَّشَآءُ ، مِنْ نَّبِيٍّ ، غَدًا يَّرْتَعْ ، مِنْ رَّبِّهِمْ ، مِنْ لَّدُنْكَ ، هُدًى لِّلْمُتَّقِيْنَ .

خو ددې قانون د پاره شرط دا دی چې دا به په دوه کلمو کې واقع وي او که چرې په يوه کلمه کې واقع وو نو بيا په کې ادغام نه کيږي لکه قِنْوَانٌ ، صِنْوَانٌ ، بُنْيَانٌ ، مُنْيَةٌ ، غُنْيَةٌ ، دُنْيَا .

موزون	وزن	سه اقسام	در اصل	قانون
اِنَّسِيْنَا	فَعِلْنَا	ماضي معلوم	نَسِيْنَا	يرملون
اَنْ يُّوَاصِلْنَ	يُفَاعِلْنَ	مضارع معلوم	يُوَاصِلْنَ	يرملون
لَيَنْصُرَانِ	لَيُفْعَلَانِ	مستقبل	يَنْصُرَانِ	نون اعرابي
قَرْمَدَنَ	فَعَلَ فَعَلَ	ماضي معلم	قَرَنَ ، مَدَنَ	يرملون
مَيُّعَظُكَ	يُفَعِّلُ	مضارع	يُعَظِّمُ	
لَنْ تَّشْرُفُوْا	لَنْ تَفْعُلُوْا	نفي معلوم	تَشْرُفُوْنَ	نون اعرابي
اِنْ وَهَبَتْ	فَعَلَتْ	ماضي معلوم	وَهَبَتْ	يرملون
وُرِوَّعَ	فُعِلَ ، فَعَلَ		وُرِنَ ، وَرَعَ	يرملون
لَمَّا يَعْلَمَا	يَفْعَلَانِ	مضارع	يَعْلَمَانِ	نون اعرابي
اِسْتَخْرَجَا	اِسْتَفْعَلَا	امر حاضر	تَسْتَخْرِجَانِ	

دينبغي قانون / (۱) حکم

قانون : هرنون ساکن و تنوين که واقع شود قبل باء مطلقاً آن را بميم بدل می کنند وجوباً و قبل از حرف حلقی ظاهر خوانده می شوند وجوباً و قبل از الف نمی آيند و در باقی حروف اخفاء کرده آيند .

ترجمه : هر نون ساکن او تنوين چې واقع شي مخکې د باء نه مطلقاً دا به په ميم سره بدلولې شي وجوباً او مخکې د حرف حلقي نه به ظاهر ويلې شي وجوباً او مخکې د الف نه به نه راځي او په باقي حروفو کې به اخفاء کولې شي .

نوم : ددې قانون نوم دی د يَنْبَغِيْ والا قانون چې ددې د پاره يو حکم دی .

حکم : هر کله چې نون ساکن او نون تنوين د باء نه مطلقاً مخکې راشي نو نون ساکن او تنوين لره په ميم سره بدلول واجب دی او که نون ساکن او تنوين د حروف حلقي نه مخکې راشي نو اظهار کول او ويل واجب

دی او نون ساکن او نون تنوین د حروف اخفاء نه چې مخکې راشي نو اخفاء کول او ویل واجب دی .

اتفاقي مثال د باء نه مخکې : د يَنْبَغِيْ نه يَمْبَغِيْ ، د مِنْ بَعْدِ ، نه مِمْ بَعْدِ ، د آيَاتٌ بَيِّنَاتٌ نه آيَاتٌ مُ بَيِّنَاتٌ .

اتفاقي مثال د حروف حلقي نه مخکې د نون ساکن : مِنْ غَاسِقٍ ، مِنْ حَاسِدٍ .

اتفاقي مثال د حروف حلقي نه مخکې د نون تنوين : زَيْدٌ عَالِمٌ .

اتفاقي مثال د حروف اخفاء نه مخکې د نون ساکن : مِنْ شَرٍّ ، مِنْ جُوْعٍ .

اتفاقي مثال د حروف اخفاء نه مخکې د نون تنوين : رَجُلٌ كَرِيْمٌ ، رجلٌ فَقِيْرٌ .

لَيَضْرِبَنَّ لَتَضْرِبَنَّ لَتَضْرِبَنَّ لَاَضْرِبَنَّ لَنَضْرِبَنَّ : دا صيغې د يَضْرِبُ تَضْرِبُ تَضْرِبُ اَضْرِبُ نَضْرِبُ نه جوړې شوې لام تاکيد مفتوح ددې په اول کې راوړو ددې په آخر کې به نون تاکيد نه داسې جوړوو چې نون ثقيله به راوړو نو ماقبل ته به فتحه ورکوو نو د يَضْرِبُ تَضْرِبُ تَضْرِبُ اَضْرِبُ نَضْرِبُ نه به لَيَضْرِبَنَّ لَتَضْرِبَنَّ لَتَضْرِبَنَّ لَاَضْرِبَنَّ لَنَضْرِبَنَّ جوړ شي .

د تثنيې څلور صيغې د تثنيې د څلورو صيغو نه جوړول : لَيَضْرِبَانِ ، لَتَضْرِبَانِ ، لَتَضْرِبَانِ ، لَتَضْرِبَانِ ، لَتَضْرِبَانِ داد يَضْرِبَانِ تَضْرِبَانِ نه داسې جوړولې کيږي چې لام تاکيد مفتوح ددې په اول کې به راوړې شي او نون تاکيد ثقيله ددې په آخر کې راوړې شي او نون اعرابي به وغورځول شي او د نون فتحه به په کسرې سره بدله کړې شي د تثنيې د مشابهت د وجې نه نو د يَضْرِبَانِ تَضْرِبَانِ ، تَضْرِبَانِ ، تَضْرِبَانِ نه به لَيَضْرِبَانِ ، لَتَضْرِبَانِ ، لَتَضْرِبَانِ ، لَتَضْرِبَانِ جوړې شي .

د جمع مذکر غائب او د مخاطب صيغې جوړول : د جمع مذکر غائب او د مخاطب صيغې يعنې لَيَضْرِبُنَّ ، لَتَضْرِبُنَّ داد يَضْرِبُوْنَ ، تَضْرِبُوْنَ نه داسې جوړولې کيږي چې لام تاکيد مفتوح به ددې په اول کې راوړې شي او نون تاکيد ثقيله به ددې په آخر کې راوړې شي او نون اعرابي به وغورځول شي نو التقاء د ساکنينو به شي نو د واو او د نون مدغم په مينځ کې اول مده وه هغه به حذف کړې شوې وه او ماقبل ضمه به په خپل حال پريښودلې شي ددې د پاره چې په واو محذوفه باندې دلالت وکړي نو د يَضْرِبُوْنَ ، تَضْرِبُوْنَ نه به لَيَضْرِبُنَّ ، لَتَضْرِبُنَّ به جوړ شي .

صيغه واحده مؤنثه مخاطبه جوړول : صيغه واحده مؤنثه مخاطبه يعنې لَتَضْرِبِنَّ داد تَضْرِبِيْنَ نه داسې جوړولې کيږي چې لام تاکيد مفتوح به ددې په اول کې راوړې شي او نون تاکيد ثقيله به ددې په آخر کې راوړې شي نو اجتماع د ساکنينو به راشي د ياء او د نون مدغم په مينځ کې اول مده وو نو دا به حذف کړې شي او د ماقبل کسره به په خپل حال وساتل شي ددې د پاره چې په ياء محذوفه باندې دلالت وکړي نو د تَضْرِبِيْنَ نه به لَتَضْرِبِنَّ جوړ شي .

Maktaba Tul Ishaat.com

د جمع مؤنث غائبات او مخاطبات جوړول : د جمع مؤنث غائبات او مخاطبات يعنې لَيَضْرِبْنَانِ لَتَضْرِبْنَانِ داد يَضْرِبْنَ او د تَضْرِبْنَ نه داسې جوړولې کيږي چې لام تاکيد مفتوح به ددې په اول کې راوړې شي او نون تاکيد ثقيله به ددې په آخر کې راوړې شي نو اوس دري نوڼه سره جمع شو او دا په کلام د عربو کې ناخوښ وو نو ددې وجې نه نون تاکيد او نون د ضمير په مينځ کې به الف فاصل راوړې شي نو د يَضْرِبْنَ او تَضْرِبْنَ نه به لَيَضْرِبْنَانِ لَتَضْرِبْنَانِ جوړ شي.

فائده: فعل مستقبل مؤکد په لام او نون تاکيد سره د جوړولو طريقه: فعل مستقبل په لام او نون تاکيد سره د جوړولو طريقه داده چې د مضارع په شروع کې به لام تاکيد مفتوح راوړې او د څوارلس صيغو په آخر کې به نون تاکيد ثقيله او د آتو (٨) صيغو په آخر کې به نون تاکيد خفيفه راوړې او د نون ثقيله ماقبل به په پنځو ځايونو کې مفتوح وي هغه پنځه ځايونه دادی : (١) واحد مذکر حاضر ، (٢) واحد مذکر غائب ، (٣) واحده مؤنثه غائبه ، (٤) واحد متکلم ، (٥) جمع متکلم ، او په کومو شپږو ځايونو کې چې د نون ثقيله نه مخکې الف راوړلې کيږي هغه دادی : څلور تثنيې ، دوه جمع مؤنث او په جمع مؤنث کې الف نون ضمير او د نون تاکيد ثقيله په مينځ کې ه فاصلې د پاره به راوړلې شي او په دوه ځايونو کې واو د اجتماع ساکنينو د وجې نه حذف کولې شي ، او ضمه به په خپل حال پريښودلې شي ددې د پاره چې په واو محذوفه باندې دلالت وکړي هغه دوه ځايونه دادی : جمع مذکر غائب ، جمع مذکر حاضر او د ديو صيغې نه ياء ساکن مده به حذف کړو د اجتماع ساکنين د وجې نه او ماقبل کسره به په خپل حال پريښودلې شي ددې د پاره چې په ياء محذوفه باندې دلالت وکړي او هغه صيغه د واحد مؤنث حاضر صيغه ده .

په کومو شپږو ځايونو کې چې الف راځي نو نون ثقيله به مکسور وي او باقي اته ځايونو کې به نون مفتوح وي او په همدې طريقې سره به د فعل مضارع نه به فعل مستقبل په لام او نون تاکيد سره جوړ شي.

نوټ : نون خفيفه په هغه ځايونو کې نه راځي چيرته چې الف راځي بلکې صرف په باقي اتو ځايونو کې راځي.

موزون	وزن	سه اقسام	در اصل	قانون
اِنْبَغَىٰ	اِنْفَعَلَ	ماضي معلوم	انبغى	يـنبغي
اِبْتَغَىٰ	فَعَلَ		بَغَيَ	
مُنْبَعَلَاتٌ	مُنْفَعَلَاتٌ	اسم مفعول	مُنْبَعَلَاتٌ	
صَارَرْمَدَ	فَاعَلَ، فَعَلَ	ماضي معلوم	صَارَنَ، رَمَدَ	پرملون
اِحْسِبِيْ	اِفْعِلِيْ	امر حاضر	تَحْسِبِيْنَ	نون اعرابي
مَلْدَنَ	فَعَلَ	ماضي معلوم	لَدَنَ	پرملون

دامر حاضر معلوم قانون / (۳) حکم

قانون: درامرحاضر معلوم بعد از حذف حروفِ مضارعت که مضارع مضموم العین باشد همزه وصلی مضموم در اولش در آورند وجوباً و گرنه مکسوره بشرطیکه مابعد حرفِ مضارعت ساکن باشد اگر متحرك باشد فقط در آخرش وقف کنند وجوباً.

ترجمه: په امر حاضر معلوم کې پس د حذف کولو د حروفِ مضارعت نه که چیرته مضارع مضموم العین وي نو همزه وصلي مضموم به يې په اول کې راوړلې شي وجوباً او که چیرته نه وه نو مکسوره به وي خو په دې شرط چې ما بعد حرفِ مضارعت ساکن وي که چیرته متحرک وي نو صرف په آخر کې به وقف کولې شي وجوباً.

نوم: ددې قانون نوم دی د امر حاضر معلوم والا قانون، چې ددې د پاره دري (۳) حکمونه دي:

(۱) حکم: که چیرته مضارع مضموم العین وي او د حرف مضارعت نه پس حرف ساکن وي نو د امر حاضر معلوم د جوړولو په وخت کې به په شروع کې همزه وصلي مضمومه راوړل او په آخر کې وقف کول واجب دی.

اتفاقي مثال: تَنْصُرُ نه اُنْصُرْ، تَشْرُفُ نه اُشْرُفْ.

(۲) حکم: که چیرته مضارع مضموم العین نه وي او د حرف مضارعت نه پس حرف ساکن وي نو د امر حاضر معلوم د جوړولو په وخت کې به په شروع کې همزه وصلي مکسور راوړل او په آخر کې وقف کول واجب دي.

اتفاقي مثال: تَضْرِبُ نه اِضْرِبْ، تَمْنَعُ نه اِمْنَعْ.

(۳) حکم: که چیرته د حرف مضارعت نه پس حرف متحرک وي نو د امر حاضر معلوم د جوړولو په وخت کې په آخر کې وقف کول واجب دي.

اتفاقي مثال: تَعِدُ نه عِدْ، تُصَرِّفُ نه صَرِّفْ.

فائده: دامر حاضر معلوم د جوړولو طریقه: فعل امر حاضر معلوم د فعل مضارع معلوم حاضر نه داسې جوړیږي چې د تاء حرف مضارعت د حذف کولو نه پس به کتلې شي چې مابعد متحرک دی او که ساکن، که چیرته مابعد متحرک وو نو د همزه وصلي راوړلو ضرورت نشته، امر به همدارنګې پریښودلې شي صرف په آخر کې به وقف کولې شي د وقف د وجې نه چیرته چې ضمه اعرابي وي هغه به غورځولې شي او سکون به راځي، او چیرته چې نون اعرابي وي هغه به هم غورځولې شي او که چیرته په آخر کې حرف علت وي نو هغه به هم غورځولې شي لکه تَعِدُ نه عِدْ تَعِدَانِ نه عِدَا، تَقِيُ نه قِ، او که چیرته مابعد ساکن وو نو د همزې وصلي راوړلو ضرورت دی ځکه چې ابتداء په سکون سره محال ده، بیا به عین کلمې ته کتلې شي چې مفتوح ده او که مکسور او که مضموم، که چیرته عین کلمه مفتوح وي یا مکسور وي نو ددې په شروع کې به همزه وصلي مکسور راوړلې شي او آخر به ساکن کولې شي او د وقف د وجې نه چې چیرته ضمه اعرابي وي هغه به هم غورځولې شي او که چیرته نون اعرابي وي نو هغه به هم غورځولې شي او که چیرته حرف علت وو نو هغه

Maktaba Tul Ishaat.com

هم غورځولې شي.

فائده: نون تاکید ثقیله او خفیفه په مضارع منفي کې په لا او ما سره کم راځي، مَا يَضْرِبَنَّ، لَا يَضْرِبَنَّ، او په جحد کې بالکل کم وي لَمْ يَعْلَمَنَّ، په امر او نهي کې دير وي او کله د ضرورت شعري د وجې نه په اسم کې هم راځي.

فائده: داد الف فاصل والا قانون د دري نوناتو زائد و په باره کې دی که چيرته يو نون هم اصلي وي نو دا قانون به هرګز نه جاري کيږي لکه لَيَكُوْنَنَّ، لَيَسْجُنَنَّ ددې اولنې نون اصلي دي.

د امر حاضر مجهول د جوړولو طريقه: امر حاضر مجهول د فعل مضارع مجهول نه داسې جوړولې کيږي چې واحد د واحد نه تثنيه د تثنيې نه او جمع د جمع نه مذکر د مذکر نه مؤنث د مؤنث نه په داسې طريقې سره چې د مضارع حاضر مجهول په شروع کې به لام امر مکسور راوړلې شي نو آخر ته به جزم ورکړې شي د جزم د وجې نه به د يو ې صيغې نه ضمه اعرابي غورځيږي او سکون به راشي او په څلور صيغو کې به نون اعرابي غورځيږي او په يوه صيغه کې به هيڅ عمل نه کوي ځکه چې دا يوه صيغه مبني ده.

د امر غائب معلوم د جوړولو طريقه: امر غائب معلوم او مجهول د مضارع غائب معلوم او مجهول نه داسې جوړيږي چې د مضارع غائب په شروع کې به لام امر مکسور راوړې شي نو آخر ته به جزم ورکړې شي د جزم د وجې نه د څلورو صيغو نه ضمه اعرابي غورځيږي او سکون راځي او په دري صيغو کې نون اعرابي غورځيږي او په يوه صيغه کې به هيڅ عمل نه کوي ځکه چې دا مبني ده.

د امر حاضر مؤکد په نون ثقيله د جوړولو طريقه:

اِضْرِبَنَّ: اِضْرِبْ د اِضْرِبْ نه داسې جوړيږي چې کله نون تاکيد ثقيله ددې په آخر کې راوړې شي نو ما قبل به مفتوح شي نو د اِضْرِبْ نه به اِضْرِبَنَّ جوړ شي.

اِضْرِبَانِّ: اِضْرِبَانِّ د اِضْرِبَا نه داسې جوړيږي چې کله نون تاکيد ثقيله ددې په آخر کې راوړي نو د اِضْرِبَا نه به اِضْرِبَانَّ جوړ شي اوس به د نون فتحه په کسرې سره بدلوو د وجې د مشابهت نه د تثنيې سره نو د اِضْرِبَانَّ نه به اِضْرِبَانِّ جوړ شي.

اِضْرِبُنَّ: اِضْرِبُنَّ د اِضْرِبُوْ نه داسې جوړيږي چې کله نون تاکيد ثقيله ددې په آخر کې راوړل شي نو اجتماع د ساکنينو به راشي په مينځ د واو او د نون، د غم کې اول مده وه نو حذف مو کړه نو د اِضْرِبُوْ نه اِضْرِبُنَّ جوړ شو.

اِضْرِبِنَّ: اِضْرِبِنَّ د اِضْرِبِيْ نه داسې جوړيږي چې کله نون تاکيد ثقيله ددې په آخر کې راوړو نو اجتماع د ساکنينو به راشي د ياء او د نون مدغم په مينځ کې اول مده وه نو دا مو حذف کړه نو د اِضْرِبِيْ نه به اِضْرِبِنَّ جوړ شي.

اِضْرِبْنَانِّ : اِضْرِبْنَانِّ د اِضْرِبْنَ نه داسې جوړيږي چې ددې په آخر کې به نون تاکيد ثقيله راوړل شي نو دري نونونه به سره جمع شي او د دري نونونو راجمع کيدل دا په کلام د عربو کې جائز نه دی نو ددې وجې نه د نون تاکيد او د نون ضمير په مينځ کې به الف فاصل راوړل شي او د نون فتحه به په کسرې سره بدله شي نو اِضْرِبْنَانِّ به تري جوړ شي .

موزون	وزن	سه اقسام	در اصل	قانون
اُشْرُفْ	اُفْعُلْ	امر حاضر	تَشْرُفْ	امر حاضر
اِبْتَكِرْ	اِفْتَعِلْ		تَبْتَكِرْ	
اِضْلِلْنَانِّ	اِفْعِلْنَانِّ		تَدَحْرَجَ	امر حاضر
اِمْتَوْئِلْ	اِفْعَوْعِلْ		تَمْتَوْئِلُ	
حَبْنَانِّ	افْعِلْنَانِّ		حَبَبْتَنَّ	
وَاسِعْ	فَاعِلْ		تَوَاسِعُ	
اشْهَدْ	اِفْعَلْ		تَشْهَدُ	
طَوَيْتُمْ	فَعَلْتُمْ	ماضي معلوم	طَوَيْتُمُوْ	ضربتم
عَالِمِيْ ۲ عدد	فَاعِلِيْ	امر حاضر	تُعَالِمِيْنَ	نون اعرابي
عَالِمِيْ	فَاعِلِنْ		عَالِمِنْ	نون خفيفه
شُوَيْمِنٌ	فُوَيْعِلٌ	اسم فاعل	شَامِنٌ	مده زائده

د الف فاصل قانون / (۱) حکم

قانون : چون نون تاکید ثقیله بانون ضمیری متصل شود الف فاصله میان ایشان در آرند وجوباً .

ترجمه : هر کله چې نون تاکيد ثقيله د نون ضمير سره متصل شي نو الف فاصله به په مينځ ددې دواړو کې راوړي وجوباً .

نوم : ددې قانون نوم دی د الف فاصل والا قانون ، چې ددې د پاره يو حکم دی :

حکم : چې کله نون تاکيد ثقيله د نون ضمير سره متصل شي نو د دواړو په مينځ کې به الف فاصله راوړل واجب دی .

اتفاقي مثال : اِضْرِبْنَّ نه اِضْرِبْنَانِّ شو .

Maktaba Tul Ishaat.com

د صيغو د جوړولو طريقې:

اِضْرِبَنْ: اِضْرِبْ د اِضْرِبْ نه داسې جوړيږي چې ددې په آخر کې به نون تاکيد خفيفه راوړل شي نو ماقبل ته به فتحه ورکړې شي نو د اِضْرِبْ نه به اِضْرِبَنْ جوړ شي.

اِضْرِبُنْ: اِضْرِبُوْا نه داسې جوړيږي چې کله نون خفيفه ددې په آخر کې راوړل شي نو اجتماع د ساکنينو به راشي په مينځ د واو او د نون کې نو اول مده وه دا به حذف کړې شي نو د اِضْرِبُوْا نه به اِضْرِبُنْ جوړ شي.

لِتُضْرَبْ (الی آخره) په غير د متکلم نه ددې د جوړولو طريقه: لِتُضْرَبْ (الی آخره) په غير د متکلم نه داد تُضْرَبْ (الی آخره) په غير د متکلم نه داسې جوړيږي چې ددې په شروع کې به لام امر مکسور راوړل شي نو د ټولو صيغو آخر ته به جزم ورکړې شي چې ددې وجې نه به په يوه صيغه کې ضمه اعرابي وغورځولې شي او سکون به راشي، په ځلورو صيغو کې به نون اعرابي غورځولې شي او په يوه صيغه کې به هيڅ عمل نه کوي ځکه چې دا مبني ده نو د تُضْرَبْ (الی آخره) په غير د متکلم نه لِتُضْرَبْ (الی آخره) په غير د متکلم نه جوړ شي.

لِيَضْرِبْ لِيُضْرَبْ (الی آخره) په غير د مخاطب نه ددې د جوړولو طريقه: لِيَضْرِبْ لِيُضْرَبْ (الی آخره) په غير د مخاطب نه داد يَضْرِبُ يُضْرَبُ (الی آخره) په غير د مخاطب نه داسې جوړيږي چې لام امر مکسور به ددې په شروع کې راوړل شي نو د ځلور صيغو نه به ضمه اعرابي وغورځولې شي نو سکون به راشي او د دري صيغو نه به نون اعرابي وغورځول شي او په يوه صيغه کې هيڅ عمل نه کوي ځکه چې دا مبني ده نو لِيَضْرِبْ لِيُضْرَبْ په غير د مخاطب نه به ترې جوړ شي.

لَا تَضْرِبْ لَا تُضْرَبْ: تر آخره پورې په غير د متکلم نه داسې جوړيږي چې د مضاوع په شروع کې به لا ناهيه جازمه راوړل شي نو آخر ته به جزم ورکړل شي د جزم د وجې نه د يوې صيغه نه ضمه اعرابي به وغورځيږي او د ځلورو صيغو نه به نون اعرابي وغورځولې شي او په يوه صيغه کې به هيڅ عمل نه کوي ځکه چې دا مبني ده نو د تَضْرِبُ تُضْرَبُ (الی آخره په غير د متکلم نه) نه به لَا تَضْرِبْ لَا تُضْرَبْ (الی آخره په غير د متکلم نه) به ترې جوړې شي.

فائده: د نهي د جوړولو طريقه: د نهي د جوړولو طريقه داده چې واحد د واحد نه، تثنيه د تثنيې نه، جمع د جمعې نه، مذکر د مذکر نه، مؤنث د مؤنث نه، حاضر د حاضر نه، غائب د غائب نه، متکلم د متکلم نه داسې جوړيږي چې فعل مضارع معلوم او مجهول په شروع کې به لا نفي راوړل شي نو آخر ته به جزم ورکړې شي چې ددې وجې نه د آخر نه به ضمه اعرابي نون اعرابي وغورځيږي او د مبني په صيغو کې به هيڅ عمل نه کوي.

لَا يَضْرِبْ لَا يُضْرَبْ: الیٰ آخره په غير د مخاطب نه داسې جوړيږي چې لا ناهيه جازمه ددې په شروع کې

به راوړل شي نو آخر ته به جزم ورکړې شي د جزم د وجې نه به د څلورو صیغو نه ضمه اعرابي وغورځولې شي او ساکن به شي او د دري صیغو نه به نون اعرابي وغورځولې شي او په یوه صیغه کې هیڅ عمل نه کوي ځکه چې دا مبني ده نو د يَضْرِبُ يُضْرَبُ (الی آخره په غیر د مخاطب نه) لَا يَضْرِبْ لَا يُضْرَبْ (الی آخره په غیر د مخاطب نه) جوړ شي.

د ظرف قانون / (۴) حکم

قانون: ظرف يَفْعِلُ و مثال مطلقاً بروزن مَفْعِلٌ می آید و از غیر يَفْعِلُ ناقص و لفیف و مضاعف بروزن مَفْعَلٌ می آید وجوباً و ما سوائے ایشان شاذ اند و از غیر ثلاثی مجرد بروزن اسم مفعول آن باب می آید وجوبا.

ترجمه: ظرف د يَفْعِلُ او د مثال مطلقاً په وزن د مَفْعِلٌ راځي او په غیر د يَفْعِلُ د ناقص او د لفیف او مضاعف ظرف مطلقاً په وزن د مَفْعَلٌ راځي وجوباً او په غیر ددې نه شاذ دی او په غیر د ثلاثي مجرد نه په وزن د اسم مفعول ددې باب راځي وجوباً.

نوم: ددې قانون نوم دی د ظرف والا قانون، چې ددې د پاره څلور حکمونه دي:

(۱) حکم: د مثال اسم ظرف مطلقاً د مَفْعِلٌ په وزن باندې ویل واجب دی.

اتفاقي مثال: وَعَدَ يَعِدُ نه مَوْعِدٌ، د وَجِلَ يَوْجَلُ نه مَوْجِلٌ.

(۲) حکم: د ناقص او د لفیف او د مضاعف اسم ظرف مطلقاً د مَفْعَلٌ په وزن باندې ویل واجب دی.

اتفاقي مثال د ناقص: دَعَا يَدْعُوْ نه مَدْعًى. **اتفاقي مثال د لفیف:** وَقٰى يَقِيْ نه مَوْقًى د مضاعف مَدَّ يَمُدُّ نه مَمْدَدٌ.

(۳) حکم: د صحیح، مهموز او د اجوف اسم ظرف په مضارع معلوم باندې دی که چیرته مضارع معلوم د يَفْعِلُ په وزن باندې وي نو اسم ظرف د مَفْعِلٌ په وزن باندې ویل واجب دی.

اتفاقي مثال د صحیح: ضَرَبَ يَضْرِبُ نه مَضْرِبٌ. **اتفاقي مثال د مهموز:** اَخَذَ يَأْخُذُ نه مَأْخِذٌ.

اتفاقي مثال د اجوف: بَاعَ يَبِيْعُ نه مَبِيْعٌ.

او که چیرته مضارع معلوم د يَفْعُلُ په وزن باندې نه وي نو اسم ظرف د مَفْعَلٌ په وزن باندې راوړل واجب دی.

اتفاقي مثال د صحیح: نَصَرَ يَنْصُرُ نه مَنْصَرٌ. **اتفاقي مثال د مهموز:** اَمَرَ يَأْمُرُ نه مَأْمَرٌ.

اتفاقي مثال د اجوف: قَالَ يَقُوْلُ نه مَقُوْلٌ.

(۴) حکم: د غیر ثلاثي مجرد اسم ظرف ددې باب د اسم مفعول په وزن باندې راوړل واجب دی.

اتفاقي مثال: اَكْرَمَ يُكْرِمُ نه مُكْرِمٌ. دَحْرَجَ يُدَحْرِجُ نه مُدَحْرَجٌ.

Maktaba Tul Ishaat.com

د ثلاثي مجرد د اسم ظرف جوړل : د ثلاثي مجرد اسم ظرف د فعل مضارع معلوم نه داسې جوړيږي چې د حرفِ مضارعت د حذف کولو نه پس د دې په ځای میم مفتوح علامت د اسم ظرف راوړل شي او عین کلمې ته به فتحه ورکړې شي خو په دې شرط چې عین کلمه به مضموم وي ، او که چیرته عین کلمه مکسور یا مفتوح وي نو دا به په خپل حال باندې پریښودلې شي او په آخر باندې به تنوین جاري کړې شي نو د فعل مضارع نه به اسم ظرف جوړ شي .

مَضْرِبٌ : مَضْرِبٌ د يَضْرِبُ نه داسې جوړيږي چې د یاء حرف مضارعت د حذف کولو نه پس میم مفتوح علامت د اسم ظرف به راوړل شي او په آخر کې به تنوین جاري کړې شي نو د يَضْرِبُ نه به مَضْرِبٌ جوړ شي .

مَضْرِبَانِ : مَضْرِبَانِ د مَضْرِبٌ نه داسې جوړيږي چې لکه څنګه چې د ضَارِبٌ نه ضَارِبَانِ جوړ شوې وو .

مَضَارِبُ : مَضَارِبُ د مَضْرِبٌ نه داسې جوړيږي چې په دریم ځای کې به الف علامت د جمع مکسر د ماقبل فتحې سره راوړل شي او د آخر نه تنوین تمکن چې علامت د اسم دی دا به حذف کړې شي د غیر منصرف کیدو د وجې نه نو د مَضْرِبٌ نه به مَضَارِبُ جوړ شي .

مُضَيْرِبٌ : مُضَيْرِبٌ د مَضْرِبٌ نه داسې جوړيږي چې اول حرف ته به ضمه او دوهم حرف ته به فتحه ورکړل شي دریم ځای کې به یا ساکن علامت د تصغیر راوړل شي او د دې پسې حرف ته به کسره ورکړل شي نو د مَضْرِبٌ نه به مُضَيْرِبٌ جوړ شي .

مِضْرَبَةٌ : مِضْرَبَةٌ د مَضْرِبٌ نه داسې جوړيږي چې تاء متحرکه علامت د اسم آله وسطی د ماقبل فتحې سره د دې په آخر کې به راوړل شي او په دې باندې به تنوین جاري کړې شي نو د مَضْرِبٌ نه به مِضْرَبَةٌ جوړ شي .

مِضْرَبَتَانِ : مِضْرَبَتَانِ داد مِضْرَبَةٌ نه داسې جوړيږي چې لکه څنګه ضَارِبَتَانِ د ضَارِبَةٌ نه جوړ شوې .

مَضَارِبُ : مَضَارِبُ د مِضْرَبَةٌ نه داسې جوړيږي چې اول او دوهم حرف ته به فتحه ورکړې شي او دریم ځای کې به الف علامت د جمع مکسر راوړل شي او د دې پسې حرف ته به کسره ورکړې شي آخر حرف ته به تاء واحده او تنوین به حذف کړې شي تاء د وجې د ضدیت د جمع او د تنوین د غیر منصرف کیدو د وجې نه نو د مِضْرَبَةٌ نه به مَضَارِبُ جوړ شي .

مُضَيْرِبَةٌ : مُضَيْرِبَةٌ د مِضْرَبَةٌ نه داسې جوړيږي چې اول حرف ته ضمه او دوهم ته فتحه ورکړې شي او دریم ځای کې یاء ساکن علامت د تصغیر راوړل شي د دې پسې حرف ته به کسره ورکړې شي نو د مِضْرَبَةٌ نه به مُضَيْرِبَةٌ جوړ شي .

مِضْرَابٌ : مِضْرَابٌ د مِضْرَبٌ نه داسې جوړيږي چې څلورم ځای کې به الف علامت د اسم آله کبری راوړې شي نو د اسم آله صغری نه به اسم آله کبری جوړ شي .

فائده : د اسم آله صغری د جوړولو طریقه : اسم آله صغری د فعل مضارع معلوم نه داسې جوړیږي چې حرف مضارع د حذف کولو نه پس ددې په ځای میم مکسور علامت د اسم آله صغری به راوړل شي او عین کلمه ته به فتحه ورکړل شي په دې شرط چې مخکې نه به فتحه نه وي او په لام کلمه باندې به تنوین جاري کړې شي نو د فعل مضارع نه به اسم آله صغری جوړ شي .

د اسم آله وسطی د جوړولو طریقه : اسم آله وسطی د اسم آله صغری نه داسې جوړیږي چې ددې په آخر کې تاء متحرکه علامت د اسم آله وسطی د ماقبل فتحې سره به راوړل شي او تنوین به په دې باندې جاري کړې شي نو د اسم آله صغری نه به اسم آله وسطی جوړه شي .

د اسم آله کبری د جوړولو طریقه : اسم آله کبری د اسم آله صغری نه داسې جوړیږي چې څلورم ځای کې به الف علامت د اسم اله کبری راوړل شي نو د اسم آله صغری نه به اسم آله کبری جوړه شي .

مِضْرَابَانِ : مِضْرَابَانِ د مِضْرَابٌ نه داسې جوړ شوې چې لکه څنګه ضَارِبَانِ د ضَارِبٌ نه جوړ شوې وو .

مَضَارِيْبُ : مَضَارِيْبُ د مِضْرَابٌ نه داسې جوړیږي چې اول او دوهم حرف ته به فتحه ورکړې شي او دریم ځای کې به الف علامت د جمع مکسر راوړل شي ددې نه پس به حرف ته کسره ورکړې شي او الف به په یاء سره بدل شي او د آخر نه به تنوین تمکن علامت د اسمیت حذف شي د غیر منصرف کیدو د وجې نه نو د مِضْرَابٌ نه به مَضَارِيْبُ جوړ شي .

موزون	وزن	سه اقسام	در اصل	قانون
مَيْنِعٌ	مَفْعِلٌ	ظرف	يَمْنَعُ	ظرف حکم نمبر۱
مُذَبْذَبٌ	مُفَعْلَلٌ		يُذَبْذِبُ	ظرف حکم نمبر۲
مَثَاقِيْلُ	مَفَاعِيْلُ	آله کبری	يَثَاقِيْلُ	ضورب ، مضارب
مُرْفَتٌ	مُفْعَلٌ	ظرف	يُرْفَتُ	ظرف حکم نمبر۳
مَعْسَرٌ	مَفْعَلٌ	ظرف	يَعْسَرُ	ظرف حکم نمبر۲
مَرَدٌّ			يَرَدُّ	
تُمُوْزِدَ	تُفُوْعِلَ	ماضي مجهول	تَمَازَدَ	ضورب
مُشَيْرِيْفٌ	مُفَيْعِيْلٌ	آله کبری		
مُقَرْوَدَنٌ	مُفَعْوَلٌ	ظرف		ظرف حکم نمبر۳

د ضُوْرِبَ ، مَضَارِيْبُ قانون (۱) حکم

قانون: هر الف که حرکت ماقبلش مخالف شود آن را بموفق حرکت ماقبل بحرف علت بدل کنند وجوباً .

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : هر هغه الف چې حرکت د ماقبل مخالف شي نو دا به موافق د حرکت د ماقبل په حرف علت سره بدلولې شي وجوباً .

نوم : ددې قانون نوم دی د ضُوْرِبَ ، مَضَارِيْبُ والا قانون ، چې ددې د پاره یو حکم دی .

حکم : الف د ماقبل حرکت موافق په حرف علت سره بدلول واجب دی .

اتفاقي مثال : د ضَارَبَ نه ضُوْرِبَ ، او د مِضْرَابٌ نه مَضَارِيْبُ ویل واجب دی .

د اسم تفضیل مذکر د جوړولو طریقه : د اسم تفضیل مذکر جوړولو طریقه داده چې اسم تفضیل المذکر د فعل مضارع نه د اسم جوړیږي چې حرف مضارعت د حذف کولو نه پس به همزه مفتوحه چې علامت د اسم تفضیل المذکر دی دا به راوړل شي او عین کلمې ته به فتحه ورکړل شي په دې شرط چې د مخکې نه په عین کلمه باندې فتحه نه وي او په آخر کې به تنوین تمکن علامت د اسم دی دا به مقدر کړل شي نو د فعل مضارع نه به اسم تفضیل المذکر جوړ شي .

د اسم تفضیل مؤنث د جوړولو طریقه : اسم تفضیل مؤنث د اسم تفضیل المذکر نه د اسم جوړیږي چې د همزه مفتوحه د حذف کولو نه پس به فاء کلمې ته ضمه ورکړې شي او عین کلمه به ساکن کړې شي او په آخر کې به الف مقصوره علامت د اسم تفضیل مؤنث د ماقبل فتحې سره راوړې شي او په آخر کې به تنوین مقدر کړې شي نو د اسم تفضیل مذکر نه به اسم تفضیل مؤنث جوړ شي .

أَضْرَبُ : أَضْرَبُ د يَضْرِبُ نه د اسم جوړیږي چې د حرف مضارعت د حذف کولو نه پس به ددې په ځای الف علامت د تفضیل مذکر راوړې شي او عین کلمې ته به فتحه ورکړې شي او په آخر کې به تنوین تمکن چې علامت د اسم دی دا به مقدر کړې شي نو د يَضْرِبُ نه به أَضْرَبُ جوړ شي .

أَضْرَبَانِ : أَضْرَبَانِ د أَضْرَبُ نه د اسم جوړ شوې لکه څنګه چې ضَارِبَانِ د ضَارِبٌ نه جوړ شوې .

أَضَارِبُ : أَضَارِبُ د أَضْرَبُ نه د اسم جوړیږي چې په دریم ځای کې به علامت د جمع مذکر مکسر د ماقبل فتحې سره راوړې شي او ددې پسې حرف ته به کسره ورکړې شي نو د أَضْرَبُ نه به أَضَارِبُ جوړ شي .

أُضَيْرِبُ : أُضَيْرِبُ داد أَضْرَبُ نه د اسم جوړیږي چې اول حرف ته ضمه او دوهم ته فتحه او دریم ځای کې به یا ساکن علامت د تصغیر راوړې شي او ددې پسې حرف ته به کسره ورکړې شي او په آخر کې به تنوین مقدره ظاهر کړې شي نو د أَضْرَبُ نه به أُضَيْرِبُ جوړ شي .

ضُرْبَى : ضُرْبَى د أَضْرَبُ نه د اسم جوړیږي چې د همزه مفتوحه د حذف کولو نه پس فاء کلمې ته به ضمه ورکړې شي او عین کلمه به ساکن کړې شي او په آخر کې به الف مقصوره علامت د اسم تفضیل المؤنث د ماقبل فتحې سره راوړې شي او په آخر کې به تنوین مقدر کړې شي نو د أَضْرَبُ نه به ضُرْبَى جوړ شي .

د الف مقصوره او الف ممدوده قانون / (۵) حکم / (۳) شرط

قانون : هر الف مقصورہ سوم جا بدل از واو یا اصلی کہ امالہ کردہ نہ شود وقت بناء کردن تثنیہ و جمع مؤنث سالم آن را بواو مفتوحہ بدل کنند وجوباً وغیرش را بیاء ممدودہ اصلی را ثابت دارند و تانیثی را بواو بدل کنند وجوباً و در غیر ایشان هردو وجہ خواندن جائز است۔

ترجمہ : هر الف مقصورہ چې په دریم ځای کې بدل د واو وي یا اصلي وي چې امالہ یې نه وي شوې نو په وخت د جوړولو د تثنیې او د جمع مؤنث سالم کې دا به په واو مفتوحه سره بدلولې شي وجوباً او غیر ددې نه دا به په یاء ممدوده اصلي لره ثابت وي او تانیث به یې په واو سره بدلولې شي وجوباً او په غیر ددې نه هر دواړه وجهې لوستل جائز دی۔

نوم : ددې قانون نوم دی د الف مقصوره او الف ممدوده والا قانون، چې ددې د پاره پنځه (۵) حکمونه دی دوه حکمه د الف مقصوره د پاره دی او دري حکمونه د الف ممدوده د پاره، د الف مقصوره د اول حکم د پاره دوه شرطونه دي، د دوهم حکم د پاره یو شرط دی۔

(۱) **حکم** : الف مقصوره د تثنیې او د جمع مؤنث سالم د جوړولو په وخت کې په واو مفتوحه سره بدلول واجب دی۔

(۱) **شرط** : شرط دادی چې الف مقصوره به په دریم ځای کې وي او په واو سره به بدل شوې هم وي۔

اتفاقي مثال : عَصَا نه عَصَوَانِ عَصَوَاتٌ ویل واجب دی۔

(۲) **شرط** : چې الف مقصوره اصلي وي چې په دې کې امالہ ونه شي۔

اتفاقي مثال : د اِلٰی نه اِلَوَانِ اِلَوَاتٌ ویل واجب دی۔

(۲) **حکم** : الف مقصوره د تثنیې او د جمع مؤنث سالم د جوړولو په وخت کې په یاء سره بدلول واجب دی۔

شرط : چې د الف مقصوره د اولني حکم د دوه شرطونو نه یو شرط په دې کې ونه موندل شي۔

احترازي مثال : عَطٰی اِلٰی۔ **اتفاقي مثال** : ضُرْبٰی نه ضُرْبَيَانِ ضُرْبَيَاتٌ ویل واجب دي۔

(۳) **حکم** : دا چې الف ممدوده اصلي ثابت ساتل واجب دی۔

اتفاقي مثال : قُرَّاءٌ نه قُرَّاءَانِ، قُرَّاءَاتٌ ویل واجب دی۔

(۴) **حکم** : الف ممدوده تانیثي په واو سره بدلول واجب دی۔

اتفاقي مثال : حَمْرَآءُ نه حَمْرَوَآنِ حَمْرَاوَاتٌ ویل واجب دی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

(٥) حکم : الف ممدوه اصلي هم نه وي او تانيثي هم نه وي نو مخکنيو دواړو وجهو سره ويل جائز دی.

اتفاقي مثال : د همزې ثابت ويل لکه کِسَاءٌ نه کِسَاءَانِ کِسَاءَاتٌ ويل جائز دی، او اتفاقي مثال همزه په واو مفتوحه سره بدلول لکه کِسَاءٌ نه کِسَاوَانِ کِسَاوَاتٌ ويل جائز دی.

فائده : هغه الف چې د اسم په آخر کې وي دا په دوه قسمه دي : (١) الف مقصوره، (٢) الف ممدوده.

الف مقصوره : دا هغه دی چې ددې نه پس همزه نه وي برابره خبره ده که اصلي وي لکه عَصًا يا زائده وي لکه حُبْلَى.

وجه تسميه : مقصوره د قصر نه دی د قصر معنی ده بندیدل چونکې په دې کې آواز بندیږي نو ددې وجې نه دې ته مقصوره وايي، او ممدوده د مد نه دی چې ددې معنی ده راښکل، راکاږل او دا هم چونکې راښکلې شي او ويلې شي نو ددې وجې نه دې ته ممدوده وايي.

د الف مقصوره اقسام : الف مقصوره په اوه (٧) قسمه دی : (١) هغه الف مقصوره چې په هغې کې اماله ونه کړې شي لکه إِلَى، (٢) هغه الف مقصوره چې په هغې کې اماله وکړې شي لکه مَتَى، (٣) هغه الف مقصوره کوم چې په واو سره بدل شوې وي لکه عَطَى، (٤) هغه الف مقصوره چې د تانيث د پاره زيات کړې شوې وي لکه حُبْلَى، (٥) هغه الف مقصوره چې د الحاق د پاره زيات کړې شوې وي لکه أَرْطَى، (٦) هغه الف مقصوره په څلورم يا پنځم يا شپږم ځای کې وي لکه مُوسَى، (٧) هغه الف مقصوره چې په ياء سره بدل شوې وي لکه رَمَى.

اماله : اماله په لغت کې مطلق ميلان کولو او را اوچتولو ته وايي او د امالې تعريف دادی چې فتحه کسرې طرف ته مائله کول او الف ياء طرف ته مائله کول يعني حرکت د فتحې د فتحې او کسرې په مينځ کې ويل او الف د الف او د ياء په مينځ کې ويل (نه خالصه فتحه او نه خالصه کسره) دې ته اماله وايي.

په اماله کې د اهل فن د علماو اختلاف : په اماله کې د اهل فن د علماو اختلاف دی : په فصول اکبري کې دی چې فتحه کسرې طرف ته او الف ياء طرف ته راښکل، او صاحب د مفصل ويلې چې د الف اماله اصل او د فتحې اماله فرع ده، ليکن علامه ابن حاجب صرف د فتحې د امالې ذکر کړې دی د الف د امالې ذکر يې نه دی کړې، صاحب د رضي اګر چې توجيه ذکر کړې ده چې په رضي کې ذکر ده.

نوټ : بعضې د صرف په کتابونو کې ليکل شوې دي چې اماله صرف په شپږو کلمو کې وي : (١) مَتَى، (٢) انى، (٣) ذا، (٤) بلى، (٥) لا، (٦) اذا.

فائده : الف ممدوده په څلوز قسمه دي : (١) اصلي، (٢) تانيثي، (٣) الحاقي، (٤) غير اصلي.

(١) اصلي : چې د لام په مقابله کې وي او غير مبدل وي لکه قُرَّاءٌ.

(٢) تانيثي : دا هغه دې چې علامت د تانيث وي او زائده وي لکه حَمْرَاءُ.

(۳) الحاقي: چې يوه کلمه د بلې کلمې د هم وزن کولو د پاره زياتولې شي لکه علب نه عِلْبَاءٌ . قِرطَاسٌ.

(۴) غير اصلي: کوم چې علامت د تانيث وي او په واو او يا ياء سره بدل شوې وي لکه کِسَاءٌ ، رِدَاءٌ .

نوټ: الف ممدوده اصلي به ثابت ساتلې شي او تانيثي به په واو سره بدلولې شي الحاقي او غير اصلي په دواړو وجهو سره ويلې شي .

د صيغو د جوړولو طريقې :

ضُرْبَيَانِ : ضُرْبَيَانِ د ضُرْبٰى نه داسې جوړيږي چې الف مقصوره به په ياء مفتوحه سره بدل کړې شي او ددې نه پس به الف علامت د تثنيې راوړې شي نون مکسور عوض د هغې ضمې چې په واحد کې دننه وه يا تنوين مقدره يا دواړه به ددې په آخر کې راوړل شي نو ضُرْبَيَانِ به ترې جوړ شي .

ضُرْبَيَاتٌ : ضُرْبَيَاتٌ د ضُرْبٰى نه داسې جوړيږي چې الف مقصوره به په ياء مفتوحه سره بدل کړې شي او ددې په آخر کې به الف او تاء علامت د مؤنث سالم راوړل شي او په آخر باندې به تنوين مقدره ظاهر کړې شي نو د ضُرْبٰى نه به ضُرْبَيَاتٌ جوړ شي .

ضُرَبٌ : ضُرَبٌ د ضُرْبٰى نه داسې جوړيږي چې دوهم حرف ته به فتحه ورکړې شي او د آخر نه به الف مقصوره حذف کړې شي او تنوين مقدره به ظاهر کړې شي نو د ضُرْبٰى نه به ضُرَبٌ جوړ شي .

ضُرَيْبٰى : ضُرَيْبٰى د ضُرْبٰى نه داسې جوړيږي چې اول حرف به په خپل حال باندې پريږدول شي او دوهم ته به فتحه ورکړل شي او په دريم ځای کې به ياء ساکن علامت د تصغير راوړل شي نو د ضُرْبٰى نه به ضُرَيْبٰى جوړ شي.

دشَهِدَ قانون / (۴) حکم

قانون: هر کلمه حلقي العين که بروزن فَعِلَ باشد سوائے اصل در آن سه وجه خواندن جائز اند و اگر حلقي العين نباشد در فعل سوائے اصل يك وجه و در اسم سوائے اين دو وجه خواندن جائز اند و اگر فُعِلَ حلقي العين باشد سوائے اصل دو وجه و اگر غير حلقي العين باشد يك خواندن جائز است و در وزن فَعُلٌ فُعُلٌ و در فُعُلٌ فُعُلٌ خواندن جائز است .

ترجمه : هر هغه کلمه چې حلقي العين وي او په وزن د فَعِلَ وي په غير د اصل نه نو په دې کې دري وجهې ويل جائز دي او که چيرته حلقي العين نه وي په فعل کې په غير د اصل نه يوه وجه جائز ده او په اسم کې په غير ددې دوو نه ويل جائز دي او که چيرته فُعِلَ حلقي العين وي په غير د اصل نه دوه وجهې او که چيرته غير حلقي العين وي يوه وجه ويل جائز دي او په فَعُلٌ کې فَعُلٌ او په فِعِلٌ کې فِعُلٌ او په فُعُلٌ کې فُعُلٌ او په فُعُلٌ

Maktaba Tul Ishaat.com

کې فُعُلٌ ویل جائز دی .

نوم : ددې قانون نوم دی د شَهِدَ قانون ، چې ددې د پاره څلور حکمونه دی :

(۱) حکم : چې کلمه حلقي العین د فَعِلَ په صورت کې برابره خبره ده که دا صورت په شروع کې وي یا په مینځ کې او یا په آخر کې نو په غیر د اصل نه دري وجهې ویل جائز دی .

اتفاقي مثال : شَهِدَ لره شَهُدَ شِهْدَ شِهِدَ او فَخِذٌ لره فَخُذٌ فِخْذٌ فِخِذٌ ویل جائز دی .

(۲) حکم : کلمه حلقي العین نه وي د فَعِلَ په صورت کې وي نو په غیر د اصل نه په فعل کې یوه وجه او په اسم کې دوه وجهې لوستل جائز دی .

اتفاقي مثال د فعل : عَلِمَ لره عَلَمَ ویل جائز دی .

اتفاقي مثال د اسم : کَتِفٌ لره کَتْفٌ کِتْفٌ ویل جائز دی .

(۳) حکم : که چیرته فُعِلَ حلقي العین وي نو په غیر د اصل نه دوه وجهې ویل جائز دی .

اتفاقي مثال : عُهِدَ لره عُهُدَ عِهْدَ ویل جائز دی .

او که چیرته فُعِلَ حلقي العین نه وي نو په غیر د اصل نه یوه وجه ویل جائز دی .

اتفاقي مثال : ضُرِبَ لره ضُرْبَ ویل جائز دی .

(۴) حکم : په څلورو وزنونو کې به په یو وزن باندې وي نو په غیر د اصل نه صرف یوه وجه ویل جائز دی .

اتفاقي مثال : عَضُدٌ لره عَضْدٌ ، اِبِلٌ لره اِبْلٌ او عُنُقٌ لره عُنْقٌ ، او قُفْلٌ لره قُفُلٌ ویل جائز دی .

اَضْرِبُ بِهٖ : داد ضَرْبًا نه داسې جوړیږي چې همزه مفتوحه د فاء کلمې د سکون سره ددې په اول کې راوړل شي او عین کلمې ته به کسره ورکړې شي او د آخر نه به تنوین تمکن چې علامت د اسم دی دا به حذف کړې شي او آخر به مبني بر سکون کړې شي نو د ضَرْبًا نه به اَضْرِبُ بِهٖ جوړ شي .

ضَرُبَ : ضَرُبَ د ضَرْبًا نه داسې جوړیږي چې اول حرف په خپل حال باندې پریښودل شي او دوهم حرف ته به ضمه ورکړې شي او د آخر نه به تنوین تمکن چې علامت د اسم دی دا به حذف کړې شي او آخر به مبني بر فتحه کړې شي نو د ضَرْبًا نه به ضَرُبَ جوړ شو .

د فعل تعجب د جوړولو طریقه : مَا اَضْرَبَهُ د ضَرْبًا نه داسې جوړیږي چې همزه مفتوحه علامت د فعل تعجب د فاء کلمې د سکون سره به راوړل شي عین کلمې ته به فتحه ورکړې شي او د آخر نه به تنوین تمکن علامت د اسم حذف کړې شي او آخر به مبني بر فتحه کړې شي نو د ضَرْبًا نه به مَا اَضْرَبَهُ جوړ شو .

فائده : په دې قانون کې د فَعِلَ نه مراد وزن نه دی بلکه د فَعِلَ صورت مراد دی بیا ددې نه مخکې دوه حرفه (فَعِ) صورت دی برابره خبره ده چې دا صورت د کلمې په شروع کې وي یا په آخر کې ، په یو کلمه کې وي یا دوه کلمو کې دا ساکن ویل جائز دی لکه وَهِيَ لره وَهْيَ ویل جائز دی وَلْيَضْرِبْ لره وَلِيَضْرِبْ په قرآن مجید کې لام

امر ساکن کول ویلې شي لکه وَل.

موزون	وزن	سه اقسام	در اصل	قانون
نِعْمَتْ	فَعِلَتْ	ماضي معلوم		شهد حکم نمبر۱
فَضَرَيْنِي	فُعَيْلٰى	اسم تفضيل		حکم نمبر۳
بِئْسَا	فَعِلَا	فعل ماضي		حکم نمبر۱
ضَرْبَ ۲ عدد	فَعْلٌ	مصدر		
ضَرُبَ	فعل	فعل تعجب		حلقي حکم نمبر۳
مِضْرَابٍ	فِعَالٌ	اسم فاعل		حکم نمبر۲

د تِعْلَمُ اِعْلَمُ ، نِعْلَمُ قانون (۱) حکم (۲) شرائط

قانون: هرباب که ماضی او مکسور العین و مضارع او مفتوح العین یا در اول ماضی او همزه وصلی یا تائے زائدہ مطردہ باشد در مضارع معلوم او حروف اتین را بغیر یاء حرکت کسرہ می دهند جواز او در مضارع معلوم اَبٰی یَأْبٰی یائے را نیز .

ترجمه : هر هغه باب چې ماضي يې مکسور العين او مضارع يې مفتوح العين يا په اول د ماضي دې کې همزه وصلي يا تاء زائده مطرده وي په مضارع معلوم دې کې حروف اتين ته په غير د ياء نه حرکت د کسرې ورکوي جوازاً او په مضارع معلوم کې د اَبٰی يَأْبٰی ياء ته هم.

نوم : دې قانون نوم دی د تِعْلَمُ اِعْلَمُ نِعْلَمُ قانون ، چې دې د پاره يو حکم او درې شرطونه دي :

(۱) حکم : په مضارع معلوم کې د حروف اتين نه غير د ياء حرکت لره کسره ورکول جائز دی .

(۱) شرط : چې داسې باب وي چې دې ماضي مکسور العين او مضارع مفتوح العين وي .

احترازي مثال : ضَرَبَ ، يَضْرِبُ .

اتفاقي مثال : تَعْلَمُ اَعْلَمُ نَعْلَمُ نه تِعْلَمُ اِعْلَمُ نِعْلَمُ ويل جائز دی .

(۲) شرط : داسې باب وي چې د ماضي په شروع کې همزه وصلي وي .

احترازي مثال : اَكْرَمَ يُكْرِمُ .

اتفاقي مثال : تَكْتَسِبُ ، اَكْتَسِبُ ، نَكْتَسِبُ نه تِكْتَسِبُ ، اِكْتَسِبُ ، نِكْتَسِبُ ويل جائز دی .

(۳) شرط : داسې باب وي چې د ماضي په شروع کې يې تاء زائده مطرده وي .

احترازي مثال : ضَارَبَ يُضَارِبُ .

Maktaba Tul Ishaat.com

اتفاقي مثال : تَتَصَرَّفُ ، اَتَصَرَّفُ ، نَتَصَرَّفُ نه يَتَصَرَّفُ ، اِتَصَرَّفُ ، نِتَصَرَّفُ ويل جائز دی .

فائده : د باب افعال نه علاوه د تولو بابونو همزې وصلي وي لکه اِفْتِعَال ، اِنْفِعَال ، اِسْتِفْعَال وغيره .

د تاء زائده مطرده تعريف : تاء زائده مطرده هغې تاء ته وايي چې د مجرد باب نه د مزيد جوړولو په وخت کې قياساً په اول کې راوړې شي دا دري بابونه دي : (۱) تَفَعْفَلَ ، (۲) تَفَاعُلَ ، (۳) تَفَعْلُلَ . په اَبَى يَأْبَى کې ياء ته هم حرکت د کسرې ورکول جائز دی .

دوزن اقسام : وزن په دري قسمه دي : (۱) صرفي ، (۲) صوري ، (۳) عروضي :

(۱) وزن صرفي : دا هغه دی چې په دې کې د دري شيانو اعتبار شوې وي : (۱) د حروف اصلي او د حروف زائدو ، (۲) د حروفو د تعداد ، (۳) د حرکاتو او د سکناتو لکه شَرِيْفٌ په وزن د فَعِيْلٌ .

(۲) وزن صوري : دا هغه دی چې په دې کې د دوه شيانو اعتبار شوې وي : (۱) د حروفو د تعداد ، (۲) د حرکاتو او سکناتو ليکن د حرف اصلي او زائده اعتبار نه وي لکه شَرَائِفُ په وزن د مَفَاعِلُ .

(۳) وزن عروضي : دا هغه دی چې په دې کې صرف د يو څيز يعنې د حرونو د تعداد اعتبار شوې وي او د حرکاتو د مطابقت اعتبار نه وي ليکن د سکون او د حرکت اعتبار وي لکه شَرِيْفٌ په وزن د فَعُوْلٌ ، په دې وزن کې حرکات مختلف دی ليکن سکون چې چيرته په اول وزن کې دي هلته په دوهم وزن کې هم دي او په دې قانون کې صرف وزن صوري معتبر دی .

د مَنَعَ يَمْنَعُ قانون / (۱) حکم

قانون: در باب مَنَعَ يَمْنَعُ عين يا لام كلمه از حروف حلقى آوردن واجب است مگر رَكَنَ يَرْكُنَ سَجَى يَسْجِى اَبَى يَأْبَى عض يعض كاد يكاد شاذ اند .

ترجمه : په باب د منع يمنع کې عين يا لام کلمه د حروف حلقي نه راوړل واجب دي مګر رکن يرکن ، سجى يسجى ، ابى يأبى ، عض ، يعض ، کاد يکاد شاذ دی .

نوم : ددې قانون نوم دی مَنَعَ يَمْنَعُ قانون ، چې ددې د پاره يو حکم دی .

حکم : ددې حکم دا دی چې د مَنَعَ يَمْنَعُ د باب عين يا لام کلمه د حروف حلقيو نه راوړل واجب دي .

اتفاقي مثال : مَنَعَ يَمْنَعُ ، ذَهَبَ يَذْهَبُ .

د شَرَائِفُ قانون / (۱) حکم / (۲) شرط

قانون: هر حرف علت كه واقع شود بعد از الف مفاعل آن را به همزه بدل كنند وچون زائده را مطلقاً و اصلى را بشرط تقدم حرف علت بر الف مفاعل .

ترجمه : هر هغه حرف علت چې واقع شي پس د الف د مفاعل نه دا به په همزې سره بدلولې شي وجوباً ، زائده مطلقاً او اصلي په شرط د مخکې والې د حرف علت په الف د مفاعل باندې .

نوم : ددې قانون نوم دی د شرائف قانون ، چې ددې د پاره یو حکم او دوه شرطونه دی :

حکم : حرف علت په همزې سره بدلول واجب دی .

د حرف علت زائده شرط : چې حرف علت به د الف مفاعل نه بعد وي .

احترازي مثال : قَوْلٌ، بَيْعٌ. **اتفاقي مثال** : شَرَايِفُ نه شَرَائِف، عَجَاوِزُ نه عَجَائِزُ، رَسَايِلُ نه رَسَائِلُ.

د حرف علت اصلي شرط : چې حرف علت اصلي به د الف مفاعل نه مخکې هم وي او د الف مفاعل نه بعد به هم وي .

احترازي مثال : مَقَاوِلُ، مَبَايِعُ . **اتفاقي مثال** : قَوَاوِلُ نه قَوَائِلُ، بَوَايِعُ نه بَوَائِعُ شو .

فائده : الف جمع به د څلورو حالاتو نه خالي نه وي : (۱) د دوو واوونو په مینځ کې به وي لکه اَوَاوِلُ ، (۲) د دوو یاءګانو په مینځ کې به وي لکه خیایر ، (۳) د واو او د یاء په مینځ کې به وي لکه بَوَايِعُ ، (۴) د یاء او د واو په مینځ کې به وي لکه سَيَاوِنُ .

فائده : تخصیص د الف مفاعل صحیح نه دی ځکه چې دا قانون په اَفَاعِلُ او قَوَاعِلُ کې هم جاري کیږي لکه اَوائِلُ دلته وزن صوري مراد دی .

موزون	وزن	سه اقسام	در اصل	قانون
اِعْلَمْ بغیر امر	اَفْعَلُ	مضارع معلوم		تعلم
اِتَّحَنَّتُ	اَتَّفَعَّلُ	مضارع		
حَوَائِرُ	فَوَاعِلُ	اسم فاعل		شرائف
اِجْتَهِدْ۲	اَفْتَعِلُ	مضارع		تعلم
اِجْتَهِدْ	اِفْتَعِلْ	امر حاضر		
قُوِلَ	فُوْعِلَ	ماضي مجهول		ضورب مضاریب
تِتَاخَرُ	تَتَفَاعَلُ	مضارع		تعلم
فَشُهَدَاءُ	فُعَلَاءُ	صفت مشبه		حلقي حکم نمبر۳
اِلْصَرِفْ بغیر امر	اَلْفَعِلُ	مضارع		تعلم
لَمْ تَصَرَّفْ	مُتَفَعَّلٌ	اسم مفعول		حکم نمبر۳
حَمْرَوَانِ	فَعْلَاوَانِ	صفت مشبه		الف مقصوره
فَرْغَبْ	فَعَلٌ	اسم تفضیل		حلقي حکم نمبر۳

Maktaba Tul Ishaat.com

مصادر ابواب ثلاثي مجرد :

باب اول :صرف صغير ثلاثي مجرد صحيح از باب **فَعَلَ يَفْعِلُ** چون اَلضَّرْبُ ، وهل .

(۱) اَلْكَذِبُ دروغ ويل ، (۲) اَلْجُلُوْسُ كيناستل ، (۳) اَلْحَبْسُ بنديدل ، (۴) اَلصَّبْرُ منع كيدل ، صبر كول ، (۵) اَلْحَلْقُ سر خريل .

باب دوم:صرف صغير ثلاثي مجرد صحيح از باب **فَعَلَ يَفْعِلُ** چون النصرُ و النُصرة ، مدد او مرسته كول.

(۱) اَلْخُرُوْجُ وتل ، (۲) اَلدُّخُوْلُ داخليدل ، اَلْقُعُوْدُ كيناستل ، (۳) اَلطَّلَبُ طلب كول يا غوښتل ، (۴) اَلْهَرْبُ تختيدل ، (۵) اَلْخُلُوْدُ هميشه پاتې كيدل .

باب سوم :صرف صغير ثلاثي مجرد صحيح از باب **فَعِلَ يَفْعَلُ** چون اَلْعِلْمُ ، پيژندل .

(۱) اَلسَّمْعُ اوريدل (۲) اَلْقُدُوْمُ راتلل (۳) اَلْعَطْشُ تكي كيدل (۴) اَللُّبْسُ اغوستل (۵) اَلضِّحْكُ خندل .

باب چهارم :صرف صغير ثلاثي مجرد صحيح از باب **فَعَلَ يَفْعِلُ** چون اَلْمَنْعُ ، منع كيدل.

(۱) اَلْفَتْحُ خلاصيدل (۲) اَلذِّهَابُ تلل (۳) اَلْمَدْحُ تعريف كول (۴) اَلرَّفْعُ اوچتول (۵) اَلدَّفْعُ لرې كول.

باب پنجم :صرف صغير ثلاثي مجرد صحيح از باب **فَعِلَ يَفْعِلُ** چون اَلْحَسَبُ وَالْحَسْبَانِ گمان كول .

(۱) اَلْحَمْدُ ، (۲) اَلشُّرْبُ ، (۳) اَلشَّهَادَةُ ، (۴) اَلضَّحْكُ ، (۵) اَلْفَهْمُ .

باب ششم :صرف صغير ثلاثي مجرد صحيح از باب **فَعُلَ يَفْعُلُ** چون اَلشَّرْفُ وَالشَّرَافَةُ بزرګ كيدل.

(۱) اَلْقُرْبُ نزدې كيدل (۲) اَلْبُعْدُ لرې كيدل (۳) اَلْبَصَارَةُ ليدل (۴) اَلْكَرَامَةُ بزرګ كيدل (۵) اَلْعَظَمَةُ غټيدل

فائده :د ثلاثي مجردو احتمالات ټول نهه (۹) بابونه دي او استعمالات يې شپږ (٦) بابونه دي او د هغه دري بابونه يې غير مستعمل دي :(۱) ماضي مكسور العين مضارع مضموم العين لكه **فَعِلَ يَفْعُلُ** (۲) ماضي مضموم العين مضارع مكسور العين لكه **فَعُلَ يَفْعِلُ** (۳) ماضي مضموم العين مضارع مكسور العين لكه **فَعُلَ يَفْعِلُ** .

شروع شو ثلاثي مزيد فيه :

باب اول صرف كبير ثلاثي مزيد فيه از باب افعال چون اَلْاِكْرَامُ عزت كول .

دا اَكْرَمَ (ماضي) جوړول :اَكْرَمَ دا اِكْرَامًا څخه داسې جوړيږي چې د همزې كسره به پېه فتحې سره بدل شي او تنوين علامت د مصدر به حذف كړې شي او آخر به مبني بر فتحه وګرځولې شي نو دا اِكْرَامًا نه به اَكْرَمَ جوړ شي

يُكْرِمُ تُكْرِمُ اُكْرِمُ نُكْرِمُ (مضارع) : د اَكْرَمَ نه داسې جوړيږي چې يو حرف د حروف اتين نه به مضموم ددې پېه اول كې راوړلې شي او ماقبل آخر لره به كسره وركړې شي او پېه آخره كې به ضمه اعرابي راوړلې شي نو د اَكْرَمَ نه به يُكْرِمُ تُكْرِمُ اُكْرِمُ نُكْرِمُ جوړ شي ، بيا د واحد متكلم پېه صيغو كې دوه همزې يو ځاى شوې او دغسې دوه همزې يو ځاى كيدل دا پېه كلام د عرب كې ناخوښ دي نو ځكه دوهمه همزه

خلاف قاعده حذف کړي شوه او په پاتې صیغو کې هم همزه حذف کړي شوه ددې د پاره چې د تول باب حکم یو شي نو د يُاَكْرِمُ تُاَكْرِمُ اُاَكْرِمُ نُاَكْرِمُ نه يُكْرِمُ تُكْرِمُ اُكْرِمُ نُكْرِمُ به جوړ شي.

اَكْرِمْ (امر): اَكْرِمُ الخ د تَكْرِمُ الخ څخه داسې جوړېږي چې تُكْرِمُ به خپل اصل طرف ته واپس کړې شي او تاء حرف مضارعت به حذف کړې شي نو چونکه مابعد متحرک وُ نو لهذا امر به همدغسې باقي وي حرف آخر لره به وقف کړې شي د وقف د وجې نه به په یو صیغه کې ضمه اعرابي وغورځولې شي او سکون به راشي په ځلورو صیغو کې به نون اعرابي وغورځولې شي او په یو صیغه کې به هیڅ عمل ونه کړي شي ځکه چې هغه مبني ده نو تَكْرِمُ الخ څخه به بغیر د متکلم نه اَكْرِمُ الخ بغیر د متکلم نه جوړ شي.

د همزه وصلي او همزه قطعي والا قانون (۲) حکم

قانون: هر همزهٔ زائده که واقع شود، در اول کلمه وصلی باشد یا قطعی حکم وصلی این که در درج کلام و بمتحرك شدن مابعد بیفتد و حکم قطعی عکس این است و همزهٔ قطعی نه قسم است همزهٔ باب افعال، و واحد متکلم، و اسم تفضیل و جمع، و اعلام، و بنا، و فعل تعجب، و استفهام و نداء و ما سوای ایشان وصلی اند.

ترجمه: هر هغه همزهٔ زائده چې واقع شي په اول د کلمه کې وصلي وي یا قطعي، د وصلي حکم دادی چې په مینځ کې د واقع کیدو او په متحرک کیدو د مابعد سره غورځیږي او حکم د قطعي ددې بالعکس دی او همزهٔ قطعي په نهه قسمه دی همزهٔ د باب افعال، واحد متکلم، اسم تفضیل جمع، اعلام، بناء، فعل تعجب، استفهام نداء او په غیر ددې نهو قسمونو نه وصلي دی.

نوم: ددې قانون نوم همزهٔ وصلي او قطعي والا قانون دی، ددې د پاره دوه حکمونه دی یو حکم د همزهٔ وصلي د پاره او یو حکم د همزهٔ قطعي د پاره.

(۱) حکم: همزهٔ وصلي په دوو صورتونو کې حذف کول واجب دی:

اولنې صورت: چې کله همزهٔ وصلي د کلام په مینځ کې راشي. **اتفاقي مثال**: اِضْرِبْ نه فَاضْرِبْ.

دویم صورت: چې کله د همزهٔ وصلي مابعد متحرک کړې شي. **اتفاقي مثال**: د اِسْئَلْ نه سَلْ.

(۲) حکم: همزهٔ قطعي لره ثابت پریښودل واجب دی.

اتفاقي مثال: اَكْرَمَ.

فائده: همزهٔ زائده چې په شروع د کلمې کې وي ددې دوه قسمونه دی: (۱) همزهٔ وصلي (۲) همزهٔ قطعي.

همزهٔ وصلي: دا هغه ده چې د لفظي ضرورت د پاره راوړلې شي او د ضرورت پوره کیدو نه پس حذف کړې شي چې ددې په معنی کې دخل نشته او همزهٔ وصلي چونکه یو حرفي وي او یو حرف ساکن وي او دا قاعده

Maktaba Tul Ishaat.com

او ضابطه ده : اَلسَّاكِنُ اِذَا حُرِّكَ حُرِّكَ بِالْكَسْرِ ، ځکه همزه وصلي مبني برکسره وي لکه اِضْرِبْ او کله د عين کلمه د مناسبت د وجې نه مضمومه وي لکه اُنْصُرْ او کثير استعمال (چې مقتضی د خفت دی) د وجې نه مفتوح هم وي لان الفتح اخف الحرکات لکه الحمد ، الرحمن او د بعضې عربو نه باوجود د مضموم العين کيدو نه اُنْصُرْ همزه مکسوره هم منقول ده اِنْصُرْ . **همزه قطعي** : دا هغه ده چې د ضرورت د پاره نه وي راوړلې شوې بلکه د معنوي ضرورت د پاره راوړلې شوې وي او ساقط هم نه وي . په باب افعال کې همزه تعديه د پاره او په اسم تفضيل کې زياتوالي د معنی د پاره او په جمع کې د جمعيت والا معنی د پاره قياسا او د باقي د پاره سماعاً راوړلې شوې ده .

فائده : بعضې فضلاو نه منقول دی چې همزه وصلي د ضرورت شعري د وجې نه باقي پاتې کيږي او کله کله همزه قطعي حذف کولې شي ځکه چې ضابطه ده : الضرورات تبيح المحضورات .

فائده : چرته چې د همزه وصلي اولنې شرط موجود وي نو هلته به همزه صرف د قراة حذف وي لکه د اِضْرِبْ او کوم ځای کې چې دويم شرط وي نو هلته به قرات او کتابت دواړو کې حذف وي لکه سَلْ .

فائده : او کله د کثرت استعمال د وجې نه اولنې شرط باندې هم کتابةً حذف کولې شي لکه بسم الله الرحمن الرحيم په خلاف د اقرأ باسم ربک ځکه چې دلته کثرت استعمال نه دی او کله کله بطور امتحان هم حذف کولې شي لکه فَمَسَّطَاعُوْا . يا د شرائطو د وجې نه په کتابت کې حذف کيدای شي لکه عبدالله بن عُمَرَ چې د دې ذکر احقر په خپل کتاب تنوير شرح نحو مير کې ذکر کړې دی .

فائده : په اذان او اقامت کې د الله اکبر را بايد ساکن وويلې شي يا مفتوحه ، ضمه ويل خلاف سنت دی (فتاوی شامي) .

فائده : د همزه قطعي نهه (۹) قسمونه دی چې په کتاب کې موجود دی او باقي همزه وصلي د باب افعال نه علاوه په باقي تولو ابوابو ثلاثي مزيد او درباعي مزيد کې همزه وصلي قياسا ده او په يوځو الفاظو کې سماعاً ده

موزون	اصل	وزن	قانون	نظير
فَاَكْرَمَ	-	اَفْعَلَ	همزه قطعي	//
لَاَحْدَوْدِبَ	اُحْدَوْدِبَ	اُفْعَوْعِلَ	همزه وصلي	
فَالْمُؤْمِلُنَ	اَلْمُؤْمِلُنَ	اُفْعُوْعِلُنَ	//	اُحْدُوْدِبُنَ
لَاَكْتَسِبُ	اَكْتَسِبُ	اَفْتَعِلُ	همزه قطعي	خود
لِكْسِبْ ۲ عدد	اِكْسِبْ	اِفْعِلْ	همزه وصلي	اِضْرِبْ
//	كْسِبَ	فُعِلَ	همد	ضُرِبَ
فَاَوْرَدُوْنَ	اَوْرَدُوْنَ	اَفْعَلُوْنَ	همزه قطعي	اَضْرَبُوْنَ

دیُکْرِمُ یُصَرِّفُ والا قانون (۱) حکم

قانون :هرباب که ماضی او چهار حرفی باشد در مضارع معلوم او حرف اتین را حرکت ضمه می دهند وجوباً .

ترجمه : هر هغه باب چې ماضي يې څلور حرفي وي په مضارع معلوم دډې کې به حرف اتين لره حرکت د ضمې ورکولې شي وجوباً .

نوم : ددې قانون نوم يُکرم يُصرّف والا قانون دی چې ددې د پاره يو حکم دی . **حکم** : داسې باب چې د هغې ماضي څلور حرفي وي نو په مضارع معلوم کې به حرف اتين لره ضمه ورکول واجب دی .

احترازي مثال : اکتسبَ . **اتفاقي مثال** : يُکْرِمُ ، يُصَرِّفُ ، يُضَارِبُ ، يُدَحْرِجُ .

دیُکْرِمُ یَتَصَرَّفُ قانون (۱) حکم :

قانون :هرباب که در اول ماضی او تائے زائدہ مطردہ باشد ، در مضارع معلوم او ماقبل آخر را فتحه می خواند وجوباً و در دیگر ابواب ماقبل آخر را کسرہ می خواند وجوباً سوائے ابواب ثلاثی مجرد .

ترجمه : هر هغه باب چې په اول د ماضي ددې باب کې تاء زائده مطرده وي نو په مضارع معلوم ددې کې به ماقبل آخر مفتوح ويلې شي وجوباً او په نورو بابونو کې به ماقبل آخر مکسور ويلې شي وجوباً په غير د بابونو د ثلاثي مجرد و نه .

نوم : ددې قانون نوم دی يُکْرِمُ يَتَصَرَّفُ والا قانون ، چې ددې د پاره يو حکم دی . **حکم** : چې تاء زائده مطرده والا چې کوم دري بابونه دی نو هغې په مضارع معلوم کې به په ماقبل آخر باندې فتحه ويل واجب دی .

اتفاقي مثال : يَتَصَرَّفُ ، يَتَضَارَبُ يَتَدَحْرَجُ .

باقي په ټولو بابونو د مضارع معلوم کې په ماقبل آخر باندې کسره ويل واجب دی په غير د ثلاثي مجرد د بابونو څخه . **اتفاقي مثال د ماقبل آخر کسرې والا** : يُکْرِمُ ، يُصَرِّفُ ، يُضَارِبُ ، يُدَحْرِجُ ، يَکْتَسِبُ .

د تاء مضارعت والا قانون (۲) حکم :

قانون : هر تاء مضارعت که داخل شود بر تاء زائدہ مطردہ در مضارع معلوم او حذف یکی جائز است .

ترجمه : هر تاء د مضارعت چې داخله شي په تاء زائده مطرده په مضارع معلوم کې نو يوه تاء حذف کول جائز دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

نوم : ددې قانون نوم دی د تاء مضارعت والا قانون، چې ددې د پاره یو حکم دی. **حکم** : چې تاء مضارعت داخل وي په تاء زائده مطرده باندې نو په مضارع معلوم کې یو تاء حذف کول جائز دی.

احترازي مثال : تُكْرِمُ . تَصَرَّفُ . **اتفاقي مثال** : تَتَصَرَّفُ . تَتَضَارَبُ تَتَدَحْرَجُ ، تاء مضارعت داخله شوه په تاء زائده مطرده باندې نو دا قانون جاري کړې شو او یو تاء د جواز په طریقې حذف کړې شوه نو تَصَرَّفُ تَضَارَبُ تَدَحْرَجُ ویل جائز دی.

موزون	اصل	وزن	قانون	نظیر
يُمَالِلُوْنَ	-	يُفَاعِلُوْنَ	يكرم . يتصرف	
يَتَوَكَّلُ	-	يَتَفَعَّلُ	//	
تَزَلْزَلُوْنَ	تَتَزَلْزَلُوْنَ	تَتَفَعْلَلُوْنَ	تاء مضارعت	
تُعَلِّمِيْنَ		تُفَعِّلِيْنَ	يكرم . يتصرف	
لَإِسْتَخْرَجْنَا	إِسْتَخْرَجْنَا	إِسْتِفْعَلْنَا	همزه وصلي	خود
يُوَسْوِسُ	-	يُفَعْلِلُ	يكرم . ينصرف	
يَسْلَنْطِحُوْنَ	-	يَفْعَنْلِلُوْنَ	//	
يَكْمَاتُوْنَ		يَفْعَالُوْنَ	//	
تَتَرَقَّمِيْنَ	تَتَرَقَّمِيْنَ	تَتَفَعْلَلِيْنَ	//	
اَزَفْعِلُ		أُفَعْلِلُ	//	
لَمْ أُرَاجِلْ		لَمْ أُفَاعِلْ	//	
تَمَاجَدَانِ	تَتَمَاجَدَانِ	تَتَفَاعَلَانِ	تاء مضارعت	
تِتَمَاجَدَانِ	//		تعلم	//
تَزَلَّجْنَ	تَتَزَلَّجْنَ	تَتَفَعَّلْنَ	تاء مضارعت	
لَأَهْرِبُ	ل.أَهْرِبُ	أُفْعِلُ	شهد	
فَاءُ صَالِحٍ	ف.أُصَالِحُ	أُفَاعِلُ	//	

دوعدت والا قانون : (۱) حکم :

قانون : هر دال ساکن که ما بعدش تاء متحرکه غیر تاء افتعال باشد، آن را تاء کرده در تاء ادغام می کنند وجوباً بشرطیکه وحدت کلمه باشد وگرنه ادغام جائز است.

ترجمه : هر هغه دال ساکن چې وروسته تري تاء متحرکه وي په غیر د تاء افتعال نه نو دا دال به په تاء سره

بدلولې شي او تاء به په تاء کې مدغم کولې شي وجوباً خو په دې شرط چې په يوه کلمه کې وي او که په يوه کلمه کې نه وي نو بيا ادغام جائز دی .

نوم : ددې قانون نوم دی د وعدت والا قانون چې ددې دپاره يو حکم دی .

حکم : د دال ساکن نه پس که تاء متحرکه په يوه کلمه کې وي نو دال تاء کول او تاء په تاء کې مدغم کول واجب دی ، او که په يوه کلمه کې نه وي نو بيا دال لره تاء بدلول جائز دی . **شرط** : تاء افتعال به نه وي .

احترازي مثال : اِدَّغَمَ . **اتفاقي مثال د يوې کلمې** : وعدت دال ساکن نه پس تاء متحرکه راغله نو دا قانون به جاري شي او دال به تاء شي او تاء به په تاء کې مدغمه شي نو وَعَدْتَّ ويل واجب دی .

اتفاقي مثال ددوو کلمو : قَدْ تَعْلَمُوْنَ ، د دال ساکن نه پس تاء متحرکه راغله نو دا قانون به جاري شي اوپه طريقې د جواز سره به دال تاء کړې شي او تاء به په تاء کې مدغمه کړې شي نو قَدْ تَّعْلَمُوْنَ ويل جائز دی .

د سين شين قانون / (۱) حکم :

قانون : اگر یکی از سین شین که واقع شود مقابله فاء کلمه باب افتعال تاء وی را جنس فاء کلمه کرده جوازا جنس را در جنس ادغام می کنند وجوباً .

ترجمه : که چيرته يو د سين او د شين نه واقع شي په مقابله د فاء کلمې د باب افتعال کې نو تاء افتعال د فاء کلمې د جنس نه گرځول جائز دی او جنس به په جنس کې مدغم کولې شي وجوباً .

نوم : ددې قانون نوم دی سين شين والا قانون چې ددې دپاره يو حکم دی .

حکم : چې کله سين يا شين د باب افتعال د فاء کلمې په مقابله کې وي نو تاء افتعال د فاء کلمې د جنس نه گرځول جائز دی او جنس په جنس کې مدغم کول وجب دی .

اتفاقي مثال : اِسْتَمَعَ اِشْتَبَهَ ، د باب افتعال د فاء کلمې په مقابله کې سين او شين واقع شو نو دا قانون مو پرې جاري کړو او په طريقې د جواز سره مو تاء افتعال د فاء کلمې د جنس نه وگرځوله نو اِسْسَمَعَ اِشْشَبَهَ شوه نو بيا مونږ په طريقې د وجوب سره جنس په جنس کې مدغم کړو نو اِسَّمَعَ اِشَّبَهَ ويل جائز دی .

موزون	اصل	وزن	قانون	نظير
وَضِبَارٌ	اِضْتِبَارٌ	اِفْتِعَالٌ	همزه وصلي	اِكْتِسَابٌ
وَاصْطَبِرْ	اِصْتَبِرْ	اِفْتَعِلْ	//	اِكْتَسِبْ
لَئِنْ جِنَّ	اِهْتَجِنَنَ	اِفْتَعِلْنَ	هين همزه	اِكْتَسِبْنَ
يَسْمِعُوْنَ	يَسْتَمِعُوْنَ	يَفْتَعِلُوْنَ	سين . هين	يَكْتَسِبُوْنَ
لَقِرَاطٌ	اِهْتِرَاطٌ	اِفْتِعَالٌ	همزه سين	اِكْتِسَابٌ

Maktaba Tul Ishaat.com

اِسْنِدْ	اِسْتَنِدْ	اِفْتَعِلْ	سین	اِكْتَسِبْ
لِيَسْتَرْنَانِ	لِيَسْتَرْنَانِ	لِيَفْتَعِلْنَانِ	سین	لِيَكْتَسِبَانِ
مُسَلِّمِيْنَ	مُسْتَلِمِيْنَ	مُفْتَعِلِيْنَ	//	مفكْتَسِبِيْنَ
فَشُرِتَ	اُشْتُرِدْتَ	اُفْتُعِلْتَ	همزه وصلي	اُكْتُسِبْتَ
مُسَبَّرٌ	مُسْتَبَرٌ	مُفْتَعَلٌ	سین ، شین	مُكْتَسَبٌ
فَسِعَادِيْ	اِسْتِعَادٍ	اِفْتِعَالٍ	همزه تنوين	اِكْتِسَابٌ
لَسُوْبِنَّ	تُسُوْبِنْنَ	تُفُوْعِلْنَ	خصم	تُضُوْرِبْنَ

د صاد ، ضاد ، طاء ، ظاء قانون (۴) حكم :

قانون : اگر یکی از صاد ، ضاد ، طا ، ظا واقع شود مقابله فاء کلمه باب افتعال تاء وی را طاء کنند وجوباً پس اگر مقابله فاء کلمه طاء است ادغام واجب است و اگر ظاء است اظهار جائز و ادغام دو طرفه یعنی طاء را ظاء کردن وعکس او جائز است و اگر صاد ، ضاد باشد اظهار جائز و ادغام یك طرفه یعنی طا را صاد ، ضاد کردن جائز است ونه عکس او.

ترجمه : که چیرته یو د صاد ، ضاد ، طاء او ظاء نه واقع شي په مقابله د فاء کلمې د باب افتعال نو تاء افتعال په طاء سره بدلول واجب دی ، بیا که چیرته په مقابله د فاء کلمه کې طاء وه نو ادغام په کې واجب دی او که چیرته ظاء وه نو بیا اظهار جائز دی او ادغام دواړه طرفه یعني طاء ظاء کول او ددې برعکس (چې ظاء طاء کول) جائز دی او که چیرته صاد ، ضاد وي نو اظهار جائز او ادغام د یو طرف نه یعني طاء صاد او ضاد کړ ځول جائز دی نه برعکس ددې .

نوم : ددې قانون نوم دی صاد ، ضاد ، طاء ، ظاء والا قانون چې ددې د پاره ځلور حکمونه دی اولني حکم عام دی باقي دري واړه حکمونه خاص دی :

(۱) حكم : چې کله هم صاد ، ضاد ، طاء ، ظاء ددې ځلورو واړو حروفو نه یو حرف د باب افتعال د فاء کلمې په مقابله کې وي نو تاء افتعال لره په طاء سره بدلول واجب دی .

اتفاقي مثال : اِطْتَلَبَ نه اِطْطَلَبَ اِظْتَلَمَ نه اِظْطَلَمَ ، اِصْتَبَرَ نه اِصْطَبَرَ اِضْتَرَبَ نه اِضْطَرَبَ ویل واجب دی .

(۲) حكم : چې کله د باب افتعال د فاء کلمې په مقابله کې طاء وي نو طاء په طاء کې مدغم کول واجب دي .

اتفاقي مثال : اِطْطَلَمَ نه اِظَّلَمَ ویل واجب دی .

(۳) حكم : چې کله د باب افتعال د فاء کلمې په مقابله کې ظاء وي نو اظهار جائز او ادغام دوه طرفه جائز دی.

اتفاقي مثال د اظهار : اِظْطَلَمَ . **اتفاقي مثال د ادغام** : اِطَّلَمَ . اِظَّلَمَ .

(۴) **حکم** : چې کله د باب افتعال د فاء کلمې په مقابله کې صاد ، ضاد وي نو اظهار جائز دی او ادغام یو طرفه جائز دی .

اتفاقي مثال د اظهار : اِصْطَبَرَ ، اِضْطَرَبَ . **اتفاقي مثال د ادغام** : اِصَّبَرَ ، اِضَّرَبَ .

سوال : چې څنګه طاء طاء کول ویل جائز دی نو بیا صاد ، ضاد طاء کول ویل ولې ناجائز دی او دغه شان زا دال کول ویل ولې ناجائز دی ؟ **جواب** : صاد او زا دا حروف صفیر دی نو په دې کې به د صفیر معدومیدل لازم راشي او په ضاد کې اسطالت دی چې په دې کې به یې عدم لازم راشي او دا دواړه باطل دی .

د دال ، ذال ، زا قانون (۴) حکم :

قانون : اگر یکی از دال ، ذال ، زا واقع شود مقابله فاء کلمه باب افتعال تاء وی را دال کرده وجوباً و در دال ادغام می کنند وجوباً و ذال مثل طاء و زا مثل صاد و ضاد است .

ترجمه : که چیرته یو د دال ، ذال او زاء نه واقع شي په مقابله د فاء کلمې د باب افتعال نو دا تاء به په دال سره بدلولې شي وجوباً او دال به په دال کې مدغم کولې شي وجوباً او ذال په شان د طاء ، او زاء په شان د صاد او ضاد دی .

نوم : ددې قانون نوم دی دال ، ذال ، زا والا قانون چې ددې د پاره ځلور حکمونه دي :

(۱) **حکم** : کله چې دال ، ذال ، زا په دې دري واړو حروفو کې یو حرف هم د باب افتعال د فاء کلمې په مقابله کې واقع شي نو د باب افتعال تاء دال کول واجب دی . **اتفاقي مثال** : اِدْتَكَرَ ، اِذْتَكَرَ ، اِزْتَجَرَ ، د باب افتعال د فاء کلمې په مقابله کې دال ، ذال ، زا واقع شوه نو مونږ دلته ددې قانون اولنې حکم جاري کړو او په طریقې د وجوب سره مو تاء افتعال په دال سره بدله کړه نو اِدْدَكَرَ اِزْدَجَرَا شو .

(۲) **حکم** : چې هر کله د باب افتعال د فاء کلمې په مقابله کې دال راغلې وي نو دال په دال کې مدغم کول واجب دی . **اتفاقي مثال** : اِدْدَكَرَ نه اِذَّكَرَ ویل واجب دی .

(۳) **حکم** : چې هر کله د باب افتعال د فاء کلمې په مقابله کې ذال وي نو اظهار جائز او ادغام دوه طرفه جائز دی . **اتفاقي مثال د اظهار** : اِذْدَكَرَ . **اتفاقي مثال د ادغام** : اِذَّكَرَ ، اِذَّكَرَ .

(۴) **حکم** : چې هر کله د باب افتعال د فاء کلمې په مقابله کې زاء وي نو اظهار جائز او ادغام یو طرفه جائز دی . **اتفاقي مثال د اظهار** : اِزْدَجَرَ . **اتفاقي مثال د ادغام** : اِزَّجَرَ .

سوال : تاء دال کول ولې واجب دی ؟ **جواب** : تاء حرف مهموسه دی او دال ، ذال ، زا حروف مجهوره دی په دې کې منافات دی لیکن د تاء او د دال مخرج یو دی نو ځکه اولاً تاء دال کولې شي بیا ذکر شوې تفصیل یه

Maktaba Tul Ishaat.com

کې دی ځکه چې دال، ذال، زاء په صفت جهر کې متحد دی (مناهج الکافیة)

د ثاء قانون (۱) حکم

قانون: اگر ثاء واقع شود مقابله فاء کلمه باب افتعال اظهار جائز و ادغام دو طرفه جائز است مگر تاء را ثاء کردن اولی است.

ترجمه: که چیرته ثاء واقع شي په مقابله د فاء کلمې د باب افتعال نو اظهار جائز او ادغام دوه طرفه هم جائز دی مګر تاء په ثاء سره بدلول اولی دی.

نوم: ددې قانون نوم دی ثاء والا قانون، چې ددې د پاره یو حکم دی:

حکم: که چیرته د باب افتعال د فاء کلمې په مقابله کې ثاء وي نو بیا اظهار جائز او ادغام دوه طرفه جائز دی

اتفاقي مثال د اظهار: اِثْبَتَ. **اتفاقي مثال د ادغام**: (۱) تاء مو ثاء کړه او ثاء مو په ثاء کې مدغمه کړه نو اِثَّبَتَ ویل جائز دی (۲) ثاء مو تاء کړه او تاء مو په ثاء کې مدغمه کړه نو اِثَّبَتَ ویل جائز دی.

فائده: د علامه ابن حاجب په نزد د تاء ادغام په ثاء کې او د ثاء ادغام په تاء کې په هر دواړو صورتونو کې واجب دی کما في الشافیة. لیکن د جمهورو په نزد اظهار هم جائز دی مګر د امام سیبویه په نزد ادغام احسن دی ځکه چې تاء او ثاء قریب المخرب دی (رضی و شرح الشافیه).

د خَضَمَ کَظَمَ قانون (۴) حکم:

قانون: اگر یکی از ده حروف مذکوره بالا واقع شود مقابله عین کلمه باب افتعال تاء وی را جنس عین کلمه کرده جوازاً ادغام می کنند وجوباً و اگر تاء واقع شود ادغام جائز است، و اگر یکی از حروف مذکوره واقع شود مقابله فاء کلمه باب تفعل یا تفاعل تاء آنها را جنس فا کلمه کرده جوازا، ادغام می کنند وجوباً و اگر تا باشد ادغام جائز است.

ترجمه: که چیرته یو د لسو حروفو (س، ش، ص، ض، ط، ظ، د، ذ، ز، ث) واقع شي په مقابله د عین کلمې د باب افتعال کې نو تاء ددې باب به د جنس د عین کلمې نه ګرځولې شي جوازا او ادغام به کولې شي وجوباً او که چیرته تاء واقع شي نو بیا ادغام جائز دی، او که چیرته یو ددې حروفو مذکورو نه واقع شي په مقابله د فاء کلمې د باب تفعل یا تفاعل کې نو تاء ددې بابونو به د جنس د فاء کلمې نه ګرځولې شي جوازا او ادغام به کولې شي وجوباً او که چیرته تاء وي نو ادغام جائز دی.

نوم: ددې قانون نوم دی خَضَمَ کَظَمَ والا قانون، چې ددې قانون ده پاره څلور حکمونه دي:

(۱) **حکم** : چې که مذکوره لس حروفه (س، ش، ص، ض، ط، ظ، د، ذ، ز، ث) نه یو حرف هم د باب **افتعال** د عین کلمې په مقابله کې و نو د باب **افتعال** تاء د عین کلمې د جنس نه ګرځول جائز او ادغام کول واجب دی.

اتفاقي مثال : اِخْتَصَمَ، اِکْتَظَمَ، صاد او ظاء د باب افتعال د عین کلمې په مقابله کې واقع شوه نو مونږ دا قانون جاري کړو او د باب **افتعال** تاء مو د عین کلمې د جنس نه وګرځوله نو اِخْصَصَمَ اِکْظَظَمَ شو، بیا دوه حرفه د یو جنس نه په یوه کلمه کې جمع شو او دواړه متحرک ؤ نو د اولنې حرف حرکت مو نقل کړو او ماقبل ته مو ورکړو او جنس مو په جنس کې مدغم کړو نو اِخَصَّمَ اِکَظَّمَ شو نو بیا همزه وصلي د مابعد د متحرک کیدو د وجې نه وغورځیده نو خَصَّمَ کَظَّمَ شو.

(۲) **حکم** : چې هر کله د باب **افتعال** د عین کلمې په مقابله کې تاء وي نو بیا ادغام جائز دی.

اتفاقي مثال : اِقْتَتَلَ د باب **افتعال** د عین کلمې په مقابله کې تاء واقع شوه نو دوه حروفه د یو جنس نه په یوه کلمه کې جمع شو دواړه متحرک ونو د متجانسینو نه مو د اولنې حرف حرکت نقل کړو او ماقبل ته مو ورکړو او تاء مو په تاء کې مدغمه کړه نو اِقَتَّلَ شو بیا همزه د مابعد د متحرک کیدو د وجې نه وغورځیده نو قَتَّلَ شو.

(۳) **حکم** : که د دغې لسو حروفو (س، ش، ص، ض، ط، ظ، د، ذ، ز، ث) نه یو حرف د باب **تفعل** یا د **تفاعل** د فاء کلمې په مقابله کې راغلې وي نو د باب **تفعل** او د **تفاعل** تاء د فاء کلمې د جنس نه ګرځول جائز او ادغام کول واجب دی.

اتفاقي مثال : تَثَقَّلَ، تَثَاقَلَ د باب **تفعل** او **تفاعل** د فاء کلمې په مقابله کې ثاء واقع شوه نو د دې قانون دریم حکم مو جاري کړو نو په طریقې د جواز سره مو تاء د **تفعل** او **تفاعل** د فاء کلمې د جنس نه وګرځوله نو تَثَقَّلَ تَثَاقَلَ شو بیا مو جنس په جنس کې مدغم کړو ابتداء بالسکون محال وه نو په شروع کې مو همزه وصلي راوړه نو اِثَّقَّلَ اِثَّاقَلَ ویل جائز دی.

(۴) **حکم** : چې هر کله د باب **تفعل** او د **تفاعل** د فاء کلمې په مقابله کې تاء وه نو بیا ادغام جائز دی.

اتفاقي مثال : تَتَرَّکَ تَتَارَکَ د باب **تفعل** او د **تفاعل** د فاء کلمې په مقابله کې تاء واقع شوه نو مونږ د دې قانون څلورم حکم جاري کړو او په طریقې د جواز سره مو تاء په تاء کې مدغمه کړه ابتداء بالسکون محال وه نو په شروع کې مو همزه وصلي راوړه نو اِتَّرَّکَ اِتَّارَکَ ویل جائز دی.

فائده : د بعضو په نزد جیم هم د دغې لسو حروفو نه دی.

فائده : د ادغام دوه صورته دي : (۱) چې د اولنې حرف حرکت دې نقل کړې شي او ماقبل ته دې ورکړې شي بیا دې ادغام وکړې شي، (۲) د اولنې حرف حرکت دې حذف کړې شي بیا دې ادغام وکړې شي دلته دواړه صورتونه جائز دی لکه اِکْتَسَبَ، د باب **افتعال** تاء مو سین کړه اِکْسَسَبَ شو بیا د متجانسینو نه د اولنې حرف حرکت مو نقل کړ ماقبل کاف ته مو ورکړ او بیا مو ادغام وکړو نو اِکَسَّبَ شو همزه وصلي د مابعد د متحرک کیدو د وجې نه وغورځیده نو کَسَّبَ شو. **دویم صورت** : د اولنې سین حرکت مو حذف کړ نو دوه

Maktaba Tul Ishaat.com

ساکنه جمع شو او د الساکن اذا حرف حرک بالکسر قاعدې لاندې مو اولني ساکن ته حرکت کسره ورکړه او کِسَّبَ شو .

فائده : د بعضو په نزد همزه وصلي په دواړو صورتونو کې په خپل حال باندې پرېښودل جائز دی د هغوي دليل همزه وصلي مابعد متحرک خو دی ليکن حرکت عارضي دي او ضابطه او قاعده داده چې والعوارض لا تعتبر لهذا د همزه وصلي مابعد ساکن شو او د جمهورو په نزد ناجائز دی ځکه چې مابعد متحرک دی .

او ددې دليل نه جواب دادی چې د همزه وصلي د ساقطولو د پاره د مابعد حرکت په عارضي طريقې سره متحرک کيدل هم کافي دي .

ماضي معلوم په پنځو طريقو سره ويل جائز دی : (۱) اِکْتَسَبَ (۲) گَسَّبَ (۳) کِسَّبَ (۴) اِگَسَّبَ (۵) اِکِسَّبَ .

ماضي مجهول په پنځو طريقو سره ويل جائز دی : (۱) اُکْتُسِبَ (۲) گُسِّبَ (۳) کِسَّبَ (۴) اُگُسِّبَ (۵) اُکِسَّبَ

مضارع معلوم په دري طريقو سره ويل جائز دی : (۱) يَکْتَسِبُ ، (۲) يَگَسِّبُ ، (۳) يَکِسَّبُ .

مضارع مجهول په دري طريقو سره ويل جائز دی : (۱) يُکْتَسَبُ ، (۲) يُگَسَّبُ ، (۳) يُکِسَّبُ .

مصدر په پنځه طريقو سره ويل جائز دی : (۱) اِکْتِسَابًا (۲) گَسَّابًا (۳) کِسَّابًا (۴) اِگَسَّابًا (۵) اِکِسَّابًا .

فائده : د بعضو په نزد دا قانون د افتعال په ماضي کې جاري کول جائز نه دی ځکه چې ددې په جاري کولو سره د افتعال ماضي د تفعيل ماضي سره التباس لازم راځي لکه گَسَّبَ د صَرَّفَ سره او د متجانسينو په قانون کې د ادغام د پاره شرط دی چې التباس دې لازم رانه شي ليکن دا قول ضعيف دی ځکه چې دا التباس د مضارع سره ختميدای شي د زيات تفصيل د پاره املاء الصرف مطالعه کړي .

اسم فاعل په څلورو طريقو سره ويل جائز دی : (۱) مُکْتَسِبٌ ، (۲) مُگَسِّبٌ ، (۳) مُکِسَّبٌ ، (۴) مُگُسَّبٌ ، يعني سين لره د ميم تابع کول ويل دا جائز دی ځکه چې اسم فاعل او اسم مفعول کې دننه فاء کلمې ته حرکت ضمه ورکول جائز دی او اسم مفعول ته هم په څلورو طريقو سره او امر حاضر ته په پنځو طريقو سره .

ابواب : د يولس حروفو ابواب په طالبانو باندې ضرور حل کړي : (۱) اِسْتَنْدَ ، اِشْتَرَکَ ، اِطْتَلَبَ ، اِطْتَلَمَ (په دري قسمه تري دا باب واوري) اِصْتَبَرَ ، اِضْتَرَبَ ، اِلْتَبَتَ .

دباب افتعال د عين کلمې ابواب : اِخْتَصَمَ ، اِکْتَظَمَ ، اِنْتَصَرَ ، اِکْتَسَبَ ، اِکْتَشَفَ ، اِحْتَجَرَ ، اِعْتَدَلَ ، اِکْتَذَبَ ، اِعْتَطَرَ ، اِغْتَضَبَ ، اِکْتَثَرَ ، اِقْتَتَلَ .

د باب تفعل او د تفاعل ابواب : تَسَنَّعَ تَسَامَعَ ، تَشَکَّلَ تَشَاکَلَ ، تَصَبَّرَ تَصَابَرَ ، تَظَهَّرَ تَظَاهَرَ ، تَضَرَّبَ تَضَارَبَ ، تَکَلَّمَ تَکَالَمَ ، تَدَبَّرَ تَدَابَرَ ، تَذَکَّرَ تَذَاکَرَ ، تَرَجَّرَ تَرَاجَرَ ، تَثَقَّلَ تَثَاقَلَ ، تَجَمَّلَ تَجَامَلَ ، تَرَکَ تَتَارَکَ .

موزون	اصل	وزن	قانون	نظير
لَتَمَنَّ	اِلْتَمَنَنَ	اِفْتَعَلْنَ	همزه . تاء	اِکْتَسَبْنَ
مُثَّمِنَانِ	مُکْتَمِنَانِ	مُفْتَعِلَانِ	تاء	مُکْتَسِبَانِ

فَتُجِنَ	اُتُّحِنَ	اُفْتُعِلَنَ	همزه	اُكْتُسِبَنَ
لَنْ نَثِنَ	لَنْ نَّتِنَ	لَنْ نَفْتَعِلَ	ثاء . تعلم	لَنْ نَكْتَسَبَ
يَثِعُوْنَ	يَتَّعِقُوْنَ	يَفْتَعِلُوْنَ	//	يَكْتَسِبُوْنَ
لَتِعَاقٌ	اِتِّعَاقٌ	اِفتِعَالٌ	ثاء . همزه	اِكْتِسَابٌ
شَذَرَ بغير تفعيل	اِشْتَدَرَ	اِفْتَعَلَ	سين . همزه	اِكْتَسَبَ
مُسَامِعِيْنَ	مُتَسَامِعِيْنَ	مُتَفَاعِلِيْنَ	خصم	مُتَضَارِبِيْنَ
لِسِنَ	اِلْتَسِنَ	اِفْتَعِلَنَ	همزه	اِكْتَسِبَنَ
يَصَّعَّدُ	يَتَصَعَّدُ	يَتَفَعَّلُ	خصم	يَتَصَرَّفُ
كِسَابٌ	اِكْتِسَابٌ	اِفْتِعَالٌ	خصم . همزه	اِفْتِعَالٌ
فَشَّعُبُ	تَشَعُّبُ	تَفَعُّلٌ	خصم	تَصَرُّفٌ
يُسَافَرُوْنَ	يُتَسَافَرُوْنَ	يُتَفَاعَلُوْنَ	خصم	يُتَضَارَبُوْنَ
عَدِدِيْ	اِعْتَدِدِيْ	اِفْتَعِلِيْ	خصم	اِكْتَسِبِيْ
//	فَعِلِيْ			ضَرِبِيْ
فَدَّارَكُوْا	تَدَارَكُوْا	تَفَاعَلُوْا	خصم	تَضَارَبُوْا
لَدَّقَنَّ	اِدْتَّقَنَّ	اِفْتَعَلَنَّ	دال . همزه	اِكْتَسَبَنَّ
مُسَمِعِيْنَ	مُسْتَمِعِيْنَ	مُفْتَعِلِيْنَ	سين	مُكْتَسِبِيْنَ
مُسَنِّعِيْنَ	مُتَسَنِّعِيْنَ	مُتَفَعِّلِيْنَ	خصم	مُتَصَرِّفِيْنَ
مُسَامِعِيْنَ	مُتَسَامِعِيْنَ	مُتَفَاعِلِيْنَ	//	مُتَضَارِبِيْنَ
اِطَّمُّ	تَطَمُّ	تَفَعُّلٌ	//	تَصَرُّفٌ
خِدَّامٌ	اِخْتِدَامٌ	اِفْتِعَالٌ	همزه	اِكْتِسَابٌ
كِسِبْ	اِكْتَسِبْ	اِفْتَعِلْ	همزه وصلي	اِكْتَسِبْ
//	فَعِلْ			ضَرِبْ
لَاتَّطَالَمَانِ	لَاتَتَطَالَمَانِ	لَاتَتَفَاعَلَانِ	خصم	لَاتَتَضَارَبَانِ
اِقْوَلْ	اِقْتَوِلْ	اِفْتَعِلْ	ثاء	اِكْتَسِبْ
اِقْوَلَّ	اِقْتَوِلَّنْ	اِفْتَعِلَنَّ	خصم	اِكْتَسِبَنَّ
اِقْوَالَّ	اِقْتَوَالَّنْ	اِفْتَعَالَنَّ	//	اِكْتَسَبَنَّ
اِقْوِيْ	اِقْتَدِرِيْ	اِفْتَعِلِيْ	خصم . همزه	اِكْتَسِبِيْ

Maktaba Tul Ishaat.com

يَهْدِيْ	يَهْتَدِيْ	يَفْتَعِلُ	//	يَكْتَسِبُ
اَضْرِبْ بغير مصدر	اَضْتَرِبُ	اَفْتَعِلُ	صاد. شهد	اَكْتَسِبُ
مُثَبِّتٌ	مُثْتَبِتٌ	مُفْتَعِلٌ	ثاء	مُكْتَسِبٌ
لَايَثَّبِتُنَّ	لَايَثْتَبِتُنَّ	لَايَفْتَعِلُنَّ	//	لَايَكْتَسِبُنَّ
بَدِّلَا ٦	اِبْتَدِلَا	اِفْتَعِلَا	خصم. همزه	اِكْتَسِبَا تثنيه
//	//	//	//	//
//	اِبْتَدِلْنَ	اِفْتَعِلْنَ		اِكْتَسِبْنَ
//		فَعِلَا		صَرِفَا
//	//	//	//	//
//	صَرِفْنَ	فَعِلْنَ		بَدِلْنَ

شمس قمري والا قانون (۲) حكم :

قانون : اگريکی از حروف شمسی بعد از لام تعريف واقع شود لام را جنس ايشان کرده وجوباً ادغام می کنند وجوباً و اگريکی از ايشان بعد از لام ساکن غير تعريف واقع شود لام را جنس ايشان کرده جوازا ادغام می کنند وجوباً سوای راچرا که درين جا واجب است.

ترجمه : که چيرته د حروف شمسيو (س، ش، ص، ض، ط، ظ، د، ذ، ز، ت، ث، ر، ن) نه يو حرف پس د لام تعريف نه واقع شي نو لام تعريف د حروف شمسيو د جنس نه گرځول واجب دی او ادغام کول هم واجب دی او که چيرته ددې حروف شمسيو نه يو حرف د لام ساکن غير تعريف نه پس واقع شي نو بيا لام ساکن غير تعريف لره ددې د جنس نه گرځول جائز دی او ادغام کول واجب دی په غير د رانه ځکه چې دلته واجب دی.

نوم : ددې قانون نوم دی حروف شمسي قمري والا قانون، چې ددې د پاره دوه حکمونه دی :

(۱) حكم : که د مذکوره ديارلسو حروفو (س، ش، ص، ض، ط، ظ، د، ذ، ز، ت، ث، ر، ن) نه يو حرف د لام تعريف نه پس واقع وي نو لام ساکن تعريف د حروف شمسي د جنس نه گرځول هم واجب دی او ادغام کول هم واجب دی. **اتفاقي مثال** : اَلرَّحْمٰنُ الرَّحِيْمُ ، د لام تعريف نه پس د حروف شمسيو نه راء راغله نو مونږ ددې قانون اولني حکم جاري کړو او لام ساکن تعريف مو د حروف شمسي د جنس نه کړو او جنس مو په جنس کې مدغم کړو نو اَلرَّحْمٰنُ ويل واجب دی.

(۲) حكم : که د حروف شمسيو نه يو حرف د لام ساکن غير تعريف نه پس واقع وي نو بيا لام ساکن غير تعريف لره د حروف شمسيو د جنس نه کول جائز او ادغام کول واجب دی. **اتفاقي مثال** : بَلْ سَوَّلَتْ، بَلْ

صَبَرُوْا د لام ساکن غیر تعریف نه پس د حروف شمسیو نه (س) او (ص) راغې نو مونږ ددې قانون دویم حکم جاري کړو او لام ساکن غیر تعریف لره مو په طریقې د جواز سره د شمسي د جنس نه وګرځولو او جنس مو په جنس کې په طریقې د وجوب سره مدغم کړنو بَسَّوَّلَتْ بَصَّبَرُوْ ویل جائز دی.

فائده: حروف تهجي ټول نهه ویشت (۲۹) دی د لام نه علاوه اته ویشت (۲۸) دی چې ددې نه دیارلس (۱۳) حروف شمسي دی چې په دې شعر کې مذکور دی:

تاء و ثاء و دال و ذال و نون را هم تو آر　　سین و شین صاد و ضاد و طاء و ظاء را هم شمار

پنځلس قمري دي چې په دې شعر کې مذکور دی:

الف و باء و جیم و حا، خاکاف و میم واو　　عین و غین فاء قاف و هاء خواني همزه یاء

وجه تسمیه: څنګه چې د لمر په راختو سره ستوري پټیږي نو دغه شان حروف شمسي کې هم لام تعریفي پټیږي او لکه څنګه چې د سپوږمي سره ستوري باقي پاتې کیږي نو همدا شان په حروف قمري سره هم لام تعریفي نه پټیږي او باقي پاتې وي.

فائده: د لام ساکن دوه قسمونه دي: (۱) تعریفي، (۲) غیر تعریفي:

(۱) لام ساکن تعریفي: دا هغه دی چې یو شي لره معین کړي لکه اَلرَّجُلُ.

(۲) لام ساکن غیر تعریفي: دا هغه دی چې شي لره څیز معین نه کړي لکه بَلْ، هَلْ.

فائده: که د لام ساکن غیر تعریف نه پس د حروف شمسیو نه را راشي نو بیا لام لره د راء د جنس نه ګرځول واجب دی او ادغام کول هم واجب دی لکه قُلْ رَبِّ.

موزون	اصل	وزن	قانون	نظیر
هَنَّخِبَتْ	هَلْ. نَخِبَتْ	فَعِلَتْ	شمسي	عَلِمَتْ
اَلسَّاعِدُوْنَ	اَلْ سَاعِدُوْنَ	فَاعِلُوْنَ	//	ضَارِبُوْنَ
بَثَّابِقِيْ	بل. ثَابِقِيْ	فَاعِلِيْ	//	ضَارِبِيْ
بَطَّهَّرْنَ	بَلْ طَهَّرْنَ	فَعَّلْنَ	//	صَرَّفْنَ
اَلسَّمْعُ ۲	اَسْتَمِعُ	اَفْتَعِلُ	سین شهد	اَكْتَسِبُ
//	اَلْ. سَمْعٌ	فَعْلٌ	شمسي	ضَرْبٌ
بَزَّعَمْتِ	بِلْ. زَعَمْتِ	فَعَلْتِ	//	ضَرَبْتِ
بَتَّسَعْسَعْنَ	بَلْ تَسَعْسَعْنَ	تَفَعْلَلْنَ	//	كَدَحْرَجْنَ
هَشِرَانٌ	هَلْ. هِرَانٌ	فِعَالٌ	//	خود
يَضَّرَعَ	بَلْ. ضَرَعَ	فَعَلَ	//	هَرَبَ
هَتَّ مِنْ تُنَّ	هَلْ. تِينَتُنَّ	فَعِلْتُنَّ	شمسي قمري	عَلِمْتُنَّ

Maktaba Tul Ishaat.com

دلَمْ يَحْمَرَّ ، لَمْ يَحْمَرِّ لَمْ يَحْمَرِرْ قانون (٢) حكم (١) شرط

قانون : هر مضارع مشدد الآخر وقت دخول جواز مر و بناء کردن امر حاضر معلوم در آن سه وجه خواندن جائز است بشرطیکه مضارع مضموم العین نه باشد و گرنه چهار وجه خواندن جائز است .

ترجمه : هر هغه مضارع چې آخر يې مشدد وي په وخت د دخول د جواز مو او په وخت د جوړولو د امر حاضر معلوم په دې کې دري وجهې ويل جائز دی په دې شرط چې مضارع مضموم العين نه وي ورنه په دې کې بيا څلور وجهې ويل جائز دی .

نوم : ددې قانون نوم دی لَمْ يَحْمَرَّ ، لَمْ يَحْمَرِّ لَمْ يَحْمَرِرْ والا قانون چې ددې د پاره دوه حکمونه دی او د هر يو حکم د پاره يو شرط دی :

(١) حكم : که مضارع مشدد الآخر وي او په دې باندې حرف جازم داخل وي يا ددې نه امر حاضر معلوم جوړ کړې شي نو په مضارع کې دري وجهې ويل جائز دی . **شرط** : مضارع به مضموم العين نه وي .

احترازي مثال : لَمْ يَمُدَّ ، لَمْ يُمَدِّ .

اتفاقي مثال : لَمْ يَحْمَرَّ ، لَمْ يَحْمَرِّ لَمْ يَحْمَرِرْ لَمْ يُحْمَرَّ لَمْ يُحْمَرِّ لَمْ يُحْمَرَرْ .

امر حاضر معلوم لکه اِحْمَرَّ اِحْمَرِّ اِحْمَرِرْ ويل جائز دی .

(٢) حكم : که مضارع مشدد الآخر وي او په دې باندې حرف جازم داخل وي يا ددې نه امر حاضر معلوم جوړ کړې شي نو په مضارع کې څلور وجهې ويل جائز دی . **شرط** : مضارع به مضموم العين وي .

احترازي مثال : لَمْ يَحْمَرَّ ، لَمْ يُحْمَرَّ .

اتفاقي مثال : لَمْ يَمُدَّ ، لَمْ يَمُدِّ ، لَمْ يُمُدُّ ، لَمْ يَمُدُّ ، لَمْ يُمَدَّ ، لَمْ يُمَدِّ ، لَمْ يُمَدُّ ، لَمْ يُمَدَّ .

د تَمُدُّ نه امر حاضر معلوم مُدَّ مُدِّ مُدُّ اُمْدُدْ ويل جائز دی .

فائده : فعل جحد : لَمْ يَحْمَرَّ ، لَمْ يَحْمَرِّ لَمْ يَحْمَرِرْ او لَمْ يُحْمَرَّ لَمْ يُحْمَرِّ لَمْ يُحْمَرَرْ . او يَحْمَرُّ يُحْمَرُّ نه به يې داسې جوړوو چې لم جازمه جحد دا به ددې په شروع کې راوړو نو آخر به مجزوم شي نو د جزم د وجې نه به په پنځو پنځو صيغو کې د ضمه اعرابي د غورځيدلو د وجې نه به سکون راشي او په اوه اوه صيغو کې د نون اعرابي د غورځيدلو د وجې نه به سکون راشي او په دوه دوه صيغو کې به هيڅ عمل هم نه کوي ځکه چې هغه مبني دي پس پنځو پنځو صيغو کې د دوو راه ګانو په مينځ کې التقاء ساکنين وشو اوس به صرف راه ثاني ته فتحه ورکوو او لَمْ يَحْمَرَّ به وايو ځکه چې فتحه اخف الحرکات ده او بعضې صرفي حضرات راه ثاني ته حرکت د کسرې ورکوي او لَمْ يَحْمَرِّ وايي ځکه چې کله حرکت ورکولې شي نو د کسرې به ورکولې شي ، او

بعضي صرفي حضرات ادغام کوي او اولني راء ته حرکت اصلي ورکوي او لم يحمرر وايي ځکه چې دا اصل دی نو د يَحْمَرُّ يُحْمَرُّ الخ نه به لَمْ يَحْمَرَّ لَمْ يَحْمَرِّ لَمْ يَحْمَرِرْ الخ او لَمْ يَحْمَرَّ لَمْ يُحْمَرِّ لَمْ يُحْمَرِرْ الخ به جوړيږي.

فائده: د جحد مجهول او د امر ونهي جوړولو طريقه هم همدغه ده.

فائده: التقاء ساکنین بردو قسم است: علی حدہ و علی غیر حدہ، علی حدہ آن که ساکن اول مدہ یا یاء تصغیر و ساکن ثانی مدغم و وحدت کلمه باشد و ماسوی او علی غیر حدہ است.

ترجمه: التقاء ساکنین په دوه (۲) قسمه دی: (۱) علی حده، (۲) علی غیر حده: علی حده: دا هغه دی اول ساکن مده یا یاء تصغیر او دوهم ساکن مدغم او په یوه کلمه کې وي او په غیر ددې نه علی غیر حده دی.

موزون	اصل	وزن	قانون	نظیر
بُلَّ	اُبْلُلْ	اُفْعُلْ	لم یحمر همزه	اُنْصُرْ
لَاتَبُلُّ	لَاتَبْلُلْ	لَاتَفْعُلْ	لم یحمر	لَاتَنْصُرْ
اِقْشَعْرِرْ		اِفْعَلِلْ	//	خود
اِحْمَارَّ	اِحْمَارَرَ	اِفْعَالَلَ	//	//
قُدَّ	اُقْدُدْ	اُفْعُلْ	همزه وصلي	اُنْصُرْ
لَمْ اِسْمَعِلِّ	لَمْ اَسْمَعْلِلْ	لَمْ اَفْعَلِلِلْ	تعلم، لم یحمر	
اِبْلَقِّ	اِبْلَقِقْ	اِفْعَلِلْ	لم یحمر	اِحْمَرِرْ
فِرَّ	اِفْرِرْ	اِفْعِلْ	لم یفر، همزه	اِضْرِبْ
عُضِّ	اُعْضُضْ	اُفْعُلْ	//	اُنْصُرْ
لَمْ يَضِلِّ	لَمْ يَضْلِلْ	لَمْ يَفْعِلْ	لم یفر	لَمْ يَضْرِبْ

د التقاء ساکنینو قانون / (۵) حکم / (۲) شرائط

وحکم التقاء ساکنین علی حدہ خواندن ساکنین است مطلقاً و حکم علی غیر حدہ خواندن ساکنین است در حالت وقف پس در حالت غیر وقف اگر ساکن اول مدہ یا نون خفیفه باشد حذف کردہ می شود و اگر نباشد حرکت دادہ شود ساکنی که در آخر کلمه است و اگر در آخر نه باشد اول را کسرہ زیرا که تحریک ساکن او اصل است و غیر او بسبب عارضه.

ترجمه: او حکم د التقاء ساکنین علی حده لوستل د ساکنینو دی مطلقا او حکم د علی غیر حده لوستل د

Maktaba Tul Ishaat.com

ساکنینو دی په حالت د وقف کې ، پس که په حالت د غیر وقف کې که چیرته ساکن اول مده یا نون خفیفه وو حذف کولې به شي او که چیرته نه وي نو حرکت به ورکولې شي هغه ساکنینو ته چې په آخر د کلمه کې وي او که چیرته په آخر د کلمه کې نه وي نو اول ته به کسره ورکولې شي ځکه حرکت ورکول ساکن ته د کسرې دا اصل دی او غیر ددې نه د وجې د سبب عارضه نه .

نوم : ددې قانون نوم دی د التقاء ساکنینو والا قانون ، چې ددې د پاره پنځه حکمونه دی یو د علی حده د پاره او څلور د علی غیر حده د پاره او دوه شرطونه دي.

د علی حده حکم : د علی حده حکم دا دی چې التقاء ساکنین علی حده وي نو دواړو ساکنین ثابت پریخودل واجب دی . **اتفاقي مثال** : اِحْمَارٌّ ، اُحْمُوْزَ ، خُوَيْصَّةٌ ، ساکن اول مده او یاء تصغیر و نو مونږ ددې قانون دویم حکم جاري کړو او دواړو ساکنینو لره مو په طریقې د وجوب سره ثابت پریښودل .

د علی غیر حده اولنی حکم : چې کله التقاء ساکنین علی غیر حده په حالت د وقف کې وي نو دواړه ساکنین ثابت پریښودل واجب دی . **اتفاقي مثال** : عَلِيْمٌ ، خَبِيْرٌ ، التقاء ساکنین علی غیر حده په حالت د وقف کې ؤ نو مونږ ددې قانون دریم حکم جاري کړو او دواړه ساکنین مو په وجوبي طریقې سره ثابت پریښودل .

د علی غیر حده دوهم حکم : که چیرته التقاء ساکنین علی غیر حده په حالت د وقف کې نه ونو دواړو ساکنینو نه اول ساکن حذف کول واجب دی . **شرط** : شرط دا دی چې اول ساکن دی مده یا نون خفیفه وي .

احترازي مثال : يَخِصِّمُوْنَ . **اتفاقي مثال** : قَالُنْ لَا تَهِنَنْ الْفَقِيْر ، التقاء ساکنین علی غیر حده په حالت د وقف کې نه ؤ نو مونږ ددې قانون څلورم حکم جاري کړو اول ساکن مو حذف کړ نو قُلْنَ لَا تَهِنَنْ الْفَقِيْر ویل واجب دی .

د علی غیر حده دریم حکم : که چیرته علی غیر حده په حالت د وقف کې نه وي او اول ساکن مده او نون خفیفه هم نه وي نو د دواړو ساکنینو نه چې کوم ساکن په آخر د کلمه کې وي هغې ته حرکت ورکول واجب دی . **اتفاقي مثال** : لَوِاسْتَطَعْنَا . التقاء ساکنین علی غیر حده په حالت د وقف کې نه ؤ او اول ساکن مده او نون خفیفه هم نه ؤ نو مونږ ددې قانون څلورم حکم جاري کړو او په طریقې د وجوب سره مو اول ساکن ته حرکت ورکړ نو لَوِاسْتَطَعْنَا ویل واجب دی .

د علی غیر حده څلورم حکم : د علی غیر حده څلورم حکم دا دی چې که چیرته علی غیر حده په حالت د وقف کې نه و او اول ساکن مده او نون خفیفه هم نه و نو دواړو ساکنینو نه اول ساکن ته حرکت د کسرې ورکول واجب دی . **شرط** : یو ساکن هم په آخر د کلمه کې نه وي .

احترازي مثال : لَوِاسْتَطَعْنَا . **اتفاقي مثال** : يَخْصِمُوْنَ ، التقاء ساکنین علی غیر حده په حالت د وقف کې نه ؤ او اول ساکن مده او نون خفیفه هم نه ؤ نو مونږ ددې قانون پنځم حکم جاري کړو او په طریقې د وجوب سره مو اول ساکن ته حرکت د کسرې ورکړو نو يَخِصِّمُوْنَ ویل واجب دی .

فائده : د دري ځایونو نه علاوه د ټولو صرفیانو حضراتو اتفاق دی چې اول ساکن دې حذف کړې شي لیکن

په دري ځايونو کې اختلاف دی : (۱) مصدر باب افعال از اجوف ، (۲) مصدر باب استفعال از اجوف ، (۳) اسم مفعول ثلاثي مجرد از اجوف .

د امام سيبويه مذهب : امام سيبويه دويم ساکن حذف کوي . **د اخفش مذهب** : اخفش صاحب اول ساکن حذف کوي ، خو امام سيبويه استاذ دی او اخفش يې شاګرد دی .

فائده : التقاء ساکنين ويلې شي دوو ساکنينو جمع کولو ته او ددې دوه قسمونه دي : (۱) التقاء ساکنين على حده ، (۲) التقاء ساکنين على غير حده ، د على حده د پاره دري شرطونه دي او د على غير حده د پاره اوه (۷) صورته دی .

د على حده د پاره اول شرط : چې ساکن اول مده يا ياء تصغيره وي .

احترازي مثال : يَخِصِّصُوْنَ .

دويم شرط : چې ساکن ثاني دی مدغم وي . **احترازي مثال** : قَالْنَ .

دريم شرط : چې په يو کلمه کې وي . **احترازي مثال** : فِي الْقُرْآنِ .

اتفاقي مثال : اِحْمَارَّ ، اُحْمَوْرَّ ، خُوَيْصَّةٌ .

د على غير حده د پاره اوه صورته دي : **اول صورت** : چې اول شرط ونه موندې شي لکه يَخِصِّصُوْنَ .

دويم صورت : چې دويم شرط ونه موندلې شي لکه قَالْنَ . **دريم صورت** : چې دريم شرط لره ونه موندې شي لکه اِضْرِبُوْنَّ . **څلورم صورت** : چې اول او دويم شرط ونه موندلې شي لکه مُدَّ .

پنځم صورت : چې دويم او دريم شرط ونه موندې شي لکه اِضْرِبُوا الْقَوْمَ **شپږم صورت** : چې اول او دريم شرط ونه موندې شي لکه لِتُدْعَوُنَّ **اوم صورت** : چې دري واړه شرطونه ونه موندلې شي لکه قُلِ الْحَقَّ .

د ثلاثي مزيد فيه ابواب ، مصادر او علامات :

باب اول افعال : چون اَلْاِكْرَامُ بزرګي دادن ، عزت کول .

علامت : باب افعال په ماضي او امر کې همزه قطعي وي او په مضارع کې حروف اتين مضموم وي .

باب دوم تفعيل : چون اَلتَّصْرِيْفُ ګردانيدن ، اوړيدل .

علامت : ددې باب علامت دادی چې ددې عين کلمه به مشدد وي او په مضارع کې به يې حروف اتين مضموم وي .

باب سوم مفاعله : چون اَلْمُضَارَبَةُ ، يو بل لره وهل .

علامت : ددې باب علامت ذادی چې ددې د فاء او عين کلمې په مينځ کې به الف زائد وي او حروف اتين به مضموم وي .

مصدر تفعيل آمد بهنج تا اندر خيال — تَفْعِلَةٌ تَفْعَالٌ وَفِعَّالٌ وَفُعَالٌ آمد فِعَالْ

بشنو از من آنچه بر وزنش همے آيد مثال — تَذْكِرَةٌ تَكْرَارٌ كِذَّابٌ وَسَلَامٌ آمد و قِتَالْ

Maktaba Tul Ishaat.com

باب چهارم تفعل : چون اَلتَّصَرُّفُ اوپیدل ددې باب علامت دادی چې ددې د فاء کلمې نه مخکې تاء زائده وي او عین کلمه به یې مشدده وي .

باب پنجم تفاعل : چون اَلتَّضَارُبُ یو بل لره وهل .

علامت : ددې باب علامت دادی چې ددې د فاء کلمې نه مخکې تاء زائده وي او د فاء او د عین کلمې په مینځ کې الف زائد وي .

باب ششم افتعال : چون اَلْاِکْتِسَابُ په محنت او کوشش سره حاصلول .

علامت : ددې باب علامت دادی چې ددې په ماضي او امر کې همزه وصلي وي او د فاء کلمې نه پس تاء زائده وي .

باب هفتم انفعال : چون اَلْاِنْصِرَافُ ، ګردیدن ، اوپیدل .

علامت : ددې باب علامت دادی چې ددې په ماضي او امر کې همزه وصلي وي او د فاء کلمې نه مخکې نون زائد وي .

باب هشتم استفعال : چون اَلْاِسْتِخْرَاجُ ، د وتلو کوشش کول .

علامت : ددې باب علامت دادی چې ددې په ماضي او امر کې همزه وصلي وي او د فاء کلمې نه مخکې سین او تاء زائد راځي .

باب نهم افعلال : چون اَلْاِحْمِرَارُ ، سور کیدل .

علامت : ددې باب علامت دادی چې ددې په ماضي او امر کې به همزه وصلي وي او د لام کلمه یې په تکرار سره راځي .

باب دهم افعیلال : چون اَلْاِحْمِيْرَارُ ، زیات سور کیدل .

علامت : ددې باب علامت دادی چې ددې په ماضي او امر کې به همزه وصلي وي او د عین او د لام کلمې په مینځ کې یې الف زائد راځي او د لام کلمه یې مشدد وي .

باب یازدهم افعوال : چون اِجْلِوَّاذُ منډې وهل .

علامت : ددې باب علامت دادی چې ددې په ماضي او امر کې همزه وصلي وي او په څلورم ځای کې یې واو مشدد وي .

باب دوازدهم افعیعال : چون اَلْاِحْدِيْدَابُ ، په ملا کورپ کیدل ، شاه کروپي انسان .

علامت : ددې باب علامت دادی چې ددې په ماضي او امر کې همزه وصلي وي او عین کلمه یې تکرار سره راځي او څلورم ځای کې یې واو ساکن زائده وي .

درباعي ابواب او علامات :

باب اول فعللة : چون اَلدَّحْرَجَةُ ، کانړي او ډبرې اړول .

علامت : ددې باب علامت دادی چې ددې په مضارع کې حروف **اتين** مضموم وي .

باب اول تفعلل : چون اَلتَّدَحْرُجُ کانړي او ډبرې اوړيدل .

علامت : ددې باب علامت دادی چې ددې د **فاء** کلمې نه مخکې تاء زائده وي .

باب دوم افعنلال : چون اَلاِحْرِنْجَامُ ، اوښان په اوبو باندې جمع کيدل .

علامت : ددې باب علامت دادی چې ددې په ماضي او امر په شروع کې **همزه** وصلي وي او څلورم ځای کې يې نون زائد راځي .

باب سوم افعلال : چون اَلاِقْشِعْرَارُ ، د بدن ويښتان اودريدل .

علامت : ددې باب علامت دادی چې ددې په ماضي او د امر په شروع کې **همزه** وصلي وي او لام کلمه يې تکرار سره وي چې په کې لام ثاني زائد وي .

فائده : په کومه کلمه کې چې فاء او عين کلمه مشدد وي نو هغه به باب **تفعل** وي لکه اِشَّمَّعَ يَشَّمَّعُ په کومه کلمه کې چې فاء کلمه مشدد وي او ددې نه پس الف وي نو باب **تفاعل** به وي لکه اِثَّاقَلَ .

په کومه کلمه کې چې صرف يو حرف مشدد وي نو باب **افتعال** به وي لکه گَسَّبَ يَگْسِبُ .

د ثلاثي مزيد فيه مصادر او ابواب :

باب اول : صرف صغير ثلاثي مزيد فيه صحيح از باب **افعال** چون اَلاِگْرَامُ ، عزت کول .

مصادر : (۱) اَلاِنْبَاتُ راتو کيدل ، (۲) اَلاِنْصَاتُ چپ کيدل ، (۳) اَلاِحْضَارُ حاضرول ، (۴) اَلاِنْذَارُ يرول ، (۵) اَلاِغْلَاقُ بندول .

باب دوم : صرف صغير ثلاثي مزيد فيه صحيح از باب **تفعيل** چون اَلتَّگْرِيْمُ د بل اکرام کول .

مصادر : (۱) اَلتَّرْغِيْبُ ترغيب ورکول ، (۲) اَلتَّعْذِيْبُ عذاب ورکول ، (۳) اَلتَّقْرِيْبُ نزدې کول ، (۴) اَلتَّصْدِيْقُ رښتيا کول ، (۵) اَلتَّرْجِيْحُ يو په بل باندې زيات والې او ترجيح ورکول .

باب سوم : صرف صغير ثلاثي مزيد فيه صحيح از باب **مفاعله** چون اَلْمُضَارَبَةُ يو بل لره وهل .

مصادر : (۱) اَلْمُحَارِبَةُ جنګ کول ، (۲) اَلْمُطَالَبَةُ غوښتل ، (۳) اَلْمُبَاعَدَةُ لرې کول ، (۴) اَلْمُتَابَعَةُ وروسته تلل ، (۵) اَلْمُجَادَلَةُ جنګ جګړه کول .

باب چهارم : صرف صغير ثلاثي مزيد فيه صحيح از باب **تفعُّل** چون اَلتَّصَرُّفُ اوړيدل .

مصادر : اَلتَّقَبُّلُ قبلول ، (۲) اَلتَّلَبُّثُ ناوخته کول ، (۳) اَلتَّجَنُّبُ يو طرف ته کيدل ، (۴) اَلتَّرَهُّجُ څخيدل ،

Maktaba Tul Ishaat.com

(۵) اَلتَّفَكُّرُ سوچ او فکر کول.

باب پنځم :صرف صغیر ثلاثي مزید فیه صحیح از باب تفاعل چون اَلتَّضَارُبُ یو بل وهل.

مصادر :(۱) اَلتَّجَانُفُ مائله کیدل، (۲) اَلتَّجَاهُلُ په تکلف سره جهل ظاهرول، (۳) اَلتَّحَارُشُ یو بل لره راپاروول، (۵) اَلتَّحَالُمُ په تکلف سره بردباري ظاهرول.

باب شپږم :صرف صغیر ثلاثي مزید فیه صحیح از باب افتعال چون اَلاِكْتِسَابُ محنت کول.

مصادر :(۱) اَلاِجْتِنَابُ پرهیز کول، ځان ساتل (۲) اَلاِقْتِرَابُ نزدې کیدل، (۳) اَلاِخْتِسَالُ لامبل، (۴) اَلاِعْتِمَادُ یقین کول، (۵) اَلاِسْتِمَاعُ اوریدل.

باب هفتم :صرف صغیر ثلاثي مزید فیه صحیح از باب انفعال چون اَلاِنْصِرَافُ اوریدل.

مصادر :(۱) اَلاِنْفِطَارُ څیریدل، شلیدل، (۲) اَلاِنْشِعَابُ څانګه څانګه کیدل، (۳) اَلاِنْقِلَابُ اوریدل، (۴) اَلاِنْصِرَافُ واپس کیدل، (۵) اَلاِنْحِرَاقُ شلیدل.

باب هشتم :صرف صغیر ثلاثي مزید فیه صحیح از باب استفعال چون اَلاِسْتِخْرَاجُ د وتلو کوشش کول.

مصادر :(۱) اَلاِسْتِبْشَارُ خوشحاله کول، (۲) اَلاِسْتِنْصَارُ مدد کول، (۳) اَلاِسْتِخْبَارُ خبر طلب کول، (۴) اَلاِسْتِحْقَارُ حقیر ګڼل، (۵) اَلاِسْتِغْفَارُ بخښش غوښتل.

باب نهم :صرف صغیر ثلاثي مزید فیه صحیح از باب افعلال چون اَلاِحْمِرَارُ زیات سور کیدل.

باب دهم :صرف صغیر ثلاثي مزید فیه صحیح از باب افعیلال چون اَلاِحْمِيْرَارُ زیات سور کیدل.

مصادر :(۱) اَلاِدْهِيْمَامُ توریدل، (۲) اَلاِحْمِيْرَارُ زیات سور کیدل، (۳) اَلاِشْهِيْبَابُ داس رنګ سپینیدل، (۴) اَلاِسْمِيْرَارُ غنم رنګي کیدل، (۵) اَلاِصْحِيْرَارُ وابنه اوچیدل.

باب یازدهم :صرف صغیر ثلاثي مزید فیه صحیح از باب افعوال چون اَلاِجْلِوَّازُ مندې وهل.

باب دوازدهم :صرف صغیر ثلاثي مزید فیه صحیح از باب افعیعال چون اَلاِحْدِيْدَابُ ملا کبیدل.

مصادر :(۱) اَلاِخْشِيْشَانُ دیر شخیدل، (۲) اَلاِخْلِيْلَاقُ دجامو زړیدل، (۳) اَلاِمْلِيْلَاحُ د اوبو نمکین کیدل، (۴) اَلاِخْرِيْرَاقُ د جامو شلیدل.

مصادر ابواب رباعي :

باب اول :صرف صغیر رباعي مجرد صحیح از باب فَعْلَلَةٌ چون اَلدَّحْرَجَةُ کانړي اړول، دبرې اړول.

مصادر :(۱) اَلزَّعْفَرَةُ په زعفرانو کې رنګول، (۲) اَلبَعْثَرَةُ اوچتول، (۳) اَلعَسْكَرَةُ لښکر تیاروول، (۴) اَلقَنْطَرَةُ پل ترل، (۵) اَلبَرْقَعَةُ برقعه اچول.

باب دوم :صرف صغیر رباعي مجرد صحیح از باب تَفَعْلُلٌ چون اَلتَّدَحْرُجُ کانړي اړول.

مصادر :(۱) اَلتَّزَلْدُقُ بې دینه کیدل ، (۲) اَلتَّبَخْتُرُ په نخرو تلل .

باب سوم :صرف صغیر رباعي مجرد صحیح از باب افعنلال چون اَلْاِخْرِنْجَامُ د اوښانو په اوبو باندې جمع کول .

باب چهارم :صرف صغیر رباعي مجرد صحیح از باب افعلأل چون اَلْاِقْشِعْرَارُ د بدن ویښتان ودریدل .

مصدر :اَلْاِطْمِئْنَانُ مطمئن کیدل .

قوانین مثال :

دعِدَةٌ قانون	(۱) حکم	(۱) شرط

قانون :هرواوی که واقع شود مقابله فاء کلمه مصدری که بروزن فِعْلٌ باشد بشرطیکه مضارع معلومش نیز معلل باشد ، کسرهٔ اش را نقل کرده بما بعد داده آن را حذف کرده وجوبًا .

ترجمه :هر هغه واو چې واقع شي په مقابله د فاء کلمې د هغه مصدر چې په وزن د فِعْلٌ وي خو په دې شرط چې مضارع يې معلوم او معلل هم وي نو کسره به نقل کولې شي او مابعد ته به ورکولې شي او حذف کولې به شي وجوباً .

نوم :ددې قانون نوم دی عدة والا قانون چې ددې د پاره یو حکم او یو شرط دی .

حکم :که واو په مقابله د فاء کلمې مصدر کې واقع وي او مصدر هم د فعل په وزن وي نو د واو حرکت کسره نقل کول او مابعد ته ورکول او واو حذف کول واجب دی .

شرط :په مضارع معلوم کې به تعلیل شوې وي .

احترازي مثال :وِسْمٌ . **اتفاقي مثال** :وِعْدٌ ، واو واقع شو د مصدر د فاء کلمې په مقابله کې او مصدر په وزن د فِعْلٌ وو نو مونږ دا قانون جاري کړ او د واو حرکت کسره مو نقل کړه مابعد ته مو ورکړه او واو مو حذف کړ نو عِدْ شو بیا اِقَامَةٌ اِسْتَقَامَةٌ والا قانون مو جاري کړو او د حذف شده واو په عوض کې مو په آخر کې یاء متحرکه راوړه نو د عِدْ نه عِدَةٌ شو .

فائده :(۱) عِدَةٌ په اصل کې وِعْدٌ وو په واو باندې کسره ثقیله وه دا مو نقل کړه او مابعد (عین) ته مو ورکړه او دا واو مو حذف کړ او د واو په عوض کې مو په آخر د کلمې کې تاء متحرکه بفتح ماقبل راوړه نو د وِعْدٌ نه عِدَةٌ جوړ شو ، (۲) عِدَةٌ په اصل کې وِعْدٌ وو واو سره د حرکت نه مو حذف کړ او ددې په عوض کې مو د کلمې په آخر کې تاء متحرکه راوړه .

Maktaba Tul Ishaat.com

قانون : در مصدر هر حرفی که بجز التقاء تنوینی بیفتد ، عوضش تاء متحرکه در آخرش در آرند وجوباً ، مگر لغةً و مائةً شاذ اند .

ترجمه : په مصدر کې چې هر حرف دوجې د التقاء د تنوینینو نه وغورځیږي نو په عوض کې به یې تاء متحرکه په آخر کې راوړلې شي وجوباً مګر لغةً او مائةً شاذ دی .

نوم : ددې قانون نوم دی اِقَامَةٌ ، اِسْتِقَامَةٌ والا قانون چې ددې د پاره یو حکم او یو شرط دی .

حکم : که چرته حذف شوې حرف مصدر کې وي نو د حذف شوې حرف په عوض کې به په آخر کې تاء متحرکه راوړل واجب دی .

شرط : ددې شرط دادی چې حذف به د التقاء تنوین د وجې نه ، نه وي .

احترازي مثال : هُدًی .

اتفاقي مثال : اِقْوَامٌ اِسْتِقْوَامٌ واو مفتوح په مینځ کې راغله ماقبل حرف صحیح ساکن وو نو یُقَالُ یُبَاعُ والا قانون مو جاري کړ د واو حرکت فتحه مو نقل کړه ماقبل ته مو ورکړه او واو مو په الف سره بدل کړو نو اِقَامٌ اِسْتِقَامٌ شو بیا التقاء ساکنین شو اول مده وه هغه مو حذف کړه نو اِقَامٌ اِسْتِقَامٌ شو بیا مو دا قانون په کې جاري کړو او د حذف شوې واو په عوض کې مو په آخر کې تاء متحرکه راوړه نو اِقَامَةٌ اِسْتِقَامَةٌ شو .

فائده : لغةً ، مائةً کې ددې قانون دوه شرطونه نه موندلې کیږي بیا هم پرې قانون جاري کیږي هغه داسې چې ددې اصل لُغَوٌ ، مَأَیٌ ؤ قال باع والا قانون سره مو واو یاء مو په الف سره بدل کړ نو لغاً او مأً شو بیا د التقاء ساکنین د قانون د وجې نه اول ساکن مده وغورځیده چې ددې په عوض کې مو په آخر کې تاء متحرکه راوړه نو خلاف قانون لغةً مائةً شو .

سوال : چې کله دا تاء عوضي ده نو ددې حذف په یو صورت کې هم جائز نه ؤ په کار ځکه چې د عوض او د معوض دواړو یو ځای حذف کول ناجائز دی حالانکه په قرآن مجید کې حذف کړې شوې دي لکه و اقام الصلاة ؟ **جواب** : بیشکه عوض تاء حذف کړې شوې ده لیکن ددې قائمقام موجود دی نو سوال مو ختم شو .

سوال : وَلِكُلٍّ وِّجْهَةٌ کې باوجود د شرائطو نه قانون ولې نه جاري کیږي او بله دا چې عوض او معوض جمع دی چې باطل دی ؟ (۱) **جواب** : دا مصدر نه دی نو تعلیل به په کې څنګه وکړو . (۲) **جواب** : که مصدر مونږ تسلیم کړو نو مضارع یُوَجِّهُ معلل نه دی لهذا شرط مفقود شو نو حکم به څنګه جاري شي .

سوال : عِدْ (امر حاضر) په اصل کې اوعدؤ دلته مو مذکوره قانون جاري کړ او واو مو په یاء سره بدل نه کړ بلکه حذف مو کړ ددې څه وجه ده ؟ **جواب** : مذکوره قانون واو د یاء سره د ابدال تقاضا کوي او که امر

حاضر د مضارع (تَعِدُ) موافق جوړ کړې شي نو بیا هغه د حذف واو تقاضا کوي او قاعده داده چې په کوم ځای کې د ابدال او د حذف تعارض راشي نو هلته به حذف ته ترجیح ورکول کیږي ځکه چې مقصود تخفیف وي او تخفیف په حذف کې زیات وي ددې د وجې نه په اِوْعِدُ کې واو حذف کړې شو .

موزون	اصل	وزن	قانون	نظیر
سِعَةٌ	وِسْعٌ	فِعْلٌ	عدة . اقامة	عِدَةٌ
اِمَارَةٌ	اِمْوَارٌ	اِفْعَالٌ	یقال . التقاء . اقامة	اِکْرَامٌ
فَعْدَةٌ	وِعْدٌ	فِعْلٌ	عدة . اقامة	
اِسْتِخَارَتُوْ	اِسْتِخْوَارٌ	اِسْتِفْعَالٌ	اقامة . تنوین	اِسْتِخْرَاجٌ
لَرْدَنِيْ	وِرْدٌ		عدة . اقامة	
اَلْاِسْتَجَابَةُ	اِسْتِجْوَابًا	اِسْتِفْعَالٌ	اقامة	اِسْتِخْرَاجٌ

دمیعاد قانون (۱) حکم (۱) شرط

قانون : هرواو ساکن مظهر ماقبلش مکسور ، آن واو را بیا بدل کنند وجوباً بشرطیکه باعث تحریکش موجود نباشد .

ترجمه : هر هغه واو ساکن مظهر چې ماقبل یې مکسور وي نو د هغه واو به په یاء سره بدلولې شي وجوباً خو په دې شرط چې باعث د متحرک کیدو ددې موجود نه وي .

نوم : ددې قانون نوم دی میعاد والا قانون چې ددې د پاره یو حکم او یو شرط دی .

حکم : ددې حکم دا دی چې که واو ساکن مظهر ماقبل مکسور وي نو واو په یاء سره بدلول واجب دی .

شرط : واو ته د حرکت ورکولو والا سبب موجود نه وي .

احترازي مثال : اَوَزَّةٌ چې په اصل کې اِوْزَزَةٌ وو . **اتفاقي مثال** : مِوْعَادٌ واو ساکن ماقبل مکسور و نو دا قانون مو جاري کړ واو مو په یاء سره بدل کړ نو مِیْعَادٌ شو .

دِاتَّقَدَ یَتَقِدُّ قانون (۱) حکم (۱) شرط

قانون : هرواو ویاء غیر بدل از همزه که واقع شود مقابله فاء باب افتعال یا تفعل یا تفاعل آن را تاء کرده در تاء ادغام میکنند وجوباً و در تفعل و تفاعل جائز است مگر اتخذ یتخذ شاذ است .

ترجمه : هر واو او یاء چې بدل شوي نه وي په همزې سره او واقع شي په مقابله د فاء کلمې د باب افتعال یا

Maktaba Tul Ishaat.com

تفعل یا تفاعل نو دا به تاء کولې شي او تاء به په تاء کې مدغم کولې شي وجوباً او په تَفَعُّلْ او تَفَاعُلْ کې جائز دی مګر اِتَّخَذَ يَتَّخِذُ شاذ دی.

نوم : ددې قانون نوم دی اِتَّقَدَ يَتَّقِدُ والا قانون چې ددې دپاره یو حکم او یو شرط دی :

حکم : که واو او یاء باب افتعال یا تفعل یا تفاعل د فاء کلمې په مقابله کې و نو یاء تاء کول او تاء په تاء کې مدغم کول په باب افتعال کې واجب او په باب تفعل او تفاعل کې جائز دی.

شرط : چې واو او یاء په همزې سره به بدل شوې نه وي.

احترازي مثال : اِيْتَمَرَ أُوْتُمِرَ چې په اصل کې اِءْتَمَرَ اُءْتُمِرَ وُ.

اتفاقي مثال د باب افتعال : اَوْتَقَدَ يَوْتَقِدُ اِيْتَسَرَ يَيْتَسِرُ، نو واو او یاء واقع شو د باب افتعال د فاء کلمې په مقابله کې نو مونږ په کې دا قانون جاري کړو او واو او یاء مو په وجوبي طریقې سره تاء کړه نو اِتْتَقَدَ يَتْتَقِدُ اِتْتَسَرَ يَتْتَسِرُ شو بیا تاء مو په تاء کې مدغم کړه نو اِتَّقَدَ يَتَّقِدُ، اِتَّسَرَ يَتَّسِرُ شو.

اتفاقي مثال : د باب تفعل او تفاعل : تَوَعَّدَ تَوَاعَدَ، تَيَسَّرَ تَيَاسَرَ، واو او یاء واقع شوه د باب تفعل او د تفاعل د فاء کلمې په مقابله کې نو مونږ دا قانون په طریقې د جواز سره جاري کړ نو واو یاء مو په تاء کړه نو تَتَعَّدَ تَتَاعَدَ تَتَسَّرَ تَتَاسَرَ بیا مو جنس په جنس کې مدغم کړ نو ابتداء بالسکون محال وه نو په شروع کې مو همزه وصلي راوړه نو اِتَّعَدَ اِتَّاعَدَ اِتَّسَرَ اِتَّاسَرَ شو.

فائده : اِتَّقَدَ او ددې په مثل کې دوه قانونه وجوبي دي : (١) مِيْعَادٌ، (٢) اِتَّقَدَ، يَتَّقِدُ، لیکن جاري کیږي په کې صرف اِتَّقَدَ يَتَّقِدُ مِيْعَادٌ په کې ولې نه جاري کیږي؟

جواب : ددې دوه وجهې دي : **اوله وجه** : واو او تاء قریب المخرج وي چې ددې ادغام په نسبت سره د واو او یاء نه اولی دی. **دوهمه وجه** : که اول مِيْعَادٌ والا جاري شي بیا اِتَّقَدَ والا نو دا تکثر بلا ضرورت دی، او د زیات تفصیل د پاره املاء الصرف مطالعه کړي.

موزون	اصل	وزن	قانون	نظیر
مُتَّبِعِيْنَ	مُوْتَبِعِيْنَ	مُفْتَعِلِيْنَ	اتقد	مُكْتَسِبِيْنَ
لَتٌّ لَانٌ	اِوْتِلَانٌ	اِفْتِعَالٌ	اتقد	اِكْتِسَابٌ
لَتَّ خَدْ	تَوَخَّدْ	تَفَعَّلْ	اتقد	تَصَرَّفْ
مِيْزَانٌ	مِوْزَانٌ	مِفْعَالٌ	میعاد	مِضْرَابٌ
اِيْرَادٌ	اِوْرَادٌ	اِفْعَالٌ	میعاد	اِكْرَاماً
اِتَّحِدْ	اِوْتَحِدْ	اِفْتَعِلْ	اتقد	اِكْتَسِبْ
لَتَّ لَتَّ	اِوْتَلَدْتَ	اِفْتَعِلْتَ	اتقد. وحت	//

فَتُّ حِتَّ	اِوْتُجِدْتَ	اُفْتُعِلْتَ	اتعد. وعت	اُكْتُسِبْتَ
اَلْاِسْتِيْجَابُ	اَلْاِسْتِوْجَابُ	اَلْاِسْتِفْعَالُ	ميعاد	اَلْاِسْتِخْرَاجُ
لَتُّ رِبِّ	اُوْتُ رِدْتِ	اُفْتُعِلْتِ	اتعد. وعت	اُكْتُسِبْتِ
لَوْحِتَّ	وُجِدْتَ	فُعِلْتُ	شهد. وعت	ضُرِبْتَ
فَتَّعتَّ	اِوْتَعَدْتَ	اِفْتَعَلْتَ	اتقد - وعت	اِكْتَسَبْتَ
لَتُّوْبِتُّ	تُوَوْبِدْتُ	تُفُوْعِلْتُ	اتقد //	تُضُوْرِبْتُ

دا اُعِدَ اِشَاحٌ قانون (۲) حکم

قانون : هرواو مضموم یا مکسور که واقع شود در اول کلمه وما بعدش دیگرواو متحرك نباشد یا مضموم که مقابله عین کلمه باشد همزه می شود جوازا بشرطیکه در مضارع معلوم نباشد.

ترجمه : هر هغه واو مضموم یا مکسور چې واقع شي په اول د کلمه کې او وروسته تري بل واو متحرک نه وي یا مضموم وي او په مقابله د عین کلمه کې وي نو دا به په همزې سره بدلولې شي جوازا خو په دې شرط چې په مضارع معلوم کې به نه وي.

نوم : ددې قانون نوم دی اُعِدَ، اِشَاحٌ والا قانون، چې ددې د پاره دوه حکمه دی. (۱) **حکم** : که واو مضموم یا مکسور د کلمې په شروع کې وي او د هغې واو نه پس دویم واو متحرک نه وي نو دغه واو په همزې سره بدلول جائز دی. **اتفاقي مثال** : وُعِدَ وِشَاحٌ، واو مضموم او مکسور د کلمې په شروع کې واقع شو نو ددې قانون اولنې حکم مو په کې جاري کړو واو مو په جوازي طریقې سره په همزې سره بدل کړو نو اُعِدَ اِشَاحٌ شو.

(۲) **حکم** : که واو مضموم په مقابله د عین کلمې کې وي او مضارع معلوم کې نه وي نو واو په همزې سره بدلول جائز دی. **اتفاقي مثال** : اَدُوْرٌ قَوْلَ، واو مضموم د عین کلمې په مقابله کې واقع شو نو ددې قانون دوهم حکم مو په کې جاري کړو واو مو په جوازي طریقې سره په همزې سره بدله کړه نو اَدْءُرٌ قَئْلَ شو.

دیَعِدُ یَضَعُ قانون (۳) حکم

قانون : هرباب مثال واوی بروزن مَنَعَ یَمْنَعُ یا که ماضی او نیافته شده باشد یا مضارع معلومش بروزن یَفْعِلُ باشد در مضارع معلوم او فاء کلمه راحذف کنند وجوباً واز باب فَعِلَ یَفْعَلُ در دو باب وَسِعَ، یَسَعُ و وَطِیءَ یَطَیءُ نیز.

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: هر باب د مثال واوي چې په وزن د مَنَعَ يَمْنَعُ وي يا ماضي يې کم استعمال شوې وي يا مضارع معلوم يې په وزن د يَفْعِلُ وي نو په مضارع معلوم کې به فاء کلمه حذف کولې شي وجوباً او د باب فَعِلَ يَفْعَلُ په دوه بابونو وَسِعَ ، يَسَعُ او وَطِئَ يَطَئُ کې هم .

نوم: ددې قانون نوم دی يَعِدُ يَضَعُ والا قانون چې ددې دپاره دري (۳) حکمه دی :

(۱) حکم: که مثال واوي باب د مَنَعَ يَمْنَعُ په وزن باندې وي نو په مضارع معلوم کې فاء کلمه حذف کول واجب دی.

اتفاقي مثال: وَضَعَ يَوْضَعُ ، واو واقع شو د مضارع د فاء کلمې په مقابله کې او مضارع يې د يَمْنَعُ په وزن باندې وه نو ددې قانون اول حکم مو پرې جاري کړو او د فاء کلمې واو مو حذف کړو نو يَضَعُ شو

(۲) حکم: داسې باب وي چې د هغې ماضي ډيره کمه استعمال شوې وي .

اتفاقي مثال: وَذَرَ يَوْذَرُ نه يَذَرُ وَدَعَ يَوْدَعُ نه يَدَعُ ويل واجب دی .

(۳) حکم: که مثال واوي يې د باب يَفْعِلُ په وزن وي نو مضارع معلوم کې فاء کلمه حذف کول واجب دی.

اتفاقي مثال: وَعَدَ يَوْعِدُ ، واو واقع شو د مضارع فاء کلمې په مقابله کې او مضارع د يَفْعِلُ په وزن وه نو ددې قانون دريم حکم مو په کې جاري کړو او د فاء کلمې واو مو حذف کړ نو يَعِدُ شو .

(۱) حکم — د اَوَاعِدُ اُوَيْعِدُ قانون

قانون: هردو واو متحرك که جمع شوند در اول کلمه واو اولی را بهمزه بدل کنند وجوباً .

ترجمه: هر دوه واوه متحرکه چې جمع شي په اول د کلمه کې اولنې واو به په همزې سره بدلولې شي وجوباً .

نوم: ددې قانون نوم دی اَوَاعِدُ اُوَيْعِدُ والا قانون چې ددې د پاره يو حکم دی :

حکم: چې کله دوه واوه متحرکه د کلمې په شروع کې جمع شي نو اولنې واو په همزې سره بدلول واجب دی.

اتفاقي مثال: وَوَاعِدُ وُوَيْعِدُ ، دوه واوه متحرکه په شروع د کلمې کې جمع شو نو دا قانون مو په کې جاري کړو اول واو مو په همزې سره بدل کړ نو اَوَاعِدُ اُوَيْعِدُ شو .

موزون	اصل	وزن	قانون	نظير
أُجِدَ بغير مهموز	وُجِدَ	فُعِلَ	أُعِدَ	ضُرِبَ
طَئُلَ	طَوُلَ	فَعُلَ	أُعِدَ	ضَرُبَ
لَمْ تَضَعِيْ	لَمْ تَوْضَعِيْ	لَمْ تَفْعَلِيْ	يَعِدُ	لَمْ تَمْنَعِيْ
لَنْ تَجِدَ	لَنْ تُوجِدَ	لَنْ تُفْعِلَ	يعد	لَنْ تَضْرِبَ
بِنْ	اِوْبِنْ	اِفْعِلْ	يعد . همزه	اِضْرِبْ

بَنْ	اِوْبَنْ	اِفْعَلْ	// //	اِعْلَمْ
عَلَا ۳ عدد	اِوْعَلَا	اِفْعَلَا	//	اِعْلَمَا
//	اِوعَلَا	اِفْعَلَا	//	//
//	اِوْعَلَنْ	اِفْعَلَنْ	// خفيفه	اِعْلَمَنْ
يَهَبُ	يَوْهَبُ	يَفْعَلُ	يعد	يَمْنَعُ
يَصِفُوْنَ	يَوْصِفُوْنَ	يَفْعِلُوْنَ	يعد	يَضْرِبُوْنَ
قِدْنَانِ	اِوْقِدْنَانِ	اِفْعَلْنَانِ	يعد . همزه	اِضْرِبْنَانِ
هَبْ لِيْ	اِوْهَبْ	اِفْعَلْ	//	اِمْنَعْ

دِيَوْجَلُ يَاجَلُ يَيْجَلُ يِيْجَلُ قانون (۱) حكم

قانون : هرباب مثال واوی از باب عَلِمَ يَعْلَمُ که غير محذوف الفاء باشد در مضارع معلوم او سوای اصل سه وجه خواندن جائز است چنانچه در يَوْجَلُ ، يَاجَلُ ، يِيْجَلُ خواندن جائز است .

ترجمه : هر باب د مثال واوي د باب د عَلِمَ يَعْلَمُ نه چې فاء کلمه يې نه وي حذف شوې په مضارع معلوم کې په غير د اصل نه په کې دري وجه ويل جائز دی نو لهذا يَوْجَلُ ، يَاجَلُ يِيْجَلُ ويل جائز دی .

نوم : ددې قانون نوم دی يَوْجَلُ يَاجَلُ يَيْجَلُ يُيْجَلُ والا قانون چې ددې د پاره يو حکم دی .

حکم : يې دا دی چې د مثال واوي باب به د عَلِمَ يَعْلَمُ په وزن باندې د کوم چې فاء کلمه نه وي حذف کړې شوې نو په مضارع معلوم کې د اصل نه علاوه دري وجهې ويل جائز دی . **اتفاقي مثال** : يوجل د مثال واوي باب د عَلِمَ يَعْلَمُ په وزن دی چې د کوم فاء کلمه نه ده حذف کړې شوې نو مونږ په کې دا قانون جاري کړو او مضارع معلوم کې مو په طريقې د جواز سره د اصل نه علاوه دري وجهې يَاجَلُ يَيْجَلُ يُيْجَلُ ويل جائز دی .

فائده : د واو متحرک نه پس که واو ساکن وي نو د غه واو متحرک په همزې سره بدلول جائز دی لکه وُوْرِيَ لره اُوْرِيَ ويل جائز دی ځکه چې نفي د واو متحرک ده .

فائده : يو څو الفاظ شاذ دی چې د شرائطو د نه موجوديدو باوجود په کې قانون جاري کيږي مثلاً واو مفتوح په همزې سره بدلولې شي لکه اَحَدٌ اَنَاةٌ اَسْمَاءُ (په وزن د فعلاء) چې په اصل کې وَحَدٌ . وِنَاةٌ . وَسْمَاءُ و او واو مضموم هم په تاء سره بدلولې شي لکه تُجَاةٌ . تُكْلَانٌ . تُرَاثٌ چې په اصل کې وُجَاهٌ . وُكْلَانٌ . وُرَاثٌ و .

سوال : ذکر شوې قاعده په لفظ د اولی سره ماتيږي ځکه چې ددې اصل وولي وو نو دلته واو په همزې سره

Maktaba Tul Ishaat.com

بدلول واجب دی ؟ (۱) **جواب** : دا شاذ دی ، فوائد حقیقیه و دستور المبتدی . (۲) **جواب** : دا محمول علی الجمع دی چې ځنکه جمع په اول کې واو همزې سره وجوبا بدلیږي همدارنګې واحد یې هم په جمع باندې محمول کړې شوې او واو یې په همزې سره بدل کړې شوې دی .

سوال : اَوْعِدَ ، اَوْضَعَ او ددې په مثل دوه قانونه وجوبي دي : (۱) مِیْعَادٌ ، (۲) یَعِدُ یَضَعُ ، لیکن مِیْعَادٌ والا نه جاري کیږي فقط یَعِدُ والا قانون جاري کیږي ددې څه وجه ده ؟ **جواب** : مِیْعَادٌ مقتضی ابدال دی او یَعِدُ مقتضی حذف دی او قاعده ده چې په کوم ځای کې تقابل د ابدال او د حذف راشي نو ترجیح به حذف ته ورکولې کیږي ځکه چې د ابدال ، حذف وغیره نه مقصود تخفیف دی او دا خبره واضحه ده چې په حذف کې په نسبت د ابدال سره زیات تخفیف وي .

موزون	اصل	وزن	قانون	نظیر
فَاتَّلِدْ	اِوْتَلِدْ	اِفْتَعِلْ	اتقد. همزه	اِكْتَسِبْ
لَمْ یَلِدْ	لَمْ یَوْلِدْ	لَمْ یَفْعِلْ	یعد	لَمْ یَضْرِبْ
فَتَّ لَعْتَ	اِوْتَلَعْتَ	اِفْتَعَلْتَ	اتقد. همزه	اِكْتَسَبْتَ
رِمُوْا	اِوْرِمُوْا	اِفْعِلُوْا	یعد. همزه	اِضْرِبُوْا
لَمْ اَرْدُ	لَمْ اَوْرِدْ	لَمْ اَفْعِلْ	// شهد	لَمْ اَضْرِبْ
زِمْ	اِوْزَمْ	اِفْعَلْ	یعد = همزه	اِعْلَمْ
زِمْ	اِوْزِمْ	اِفْعِلْ	//	اِضْرِبْ
زَمْزِمْ	فَعْلِلْ			دَحْرِجْ
زَمْزَمَ	...	فَعْلَلَ		دَحْرَجَ
هَتَّرْدُ	هَلْ . تَوْرِدُ	تَفْعِلُ	یَعد. شمسي ، شهد	تَضْرِبُ
قِشْتَ	اُقْتُشِدْتَ	اُفْتُعِلْتَ	خصم ، همزه ، وعدت	اُكْتُسِبْتَ
اَمْكِیْنٌ	اَنْ . مَكِیْنٌ	فَعِیْلٌ	یرملون	شَرِیْفٌ

دیوسر قانون (۲) حکم (۶) شرائط

قانون : هر یائے ساکن مظهر ماقبلش مضموم ان را بواو بدل کنند وجوباً بشرطیکه در جمع اَفْعَلُ فَعْلَاءُ صفتی و فُعْلٰی صفتی و اسم مفعول ثلاثی مجرد اجوف یائی نباشد و اگر باشد ضمه ماقبلش را بکسره بدل کنند وجوباً .

ترجمه : هر یاء ساکن مظهر چې ماقبل یې مضموم وي د غه یاء به په واو سره بدلولې شي وجوباً په دې شرط

چې په جمع اَفْعَلُ فَعْلَاءُ صفتي او فُعْلٰى صفتي او اسم مفعول ثلاثي مجرد اجوف يائي نه وي او که چيرته وي ضمه د ماقبل به په کسرې سره بدلولې شي وجوباً .

نوم : ددې قانون نوم دی يُوْسَرُ والا قانون چې ددې دپاره دوه حکمه دی ، د اولنې حکم د پاره دري عدمي شرائط دی او د دوهم حکم د پاره دري وجودي شرائط دی .

(۱) **حکم** : که ياء ساکن مظهر ماقبل مضموم وي نو ياء په واو سره بدلول واجب دی .

(۱) **شرط** : ياء د اَفْعَلُ فَعْلَاء صفتي جمع کې به نه وي . **احترازي مثال** : بُيُضٌ .

(۲) **شرط** : ياء فُعْلٰى صفتي کې به نه وي . **احترازي مثال** : حُيْكٰى .

(۳) **شرط** : ياء د اسم مفعول ثلاثي مجرد اجوف يائي په صيغه کې به نه وي .

احترازي مثال : مَبْيُوْعٌ . **اتفاقي مثال** : يُيْسَرُ ، ياء ساکن مظهر ماقبل مضموم وو نو ددې قانون اول حکم مو جاري کړو ياء مو په واو وجوبي طريقې سره واو بدله کړه نو يُوْسَرُ ويل واجب دی .

(۲) **حکم** : چې د ياء ضمه ماقبل کسرې سره بدلول واجب دی .

(۱) **شرط** : ياء د اَفْعَلُ فَعْلَاءُ صفتي جمع کې وي . **احترازي مثال** : يُيْسَرُ .

اتفاقي مثال : بُيُضٌ ، ياء ساکن مظهر ماقبل مضموم وو او د اَفْعَلُ فَعْلَاءُ صفتي جمع کې وو نو ددې قانون د دويم حکم سره د ياء ضمه مو په کسرې سره بدله کړه نو د بُيُضٌ نه به بِيْضٌ شي .

(۲) **شرط** : ياء فُعْلٰى صفتي کې وي . **احترازي مثال** : يُيْسَرُ .

اتفاقي مثال : حُيْكٰى ، ياء ساکن ماقبل مضموم وو او فُعْلٰى صفتي کې وو نو ددې قانون د دوهم حکم سره مو د ياء ضمه په ماقبل کسرې سره بدله کړه نو حُيْكٰى نه حِيْكٰى جوړ شو .

(۳) **شرط** : ياء اسم مفعول ثلاثي مجرد د اجوف يائي په صيغه کې به وي . **احترازي مثال** : يُيْسَرُ .

اتفاقي مثال : مَبْيُوْعٌ ، ياء مضموم په مينځ کې راغله او ماقبل حرف صحيح ساکن وو نو يَقُوْلُ يَبِيْعُ والا قانون مو جاري کړو د ياء حرکت مو نقل کړو ماقبل ته مو ورکړو نو مَبْيُوْعٌ شو بيا ياء ساکن ماقبل مضموم و نو ددې قانون دويم حکم مو په کې جاري کړ او د ياء حرکت مو نقل کړ او ماقبل ته مو ورکړ نو مَبِيُوْعٌ شو ، بيا التقاء ساکنين شو اولنې مده وو هغه مو حذف کړو نو مَبِيْعٌ شو بيا واو ساکن ماقبل مکسور وو نو مِيْعَادٌ والا قانون مو جاري کړو واو مو په ياء سره بدل کړ نو مَبِيْعٌ شو .

فائده : هغه اسم چې د افعل په وزن باندې وي د هغې دري قسمونه دي : (۱) اسمي ، (۲) تفضيلي ، (۳) صفتي . **افعل اسمي** : چې د اَفْعَل په وزن باندې وي او د چا نوم وي مثلاً اَحْمَدُ . **افعل تفضيلي** : چې د افعل په وزن باندې وي او په دې کې زيادتي والا معنى موجوده وي لکه اَضْرَبُ د ډير زيات وهلو والا . **افعل صفتي** : چې د افعل په وزن باندې وي او په دې کې صفتي معنى موجوده وي مثلاً احمر ، ابيض ، اسود

Maktaba Tul Ishaat.com

فائده : د اسم تفضیل مؤنث همیشه د **فُعْلٰی** په وزن راځي او د افعل صفتي مؤنث **فعلاء** په وزن راځي.

فائده : او اسماء چې د **فعلی** په وزن باندې راځي هغه هم په درې قسمه باندې دی : **فعلی اسمي** : چې په دې کې د اسمیت معنی موجوده وي مثلاً **طُوْبٰی** (د ونې نوم دی) . **تفضیلي** : چې په دې کې د زیادت والا معنی موجوده وي مثلاً **طُوْبٰی** زیات وهلو والا ښځه . **فعلي صفتي** : چې په دې کې وصفي معنی وي مثلاً **حُیْکٰی** (ناز نخرو سره تللو والا ښځه) .

فائده : هغه اسماء چې د **فعلاء** په وزن باندې راځي په دوه قسمه دی : (۱) صفتي (۲) اسمي . **فعلا اسمي** : چې د **فعلاء** په وزن باندې وي او په دې کې معنی اسمیت موجود وي مثلاً **صحراء** . **فعلاء صفتي** : چې د **فعلاء** په وزن باندې وي او په هغې کې د وصفیت والا معنی موجود وي مثلاً **حَمْرَاءُ** ، **بَیْضَاءُ** سپینه ښځه .

حکم: که چیرته حرف علت د فعل مضارع په آخر کې راغلې وي چې په کوم باندې حرف جازم داخل وي یا امر حاضر معلوم جوړ کړې شي نو حرف علت حذف کول به واجب وي. **اتفاقي مثال**: د حرف جازم يَدْعُوْ يَرْمِيْ، چې کله حرف جازم داخل شو نو د يَدْعُوْ يَرْمِيْ نه لَمْ يَدْعُ لَمْ يَرْمِ شو يَدْعُوْ يَرْمِيْ نه لَمْ يَدْعُ لَمْ يَرْمِ ویل واجب دی.

اتفاقي مثال د امر حاضر معلوم: اُدْعُ. اِرْمِ نه اُدْعُ اِرْمِ ویل واجب دی.

(۲) حکم دلِتُدْعَوُنَّ لِتُرْمَيِنَّ قانون

قانون: در التقاء ساکنین علی غیرحده اگر ساکن اول غیر مده واو جمع باشد آن را حرکت ضمه می دهند وجوباً و اگر ساکن اول غیر مده یاء وحده باشد آن را حرکت کسره می دهند وجوباً.

ترجمه: په التقاء ساکنین علی غیر حده کې که چیرته ساکن اول غیر مده واو د جمع وي دې ته به حرکت د ضمې ورکولې شي وجوبا او که چیرته ساکن اول غیر مده یاء واحده وي نو دې ته به حرکت د کسرې ورکولې شي وجوباً.

Maktaba Tul Ishaat.com

نوم : ددې قانون نوم دی لِتُدْعَوُنَّ لِتُرْمَيِنَّ والا قانون، چې ددې د پاره دوه (۲) حکمه دی :

(۱) **حکم** : که په التقاء ساکنین علی غیر حده کې اولنی ساکن غیر مده واو د جمع وی نو واو د جمع ته حرکت د ضمې ورکول واجب دی. **اتفاقي مثال** : لِتُدْعَوُنَّ نه لِتُدْعَوُنَّ ویل واجب دی.

(۲) **حکم** : که التقاء ساکنین علی غیر حده کې اولنی ساکن غیر مده د یاء واحده وی نو یاء واحده ته حرکت د کسرې ورکول واجب دی. **اتفاقي مثال** : لِتُرْمَيِنَّ نه لِتُرْمَيِنَّ ویل واجب دی.

موزون	اصل	وزن	قانون
اِهْدِنَا	اِهْدِیْ	اِفْعِلْ	لم یدع
لِ	اِوْلِیْ	//	یعد.لم یدع.همزه
فَاَسْعَ	اِسْعَیْ	اِفْعَل	لم یدع. همزه
مَنْ یَّتِ	یَوْقِیْ	یَفْعِلُ	یعد.لم یدع
فِیْ	اِوْقِیْ	اِفْعِلِیْ	یقول.التقاء.یعد.همزه
لَاتُدْعَوُنَّ	لَاتُدْعَوْنَّ		لِتُدْعَوُنَّ
لَمْ اُوْفِ	اُوْقِیْ	اُفْعِلُ	لم یدع
لُوْ ۲ عدد	اُوْلِوْنْ	اُفْعِلُوْا	یقول.التقاء.یعد.همزه
//	افْوِلُوْنْ	اُفْعِلُنْ	// خفیفه. همزه
اِمْتَنِ	اِمْتَنِیْ	اِفْتَعِلْ	لم یدع

ددُعیٰ فَتُویٰ تَقُویٰ قانون (۲) حکم

قانون : واو لام کلمه فُعْلیٰ اسمی یاء میشود وجوبا، و یاء لام کلمه فَعْلیٰ اسمی واو می شود وجوباً.

ترجمه : واو د لام کلمې د فعلی اسمي یاء کیږي وجوبا، او یاء د لام کلمې د فعلی اسمي واو کیږي وجوباً.

نوم : ددې قانون نوم دی دُعیٰ، فَتُویٰ، تَقُویٰ والا قانون، چې ددې د پاره دوه (۲) حکمه دی :

(۱) **حکم** : که واو په مقابله د لام کلمه کې په فعلی اسمي کې وی نو واو په یاء سره بدلول واجب دی.

اتفاقي مثال : دُعْوی واو په مقابله د لام کلمه د فعلی اسمي کې وو نو دا قانون مو په کې جاري کړو واو مو په یاء سره بدل کړو نو دُعیٰ شو.

فائده : فعلی صفتي واوي وي یا یائي او فعلی اسمي یائي به په خپل حال پاتې کې: ي مثلاً طُلْویٰ، فُصْیَا مؤنث اَفْصیٰ فُتْیَا مؤنث اَفْتیٰ فعلی اسمي واوي وي نو یاء به شي مثلاً دُلْیَا، طُلْیَا. فعلی اسمي به په خپل حال

باندې باقي وي لکه هَهُوىٰ ، صَدْيَا ، رَيَّا دَعْوٰى ، فعلى اسمي يائي به واو شي لکه تَقْوٰى (د نور تفصيل د پاره رضي او شرح الشافيه وګورئ)

(۲) حکم : که ياء په مقابله د لام کلمه فعلى اسمي کې وي نو واو سره بدلول واجب دى .

اتفاقي مثال : فَتْيٰى تَقْيٰى ، ياء په مقابله د لام کلمه فعلى اسمي کې وه نو دا قانون مو په کې جاري کړو او ياء مو په واو سره بدله کړه نو فَتْوٰى ، تَقْوٰى شو .

دَرَخَايَا اَدَاوِىٰ قانون / **(۲) حکم** / **(۳) شرائط**

قانون : هرهمزه که واقع شود ، بعد از الف مفاعل قبل یاء و در مفرد قبل از یاء نبود ، آن را بیاء مفتوحه بدل کنند وجوباً ، مگر آن همزه که واو واقع شده بود در مفرد بعد از الف چهار رمجا چرا که آن همزه را در جمع بواو مفتوحه بدل کنند وجوباً .

ترجمه : هر هغه همزه چې واقع شي پس د الف د مفاعل نه مخکې د ياء نه وي او همزه په مفرد کې مخکې د ياء نه ، نه وي نو د غه همزه به په ياء مفتوحه سره بدلولې شي وجوباً ، مګر هغه همزه چې واو واقع شوې وي په مفرد کې پس د الف نه په څلورم ځای کې ځکه چې دا همزه په جمع کې په واو مفتوحه سره بدلولې شي وجوباً .

نوم : ددې قانون نوم دى دَرَخَايَا اَدَاوِىٰ والا قانون ، چې ددې د پاره دوه (۲) حکمه دى او د اولنې حکم د پاره دوه شرطونه دى او د دويم حکم د پاره يو شرط دى :

(۱) حکم : که همزه د الف مفاعل نه پس او د ياء نه مخکې وي نو د ياء ماقبل همزه په ياء مفتوحه سره بدلول واجب دى .

(۱) شرط : چې همزه به په مفرد کې د ياء نه مخکې نه وي .

احترازي مثال : جَوَائِىٌ .

(۲) شرط : چې همزه مفرده کې به د الف نه پس څلورم ځای باندې واو نه وي پاتې شوې .

احترازي مثال : اَدَائِىٌ .

اتفاقي مثال : رَخَائِىٌ ، خَطَائِىٌ ، همزه د الف مفاعل نه پس راغله نو دا قانون مو په کې جاري کړو همزه مو په ياء مفتوحه سره بدله کړه نو رَخَايِىٌ خَطَايِىٌ شو بيا ياء متحرک ماقبل مفتوح وو نو د قال والا قانون سره مو ياء په الف سره بدله کړه نو رَخَايَاً خَطَايَا شو .

(۲) حکم : که همزه د الف مفاعل نه پس او د ياء نه مخکې وي نو د ياء ماقبل همزه به په واو مفتوحه سره بدلول واجب دى .

شرط : چې په مفرد کې به د الف نه پس څلورم ځای باندې واو پاتې شوې وي .

Maktaba Tul Ishaat.com

احترازي مثال : رَحَائِيُ. **اتفاقي مثال** : اَدَائِيُ ، واو د لام کلمې په مقابله کې راغې او د لام کلمې ماقبل مکسور وو نو دُعِيَ والا قانون مو په کې جاري کړو واو مو په یاء سره بدل کړو نو اَدَاءِيُ شو بیا په همزه مفرده کې د الف نه پس په ځلورم ځای کې واو پاتې شوې ؤ نو مونږ دا قانون په کې جاري کړو نو همزه مو په واو مفتوحه سره بدله کړه نو اَدَاوِيُ شو بیا په قانون د قال سره اَدَاوِيُ شو .

(۱) شرط	(۱) حکم	د رُخَيَّ رُخَيَّةٌ قانون

قانون : هرجائے که سه یاء در یک کلمه جمع شوند ، باین طور که اول مدغم در ثانی و ثالث مقابله لام کلمه آن ثالث را حذف کنند وجوباً نسیا منسیاً بشرطیکه در مصغر باشد.

ترجمه : هر ځای کې چې دري یاء ګانې په یوه کلمه کې جمع شي په داسې شان سره چې اول مدغم وي په دوهم کې او دریم په مقابله د لام کلمه کې وي نو دغه دریم به حذف کولې شي وجوباً نسیا منسیا په دې شرط چې په مصغر کې وي.

نوم : ددې قانون نوم دی رُخَيَّ رُخَيَّةٌ والا قانون ، چې ددې د پاره یو حکم او یو شرط دی :

حکم : چې دري (۳) یاء ګانې وي په یوه کلمه کې په دې طریقې باندې چې اول مدغم وي په دویم کې او دریم د لام کلمې په مقابله کې وي نو دریمه یاء حذف کول واجب دی . **شرط** : چې مصغر کې وي .

احترازي مثال : حَيَّ ، يُحَيِّيُ . **اتفاقي مثال** : رُخَيِّيٌّ رُخَيِّيَةٌ ، دري یاء ګانې په یوه کلمه کې جمع شوې دی اول مدغم وه په دویم کې او دریمه د لام کلمې په مقابله کې وه نو دا قانون مو په کې جاري کړو دریمه یاء مو حذف کړه نو رُخَيَّ رُخَيَّةٌ شو .

فائده : که چیرته دوه یاء ګانې په مقابله د عین کلمې کې جمع وي نو یوه یاء حذف کول جائز دی لکه سَيِّدٌ لره سَيْدٌ ویل جائز دی .

(۲) شرط	(۲) حکم	د قَوِوَتْ طَوِيَتْ قانون

قانون : هرواو ویاء که واقع شود قبل تائے تانیث یا زیادتی فَعَلان ماقبلش واو مضموم باشد ، ضمه ماقبلش را بکسره بدل کنند وجوباً و اگر غیرواو باشد آن یاء را بواو بدل کنند وواو برحال خود باشد .

ترجمه : هر هغه واو او یاء چې واقع شي مخکې د تاء تانیث نه یا په زیادت د فعلان کې او ماقبل یې واو

مضموم وي ضمه د ما قبل به يې په کسرې سره بدلولې شي شي وجوبا او که چيرته غير واو وي د غه ياء به په واو سره بدلولې شي او واو به پر خپل حال پريښودلې شي .

نوم : ددې قانون نوم دی قَوِوَتْ طَوِيَتْ والا قانون چې ددې د پاره دوه حکمه دی ، او د هر حکم د پاره يو شرط دی .

(۱) حکم : که چيرته واو او ياء د تاء تانيث يا زيادتي فعلان نه مخکې وي نو د واو او د ياء ماقبل ضمه په کسرې سره بدلول واجب دی .

شرط : چې د واو او د ياء ماقبل دويم واو مضموم وي .

احترازي مثال : رَخُوَتْ ، نُهُيَتْ . **اتفاقي مثال** : قَوِوَتْ طَوِيَتْ ، واو او ياء تاتنيث نه مخکې وو او واو او د ياء ماقبل دويم واو مضموم وو نو دا قانون مو په کې جاري کړو نو واو او د ياء ماقبل ضمه مو په کسرې سره بدله کړه قَوِوَتْ طَوِيَتْ شو . قَوِوَانِ ، طَوِيَانِ نه قَوِوَانِ طَوِيَانِ شو .

(۲) حکم : که واو او ياء د تاء تانيث يا زيادت فعلان نه مخکې وي نو ياء په واو سره بدلول او واو په خپل حال باندې پريښودل واجب دی .

شرط : چې د واو او د ياء ماقبل دويم واو به نه وي .

احترازي مثال : قَوِوَتْ ، طَوِيَتْ .

اتفاقي مثال : رَخُوَتْ ، نَهُيَتْ ، واو او ياء د تاء تانيث نه مخکې وو او د واو او د ياء ماقبل دويم واو هم نه وو نو دا قانون مو په کې جاري کړو نو ياء مو په واو سره بدله کړه او واو مو په خپل حال باندې پريښود و نو رَخُوَتْ ، نَهُوَتْ ، رَخُوَانِ نُهُيَانِ رَخُوَانِ نَهُوَانِ شو .

درَمُوَ قانون (۱) حکم

قانون : هرياء که واقع شود ، در آخر فعل و ماقبل او مضموم باشد آن را بواو بدل کنند وجوباً .

ترجمه : هر هغه ياء چې واقع شي په آخر د فعل کې او ماقبل يې مضموم وي د غه ياء به په واو سره بدلولې شي وجوباً .

نوم : ددې قانون نوم دی رَمُوَ والا قانون ، چې ددې د پاره يو حکم دی .

حکم : که چيرته ياء د فعل په آخر کې وي او ماقبل يې مضموم وي نو ياء په واو سره بدلول واجب دی .

اتفاقي مثال : رَمُيَ ، ياء د فعل په آخر کې وه او ماقبل مضموم وو نو دا قانون مو په کې جاري کړو نو ياء مو په واو سره بدله کړه نو رَمُوَ شو .

Maktaba Tul Ishaat.com

موزون	اصل	وزن	قانون
يَنْهَوْنَ	يَنْهَيُوْنَ	يَفْعَلُوْنَ	قال. التقاء
قُضَاةٌ	قِضَيَةٌ	فَعَلَةٌ	قال
فَنَجَا ۵ عدد	نَجَوَ	فَعَلَ	//
//	اِوْنَجَا	اِفْعَلَا	بعد. همزه
//	//	//	//
//	اِوْنَجَنْ	اِفْعَلَنْ	// نون خفيفه
//	بر اصل	فَعَلَا	
لَسَلٍ	اِسْتَلِيْ	اِفْتَعِلْ	سين. همزه. لم يدغ
يَوْمَ التَّلَاقِ	تَلَاقُيٌ	تَفَاعُلٌ	د وقف په حالت کې
مُلَاقَاةٌ	مُلَاقِيَةٌ	مُفَاعَلَةٌ	قال
فَلَمْ تَرْضَ	لَمْ تَرْضَوْ	لَمْ تَفْعَلْ	لم يدغ
لَا نَصِ	لَا نَوْصِيْ	لَا نَفْعِلُ	بعد. لم يدغ
مَاشٍ	مَاشِيٌ	فَاعِلٌ	يدعو. التقاء
نَادِهِمْ	نَادِيٌ	فَاعِلٌ	لم يدغ
ضُرَّ	ضُرَيٌ	فُعَلٌ	قال. التقاء
نُحَاةٌ	نَحَوَةٌ	فَعَلَةٌ	قال
مَا اَلْقَاهُ	مَا اَلْقَيَهُ	مَا اَفْعَلَهُ	
اَلْمُسْتَشْفَى		مُسْتَفْعَلٌ	قال

د ناقص واوي ابواب او مصادر :

باب اول : صرف صغير ثلاثي مجرد ناقص واوي از باب **فَعَلَ يَفْعُلُ** چون **اَلدُّعَاء** (دعاء کول).

(۱) **اَلدَّعْوَةُ** روتې ته رابلل، (۲) **اَلدِّعْوَةُ** د ورو کې قد والا کيدل، (۳) **اَلدُّعْوَةُ** جهاد کول، (۴) **اَلدَّعْوٰى** دعوى کول.

باب دوم : صرف صغير ثلاثي مجرد ناقص واوي از باب **فَعَلَ يَفْعِلُ** چون **اَلْمَشْيُ**.

باب سوم : صرف صغير ثلاثي مجرد ناقص واوي از باب **فَعِلَ يَفْعَلُ** چون **اَلرِّضَاءُ**.

باب چهارم : صرف صغير ثلاثي مجرد ناقص واوي از باب **فَعُلَ يَفْعُلُ** چون **اَلنَّحْوُ**.

باب پنجم : صرف صغير ثلاثي مجرد ناقص واوي از باب **فَعُلَ يَفْعُلُ** چون **اَلزِّلْوَةُ**.

باب اول :صرف صغير ثلاثي مزيد فيه ناقص واوي بر وزن **افعال** چون **اَلْاِعْلَاء** ، اوچتول .

باب دوم :صرف صغير ثلاثي مزيد فيه ناقص واوي از **تفعيل** چون **اَلتَّنْحِيَةُ** ، رهاكيدل .

باب سوم :صرف صغير ثلاثي مزيد فيه ناقص واوي از **مفاعلة** چون **اَلْمُنَاجَاة** ، يو بل ته رازويل .

باب چهارم :صرف صغير ثلاثي مزيد فيه ناقص واوي از **تفعُّل** چون **اَلتَّبَنِّي** ، به پسري خواندن .

باب پنجم :صرف صغير ثلاثي مزيد فيه ناقص واوي از **تفاعل** چون **اَلتَّرَافِي** ، د يو بل نه خوشحاله كيدل .

باب ششم :صرف صغير ثلاثي مزيد فيه ناقص از **افتعال** چون **اَلْاِعْتِدَاء** ، د حد نه تجاوز كول .

باب هفتم :صرف صغير ثلاثي مزيد فيه ناقص از **انفعال** چون **اَلْاِنْجِلَاءُ** ، روښانه كيدل .

باب هشتم :صرف صغير ثلاثي مزيد فيه ناقص از **استفعال** چون **اَلْاِسْتِدْعَاء** ، غوښتل .

باب نهم :صرف صغير ثلاثي مزيد فيه ناقص از **افعلال** چون **اَلْاِزْعِوَاءُ** ، باز ايستادن .

باب دهم :صرف صغير ثلاثي مزيد فيه ناقص از **افعيلال** چون **اَلْاِعْرِيْرَاءُ** ، په آس باندې په لغړه سوريدل .

د ناقص يائي ابواب او مصادر :

باب اول :صرف صغير ثلاثي مجرد ناقص يائي از باب **فَعَلَ يَفْعِلُ** چون **اَلرَّمْيُ** ، غشي ويشتل .

باب دوم :صرف صغير ثلاثي مجرد ناقص يائي از **فَعِلَ يَفْعَلُ** چون **اَلْخَشْيُ** ، ويريدل .

باب سوم :صرف صغير ثلاثي مجرد ناقص يائي از **فَعَلَ يَفْعُلُ** چون **اَلْكِنَايَةُ** ، خبره د يو څيز كول او اراده تري د بل څيز اخستل .

باب چهارم :صرف صغير ثلاثي مجرد ناقص يائي از **فَعَلَ يَفْعَلُ** چون **اَلسَّعْيُ** ، منډه وهل .

باب پنجم :صرف صغير ثلاثي مجرد ناقص يائي از **فَعُلَ يَفْعُلُ** چون **اَلنَّمْيُ** ، د عقل انتهاء ته رسيدل .

ختم شو مجردات ناقص يائي او شروع شو مزيدات ددې :

باب اول :صرف صغير ثلاثي مزيد فيه ناقص يائي بر وزن **افعال** چون **اَلْاِهْدَاء** ، هديه وركول .

باب دوم :صرف صغير ثلاثي مزيد فيه ناقص يائي از **تفعيل** چون **اَلتَّسْمِيَةُ** ، نام ايخودل .

باب سوم :صرف صغير ثلاثي مزيد فيه ناقص يائي از **مفاعلة** چون **اَلْمُرَامَاة** ، د يو بل سره غشي ويشتل .

باب چهارم :صرف صغير ثلاثي مزيد فيه ناقص يائي از **تفعُّل** چون **اَلتَّنَمِّي** ، آرزو كول .

باب پنجم :صرف صغير ثلاثي مزيد فيه ناقص يائي از **تفاعل** چون **اَلتَّرَامِي** ، د يو بل سره غشي ويشتل .

باب ششم :صرف صغير ثلاثي مزيد فيه ناقص يائي از **افتعال** چون **اَلْاِحْتِفَاء** ، پتيدل .

باب هفتم :صرف صغير ثلاثي مزيد فيه ناقص يائي از **انفعال** چون **اَلْاِنْقِضَاء** ، غوښتل د وخت .

باب هشتم :صرف صغير ثلاثي مزيد فيه ناقص يائي از **استفعال** چون **اَلْاِسْتِغْنَاءُ** ، بې نيازه كيدل .

Maktaba Tul Ishaat.com

مصادر ابواب لفيف مفروق و مقرون :

باب اول :صرف صغير ثلاثي مجرد لفيف مفروق از **فَعَلَ يَفْعِلُ** چون **اَلْوَقْيُ وَالْوِقَايَةُ** ، ساتل .

باب دوم :صرف صغير ثلاثي مجرد لفيف مفروق از **فَعِلَ يَفْعَلُ** چون **اَلوحي**.

باب سوم :صرف صغير ثلاثي مجرد لفيف مفروق از **فَعِلَ يَفْعِلُ** چون **اَلْوَلِيُ** ، د بل چا کار په خپله کول ، او نژدې کيدل .

او د باقي بابونو نه ، نه دی راغلي .

باب اول :صرف صغير ثلاثي مزيد فيه لفيف مفروق از **افعال** چون **اَلْاِيْصَاءُ** ، وصيت کول .

باب دوم :صرف صغير ثلاثي مزيد فيه لفيف مفروق از **تفعيل** چون **اَلتَّوْقِيَةُ** ، پوره کول .

باب سوم :صرف صغير ثلاثي مزيد فيه لفيف مفروق از **مفاعلة** چون **اَلْمُوَالَاةُ** ، د يو بل سره دوستي کول .

باب چهارم :صرف صغير ثلاثي مزيد فيه لفيف مفروق از **تفعُّل** چون **اَلتَّوَقِّي** ، پرهيز کول .

باب پنجم :صرف صغير ثلاثي مزيد فيه لفيف مفروق از **تفاعل** چون **اَلتَّوَالِي** ، پرلپسې کيدل .

باب ششم :صرف صغير ثلاثي مزيد فيه لفيف مفروق از **افتعال** چون **اَلْاِتِّقَاء** ، پرهيز کول .

باب هفتم :صرف صغير ثلاثي مزيد فيه لفيف مفروق از **استفعال** چون **اَلْاِسْتِيْفَاء**.

باب اول :صرف صغير ثلاثي مجرد لفيف مقرون از **فَعَلَ يَفْعِلُ** چون **اَلطَّيُّ** .

باب دوم :صرف صغير ثلاثي مجرد لفيف مقرون از **فَعَلَ يَفْعَلُ** چون **اَلْقُوَّةُ** ، قوي کيدل .

باب اول :صرف صغير ثلاثي مزيد فيه لفيف مقرون از **افعال** چون **اَلْاِحْيَاء** ، ژوندي کول .

باب دوم :صرف صغير ثلاثي مزيد فيه لفيف مقرون از **تفعيل** چون **اَلتَّسْوِيَةُ** برابري کول .

باب سوم :صرف صغير ثلاثي مزيد فيه لفيف مقرون از **مفاعلة** چون **اَلْمُدَاوَاة** ، دوا کول .

باب چهارم :صرف صغير ثلاثي مزيد فيه لفيف مقرون از **تفعُّل** چون **اَلتَّقَوِّىٰ** ، قوي کيدل .

باب پنجم :صرف صغير ثلاثي مزيد فيه لفيف مقرون از **تفاعل** چون **اَلتَّسَاوِي** ، برابريدل .

باب ششم :صرف صغير ثلاثي مزيد فيه لفيف مقرون از **افتعال** چون **اَلْاِسْتِوَاءُ** ، برابريدل .

باب هفتم :صرف صغير ثلاثي مزيد فيه لفيف مقرون از **انفعال** چون **اَلْاِنْزِوَاءُ** ، يواځې کيدل .

باب هشتم :صرف صغير ثلاثي مزيد فيه لفيف مقرون از **استفعال** چون **اَلْاِسْتِحْيَاء** حياء کول .

ختم شو قوانين د ناقص

شروع شو قوانين د مهموز :

دراس ، بؤس ، بئر قانون	(۱) حکم	(۱) شرط

قانون : هرهمزه ساکن مظهر که ماقبلش متحرك باشد آن همزه ساکن را موافق حرکت ماقبل بحرف علت بدل کنند جواز آبشرطیکه باعث تحریکش موجود نباشد .

ترجمه : هر هغه همزه ساکن مظهر چې ماقبل يې متحرک وي د غه ساکنه همزه به موافق د حرکت د ماقبل په حرف علت سره بدلولې شي جوازاً خو په دې شرط چې هغه سبب او باعث د متحرک کیدو موجود نه وي .

نوم : ددې قانون نوم دی د رَاسٌ ، بُؤسٌ ، بِئْرٌ والا قانون چې ددې د پاره یو حکم او یو شرط دی :

حکم : که چیرته همزه ساکن مظهر چې د هغې ماقبل متحرک وي نو د غه همزه د ماقبل حرکت موافق په حرف علت سره بدلول جائز دی .

شرط : چې د همزې د متحرک کیدو سبب موجود نه وي .

احترازي مثال : يَأْمُرُ چې په اصل کې يَأْمُمُ وو .

اتفاقي مثال : رأس لره راس ، بؤس لره بوس ، بئر لره بیر ویل جائز دی .

د آمَنَ أُوْمِنَ إِيْمَانًا قانون	(۱) حکم	(۱) شرط

قانون : هرهمزه ساکن مظهر که ماقبلش دیگرهمزه متحرك باشد ، از آن کلمه آن همزه ساکن را بوفق حرکت ماقبل بحرف علت بدل کنند وجوباً بشرطیکه باعث تحریکش موجود نباشد مگرکُلْ ، مُرْ ، خُذْ شاذ اند .

ترجمه : هر هغه همزه ساکن مظهر چې ماقبل يې بله همزه متحرکه وي او په يوه کلمه کې وي نو دا همزه ساکنه به موافق د ماقبل د حرکت په حرف علت سره بدلولې شي وجوباً خو په دې شرط چې باعث د متحرک کیدو ددې موجود نه وي مگر کُلْ ، مُرْ ، او خُذْ شاذ دی .

نوم : ددې قانون نوم دی آمَنَ أُوْمِنَ إِيْمَانًا والا قانون ، چې ددې د پاره یو حکم او یو شرط دی .

حکم : هغه همزه ساکن مظهر چې د هغې ماقبل دویمه همزه متحرکه په یوه کلمه کې راغلي وي نو د هغه همزه د ماقبل حرکت موافق په حرف علت سره بدلول واجب دی .

شرط : چې د همزې متحرک کیدو سبب به نه وي .

احترازي مثال : أَءْمُرُ چې په اصل کې أَأْمُرُ وو .

اتفاقي مثال : أَءْمَنَ لره آمَنَ ، أُءْمِنَ اله أُوْمِنَ ، إِءْمَانًا لره إِيْمَانًا ویل واجب دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال : كُلْ ، مُرْ ، خُذْ په اصل کې اءكل ، اءخذ ، اءمر وو او دا ذکر کړې شوې قانون په کې ولې نه جاري کیږي او دواړه همزې په شروع کې ولې حذف کړې دی ؟ **جواب** : دا شاذ دی ، د تخفیف حاصلولو د عرض د وجې نه یې په شروع کې دواړه همزې حذف کړې دی .

قلب مکاني : د قلب مکاني مطلب دادی چې د فاء کلمه د عین کلمې په ځای او د عین کلمه د فاء کلمې یاد لام کلمې په ځای استعمالول . خلاصه یې داده چې یو حرف د بل حرف په ځای باندې اینبودلو ته قلب مکاني وایي ، اوس په دې کې هم قلب مکاني شوې دی ځکه چې دا په اصل کې اءكل ، اءمر ، اءخذ وو ، اوس مو فاء کلمه د عین کلمې په ځای او عین کلمه مو د فاء کلمې په ځای کیښودله نو أَكْلُ ، أُمُرُ ، أُخُذُ شو اوس د یسئل والا قانون (چې مخکې را روان دی) هغه مو په کې جاري کړو د همزې حرکت مو نقل کړو او ماقبل ته مو ورکړو او همزه مو حذف کړه نو أُكُلُ ، أُمُرُ ، أُخُذُ شو بیا همزه وصلي مابعد د متحرک کیدو د وجې نه ساقط کړه نو كُلْ ، مُرْ ، خُذْ شو دا شاذ نه دی .

فائده : كُلْ ، مُرْ ، خُذْ په اصل کې اءكل ، اءمر ، اءخذ وو ، په دې درې واړو کې دویمه همزه د کثرت استعمال د وجې نه خلاف قیاس حذې کړې شوه پاتې شوه اولنې همزه د دویمې همزې حذف کیدو نه پس د دې ضرورت پاتې نه شو لهذا هغه مو هم وغورځوله لیکن په حالت د مینځ د کلام کې په لفظ مر کې دوهمه همزه باقي پریښودل فصیح دی مثلاً دا قول د الله تعالیٰ : وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّلَاةِ ، او په حالت د ابتداء د کلام کې په لفظ مر کې د دواړو همزو حذف کول فصیح دی لکه دا قول د نبي علیه الصلاة و السلام : مُرُوْا صِبْيَانَكُمْ بِالصَّلَاةِ .

موزون	اصل	وزن	قانون
يَقْرَءُوْنَ	يَقْرَءُ . أُذِرَ		مهد
مِيْخَذُ	مِأْخَذٌ	مِفْعَلٌ	ياخذ
اَلَّذِيْ تُمِرْنَ	أُءْتُمِرْنَ	أُفْتُعِلْنَ	آمن . ياخذ
يُؤْخَذُوْنَ	يَأْخُذُوْنَ	يُفْعَلُوْنَ	ياخذ
آمَنْتُ	اَءْمَنْتُ	اَفْعَلْتُ	آمن
سَالَ	سَئِلَ	فَعِلَ	ياخذ . قال
يَقُوْلُوْ ذَنِّ	يَقْوُلُ . اِءْذَنْ	اِفْعَلْ	ياخذ . ادغام
بِئْرَ ٢ عدد	بَئِرَ	فَعِلَ	ياخذ
أَذَوْا	اَءْذَيُوْا	اَفْعَلُوْا	آمن . قال . التقاء
مُؤْتَمِرِيْنَ	مُئْتَمِرِيْنَ	مُفْتَعِلِيْنَ	ياخذ

د مِیَرٌ مُوَدَّبٌ قانون (۱) حکم

قانون : هرهمزه مفتوحه که ماقبلش مضموم یا مکسور باشد همزه مفتوحه را بموفق حرکت ماقبل بحرف علت بدل کنند جوازاً .

ترجمه : هر هغه همزه مفتوحه چې ماقبل یې مضموم یا مکسور وي همزه مفتوحه به موافق د حرکت د ماقبل به په حرف علت سره بدلولې شي جوازاً .

نوم : ددې قانون نوم دی مِیَرٌ ، مُوَدَّبٌ والا قانون چې ددې د پاره یو حکم دی .

حکم : هغه همزه مفتوحه چې دهغې ماقبل مضموم یا مکسور وي نو دهغه همزه د ماقبل حرکت موافق په حرف علت سره بدلول جائز دی . **اتفاقي مثال د یوې کلمې** : مِئَرٌ لره مِیَرٌ ، مُؤَدَّبٌ لره مُوَدَّبٌ ویل جائز دی .

فائده : که چیرته د همزې ماقبل هم همزه وي لیکن په دویمه کلمه کې وي نو په هغې باندې به هم دا قانون جاري کیږي .

اتفاقي مثال د دوو کلمو : یَجِیْءُ ، اَحْمَدَ لره یَجِیْئُ وَحْمَدَ ، قَارِئٌ اَحْمَدَ لره قَارِیٌ یَحْمَدَ ، غُلَامُ اَحْمَدَ لره غُلَامُ وَحْمَدَ ، غُلَامُ اَحْمَدَ لره غُلَامُ یَحْمَدَ ویل جائز دی .

د جَاءٍ اَوَادِمُ اُوَیْدِمُ قانون (۲) حکم

قانون : هردو همزه متحرك که جمع شوند در یك کلمه اگریکی از ایشان مکسور باشد ثانی را بیاء بدل کنند وجوباً سوائے اِئِمَّةٌ که درین جا جائز است و اگر هیچ یکی مکسور نباشد ، ثانی را بواو بدل کنند وجوباً مگر اُکْرِمَ شاذ است .

ترجمه : هر هغه دوه همزې متحرکه چې جمع شي په یوه کلمه کې که چیرته یو ددې نه مکسور وي دوهم به په یاء سره بدلولې شي وجوباً په غیر د اِئِمَّةٌ نه چې دلته جائز دی او که چیرته یو ددې همزې نه مکسور نه وي نو دوهمه همزه به په واو سره بدلولې شي وجوباً مګر په اُکْرِمَ کې شاذ دی .

نوم : ددې قانون نوم دی جَاءٍ اَوَادِمُ اُوَیْدِمُ والا قانون ، چې ددې د پاره دوه حکمه دی .

(۱) حکم : که چیرته دوه همزې متحرکې په یوه کلمه کې جمع وي چې د هغې نه یوه مکسوره وي نو دویمه همزه په یاء سره بدلول واجب دی . **اتفاقي مثال** : جَاءٍ ددې قانون سره مو دویمه همزه په یاء سره بدله کړه نو جَایِٔ شو بیا د یَذْهَبُ یَزِنُ قانون سره د یاء حرکت حذف کړو نو جَائِیْ شو بیا التقاء ساکنین شو اولنې مده وو هغه مو حذف کړه نو جَاءِ شو .

Maktaba Tul Ishaat.com

(۲) حکم : که دوه همزې متحرک په یو کلمه کې جمع وي چې د هغې نه یو مذکور هم نه وي نو دویمه همزه په واو سره بدلول واجب دی . **اتفاقي مثال** : آاِدِمُ لره أَوَادِمُ أَءِيدِمُ لره أُوَيدِمُ ویل واجب دی .

فائده : أَئِمة په اصل کې أَئِمَمَةٌ وو د اول میم حرکت مو نقل کړو ما قبل ته مو ورکړ او میم مو په میم کې مدغم کړو نو أَئِمةٌ شو . په اول حکم سره ، په ائمة کې ټول شرائطو د موجودتیا باوجود د قانون حکم په کې جاري نه کړې شو . ددې دوه وجهې دی : (۱) قرآن مجید کې چې کوم ځای هم دا همزه ده نو هغه مذکوره ده ، (۲) د همزه ثاني حرکت عارضي دی ائمة کې د وجې د تخفیف نه کلمه د ادغام لره مو په اعلال مقدم کړه .

فائده : په دویم حکم سره أُءَكِّرِمُ کې ټولو شرائطو لره د موجودیدو نه باوجود حکم قانون جاري نه کړې شو ددې دوه وجهې دی : (۱) همزه ثاني لره خلاف قیاس حذف کړې شوه د وجې د کثرت استعمال نه ، نو همزه یوه پاتې شوه او په دې قانون کې دوه همزو لره کیدل شرط دی ، (۲) دوهمه همزه په واو سره بدلول واجب دی کوم ځای کې چې دوهمه همزه اصلي وي او دلته دوارې همزې زائد دی .

فائده : دلته صرف د یاء تصغیر نفي ده او که د همزه ماقبل یاء وي لیکن د تصغیر نه وي نو قانون به جاري کیږي لکه هیئ نه هیئ .

فائده : رَایٌ یَرْیٌ او ټول افعالو د رویت کې دا قانون وجوبا جاري کیږي او په اسماء مشتقه کې جوازاً .

فائده : که د همزې ماقبل کې واو یاء مده اصلي وي نو هم به قانون جاري کیږي لکه سُوْءٌ ، سُوْءِ سِيِّئَتْ لره سِيَئْ ویل جائز دی .

موزون	اصل	وزن	قانون
جُوَنٌ	جُنُنٌ	فُعَلٌ	مو
يَعْلَمُ وَخُوْكَ	يَعْلَمُ . أَخُوْكَ		//
زَاءٍ	زَاءِءٌ		اوادم . يدعو . التقاء
أَوَادِبُ	أَيَادِبُ	أَفَاعِلُ	اوادم
مَنْ عَالِمٍ يَخِيْكَ	عَالِمٍ . أَخِيْكَ		مو
رَكَيْتُ وَحْسَنْ	رَكَيْتُ . أَحْسَنْ		//
فَزِيَارْ	زِءَارْ	فِعَالٌ	//
وَزْوَنْ	زُنَنٌ	فُعَلٌ	//
//	بر اصل	دَحْرَجَ	

دیَسَلُ ، قَدَ فْلَحَ قانون (۱) حکم (۲) شرائط

قانون : هر همزه متحرك كه ماقبل ساكن مظهر قابل حركت باشد دريك كلمه سوائے ياء تصغير و نون انفعال و واو و يائے مده زائده حركت آن همزه را نقل كرده بماقبل داده جوازاً همزه را حذف كنند وجوباً ، مگر مِرْآةٌ شاذ است .

ترجمه : هر هغه همزه متحركه چې ماقبل ساكن مظهر قابل د حركت وي او په يوه كلمه كې وي په غير د ياء تصغير او نون انفعال او واو او ياء مده زائده نه نو حركت ددې همزې به نقل كولې شي او ماقبل ته به ورکولې شي جوازاً همزه به حذف كولې شي وجوباً ، مگر په مِرْآةٌ كې شاذ دی .

نوم : ددې قانون نوم دی يَسَلُ ، قَدَ فْلَحَ والا قانون ، چې ددې د پاره يو حكم او دري شرائط دی .

حكم : كه همزه متحركه ماقبل ساكن مظهر قابل د حركت وي نو د همزې حركت نقل كول او ماقبل ته ورکول جائز او همزه حذف كول واجب دی .

(۱) شرط : چې همزه به د ياء تصغير نه پس نه وي . **احترازي مثال** : اُفَيْئِشُ .

(۲) شرط : چې همزه به د نون انفعال نه پس نه وي . **احترازي مثال** : اِنْطَرَ .

(۳) شرط : چې واو او ياء مده د همزې نه مخكې به په يو كلمه كې نه وي .

احترازي مثال : مَقْرُوئَةٌ ، خَطِيَّةٌ .

اتفاقي مثال : يَسْئَلُ ، قَدْ اَفْلَحَ ، همزه متحرك ماقبل ساكن قابل حركت وو نو د! قانون مو په كې جاري كړو د همزې حركت مو نقل كړو او ماقبل ته مو ورکړو او همزه مو حذف كړه نو يَسَلُ قَدَ فْلَحَ شو .

فائده : كه واو او ياء مده زائده او همزه په جدا جدا كلمه كې وي نو هلته به قانون جاري كيږي لكه باعوا اموالهم لره باعوموالهم ، قد افلح لره قدفلح ويل جائز دی .

فائده : د همزه قطعي والا قانون تقاضا داده چې قد افلح والا همزه دې باقي پاتې شي او ددې قانون تقاضا ده چې حذف دې شي دلته په دواړو قوانينو كې تضاد معلوميږي حالانكه تضاد نشته دی ځكه چې د همزه قطعي په قانون كې همزه باقي ساتل شرط دی بغير د نقل كولو د حركت نه او په دې قانون كې د همزې حركت نقل كول او ماقبل ته ورکول او بيا همزه حذف كول واجب دی تضاد به هلته وي چې كلمه واحد وي ، همزه قطعي كې د همزې باقي ساتلو جهت جدا دی او دلته د همزې حذف كولو جهت جدا دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

دا أُفَيْسٌ مَقْرُوَةٌ خَطِيَّةٌ قانون (۱) حکم (۱) شرط

قانون : هرهمزه که واقع شود بعد از یاء تصغیر و واو ، یاء مده زائده در یک کلمه آن همزه را جنس ماقبل کرده جوازاً ادغام می کنند وجوباً .

ترجمه : هر هغه همزه چې واقع شي پس د یاء تصغیر او د واو ، او د یاء مده زائده نه په یوه کلمه کې نو دغه همزه به د ماقبل کلمې د جنس نه کړ ځولې شي جوازا او یو په بل کې به ادغام کولې شي وجوباً .

نوم : ددې قانون نوم دی أُفَيْسٌ مَقْرُوَةٌ خَطِيَّةٌ والا قانون ، چې ددې د پاره یو حکم او یو شرط دی .

حکم : چې همزه د مقابل جنس څخه ګرځول جائز او ادغام کول واجب دی .

اتفاقي مثال : أُفَيْئِسٌ لره أُفَيْئِسٌ ، مَقْرُوْئَةٌ لره مَقْرُوْوَةٌ ، خَطِيْئَةٌ لره خَطِيْئَةٌ ویل جائز دی بیا مو ادغام وکړو نو أُفَيْسٌ ، مَقْرُوَةٌ ، خَطِيَّةٌ ویل واجب دی .

شرط : چې همزه به د یاء تصغیر نه پس وي یا همزه به د واو او د یاء مده نه پس په یو کلمه کې وي .

موزون	اصل	وزن	قانون
مُسِلٌ	مُسْئِلٌ	مُفْعِلٌ	یسل
//	//	//	//
مَجْرُوَاتٌ	مَجْرُوْوَاتٌ	مَفْعُوْلَاتٌ	مقروة
يَسِمُوْنَ ۲ عدد	يَسْئِمُوْنَ	يَفْعِلُوْنَ	یسل
//	يَوْسِمُوْنَ	//	یعد
هَلَضْرِبُ	هَلْ . اَضْرِبُ	اَفْعِلُ	یسل
أُبَدٌ	أُبْئِدٌ	أُفْتَعِلٌ	مقروة
اِسْتِرَاءٌ ۲	اِسْتِرْءَاءٌ	اِسْتِفْعَالٌ	یسل
//	اِسْتِرْيَاءٌ	//	یقال . التقاء
تَسِيْلٌ ۲	تَسْئِيْلٌ	تَفْعِيْلٌ	یسل
//		فعیل	
يَرَوْنَ	يَرْءَيُوْنَ	يَفْعَلُوْنَ	یسل . قال . التقاء
طَرِيَّانِ	طَرِيْئَانِ	فَعِيْلَانِ	مقروة
بَلْ ۳	اِبْتَلْ	اِفْعِلْ	یسل . همزه
//	اِوْبَلْ	//	یعد . //

//	اِبْيَلْ	//	يقال. التقاء. همزه
//	بَلْ. اِوْءَىْ	اِفْعَلْ	يسل. يعد. لم يدع. همزه
لَمِتَسَائَلْ	لَمْ اَتَسَائَلْ	لَمْ اَتَفَاعَلْ	تعلم. يسل

دقِرَءُيٌ قانون (۱) حكم

قانون : هردو همزه که جمع شوند در کلمه غیر موضوع علی التضعیف اول ساکن ثانی متحرك باشد آن را بیا بدل کنند وجوباً .

ترجمه : هر هغه دوه همزې چې جمع شي په کلمه د غیر موضوع علی التضعیف کې اول ساکن دویم متحرک وي دغه نو همزه به په یاء سره بدلولې شي وجوباً .

نوم : ددې قانون نوم دی قِرَءُيٌ والا قانون ، چې ددې د پاره یو حکم دی .

حکم : که دوه همزې جمع شوې وي په غیر موضوع علی التضعیف کې چې په هغې کې اولنې ساکن او دویم متحرک وي نو دویمه همزه په یاء سره بدلول واجب دی .

اتفاقي مثال : قِرَءُءٌ لره قِرَءُيٌ ویل واجب دی .

دسَالَ قانون (۱) حكم

قانون : هرهمزه متحرکه منفرده را که ماقبلش نیز متحرك باشد بآن حرکت همزه را بوفق حرکت ماقبل بحرف علت بدل کنند جوازاً .

ترجمه : هر هغه همزه متحرکه منفرده چې ماقبل یې متحرک وي نو دا حرکت د همزې به موافق د حرکت د ماقبل په حرف علت سره بدلولې شي جوازاً .

نوم : ددې قانون نوم دی سَالَ والا قانون ، چې ددې د پاره یو حکم دی .

حکم : هر هغه همزه متحرکه منفرده چې د هغې ماقبل متحرک وي او د ماقبل او همزې حرکت یو وي نو همزې لره د ماقبل حرکت موافق په حرف علت سره بدلول جائز دی .

اتفاقي مثال : سَئَلَ لره سَالَ ، مُسْتَهْزِئِيْنَ لره مُسْتَهْزِيْنَ ویل جائز دی .

دسُوِلَ ، مُسْتَهْزِيُوْنَ قانون (۲) حكم

قانون : هرهمزه منفرده مکسور که ماقبلش مضموم باشد و مضموم بعد از کسره واو ، ویاء بدل کرده شود جوازاً .

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : هر هغه همزه منفرده مکسوره چې ماقبل يې مضموم وي او دا مضموم به پس د کسرې نه په واو او ياء سره بدلولې شي جوازاً .

نوم : ددې قانون نوم دی سُوِلَ ، مُسْتَهْزِئُوْنَ والا قانون ، چې ددې د پاره دوه حکمه دی .

(۱) حکم : که همزه منفرده مکسور ماقبل يې مضموم وي نو همزه په واو سره بدلول جائز دی .

اتفاقي مثال : سُئِلَ لره سُوِلَ .

(۲) حکم : که همزه منفرده مضموم او ماقبل يې مکسور وي نو همزه په ياء سره بدلول جائز دی .

اتفاقي مثال : مُسْتَهْزِءُوْنَ لره مُسْتَهْزِيُوْنَ ويل جائز دی .

د آلْئٰنَ ، آلْحَسَنَ قانون (۱) حکم

قانون : هرهمزه وصلی مفتوح که داخل شود بران همزه استفهام بالف بدل کرده شود وجوباً بسبب باقی داشتن التقاء ساکنین .

ترجمه : هر هغه همزه وصلي مفتوحه چې په هغې همزه استفهام داخل وي نو دا (همزه وصلي) به په الف سره بدلولې شي وجوباً سره د باقي ساتلو د التقاء ساکنينو .

نوم : ددې قانون نوم دی آلْئٰنَ ، آلْحَسَنَ والا قانون ، چې ددې د پاره يو حکم دی .

حکم : هر کله چې په همزه وصلي مفتوحه باندې همزه استفهام داخل وي نو همزه وصلي په الف سره بدلول او التقاء ساکنين ثابت ساتل واجب دی آءلآن لره آلآن ، اءالحسن لره آلحسن . بل واجب دی .

د مهموز الفاء ، مهموز العين او مهموز اللام مصادر او ابواب :

باب اول : صرف صغير ثلاثي مجرد مهموز الفاء از باب فَعَلَ يَفْعِلُ چون آلْاِزْرُ ، تراشل .

باب دوم : صرف صغير ثلاثي مجرد مهموز الفاء از باب فَعَلَ يَفْعُلُ چون آلْاَمْرُ ، حکم کول .

باب سوم : صرف صغير ثلاثي مجرد مهموز الفاء از باب فَعِلَ يَفْعَلُ چون آلْاَمْنُ ، بې غمه کيدل .

باب چهارم : صرف صغير ثلاثي مجرد مهموز الفاء از باب فَعَلَ يَفْعَلُ چون آلْاِلٰهِيَّةُ .

باب پنجم : صرف صغير ثلاثي مجرد مهموز الفاء از باب فَعُلَ يَفْعُلُ چون آلْاَدَبُ . او د حسب يحسب نه ، نه دي راغلي .

مهموز الفاء :

باب اول : صرف صغير ثلاثي مزيد فيه مهموز الفاء از افعال چون آلْاِيْمَانُ ، ايمان راورل .

باب دوم : صرف صغير ثلاثي مزيد فيه مهموز الفاء از تفعيل چون آلتَّاْدِيْبُ ، ادب ورکول .

باب سوم : صرف صغير ثلاثي مزيد فيه مهموز الفاء از مفاعلة چون آلْمُؤَاخَذَةُ ، په ګناه کې نيول .

باب چهارم :صرف صغير ثلاثي مزيد فيه مهموز الفاء از **تفعُّل** چون اَلتَّأَدُّبُ ، ادب کول .

باب پنجم :صرف صغير ثلاثي مزيد فيه مهموز الفاء از **تفاعل** چون اَلتَّأَمُّرُ ، مصلحت کول .

باب ششم :صرف صغير ثلاثي مزيد فيه مهموز الفاء از افتعال چون اَلِائْتِمَانُ ، په امن کيدل .

باب هفتم :صرف صغير ثلاثي مزيد فيه مهموز الفاء از انفعال چون اَلِانْفِطَارُ ، په جلتي سره بره راختل .

باب هشتم :صرف صغير ثلاثي مزيد فيه مهموز الفاء از استفعال چون اَلِاسْتِئْجَارُ ، په مزدوري سره نيول .

ختم شو مهموز الفاء او شروع شو مهموز العين :

مهموز العين :

باب اول :صرف صغير ثلاثي مجرد مهموز العين از باب **فَعَلَ يَفْعِلُ** چون اَلزُّوْرُ ، بانګ کردن شير از سينه .

باب دوم :صرف صغير ثلاثي مجرد مهموز العين از باب **فَعِلَ يَفْعَلُ** چون اَلسَّامُ ، ملول شدن .

باب سوم :صرف صغير ثلاثي مجرد مهموز العين از باب **فَعَلَ يَفْعَلُ** چون اَلسُّوَالُ ، پوښتنه کول .

باب چهارم :صرف صغير ثلاثي مجرد مهموز العين از باب **فَعِلَ يَفْعِلُ** چون اَلْبُؤْسُ ، په سختي سره رسيدل

باب پنجم :صرف صغير ثلاثي مجرد مهموز العين از باب **فَعُلَ يَفْعُلُ** چون اَللُّؤْمُ ، ناکس شدن .

او د نصر ينصر باب نه ، نه دی راغلي .

باب اول :صرف صغير ثلاثي مزيد فيه مهموز العين از افعال چون اَلِاسْئَامُ ، بري ساختن .

باب دوم :صرف صغير ثلاثي مزيد فيه مهموز العين از تفعيل چون اَلتَّسْئِيْلُ ، سوال کول .

باب سوم :صرف صغير ثلاثي مزيد فيه مهموز العين از مفاعلة چون اَلْمُسَائَلَةُ ، د يو بل نه پوښتنه کول .

باب چهارم :صرف صغير ثلاثي مزيد فيه مهموز العين از تفعُّل چون اَلتَّرَؤُّسُ ، رئيس کيدل .

باب پنجم :صرف صغير ثلاثي مزيد فيه مهموز العين از تفاعل چون اَلتَّسَائُلُ ، يو بل نه پوښتنه کول .

باب ششم :صرف صغير ثلاثي مزيد فيه مهموز العين از افتعال چون اَلِائْتِئَامُ ، پيوسته کيدل .

باب هفتم :صرف صغير ثلاثي مزيد فيه مهموز العين از انفعال چون اَلِانْطِئَاسُ ، واپس کيدل .

باب هشتم :صرف صغير ثلاثي مزيد فيه مهموز العين از استفعال چون اَلِاسْتِرْءَافُ ، طلب د رحمت کول .

او د باقي بابونو نه ، نه راځي .

مهموز اللام :

باب اول :صرف صغير ثلاثي مجرد مهموز اللام از **فَعَلَ يَفْعِلُ** چون اَلْهِنَاءُ ، ګوريدن کسي را طعام .

باب دوم :صرف صغير ثلاثي مجرد مهموز اللام از **فَعِلَ يَفْعَلُ** چون اَلْمَرَاءُ ، بيزاره کيدل .

باب سوم :صرف صغير ثلاثي مجرد مهموز اللام از **فَعَلَ يَفْعُلُ** چون اَلذَّنَاءَةُ ، فرمايه شدن .

باب چهارم :صرف صغير ثلاثي مجرد مهموز اللام از **فَعَلَ يَفْعَلُ** چون اَلْقِرَاءَةُ وَالْقَرْءُ وَالْقُرْأُنُ . لوستل .

Maktaba Tul Ishaat.com

باب پنجم :صرف صغير ثلاثي مجرد مهموز اللام از **فَعُلَ يَفْعُلُ** چون **اَلْجُرْأَةُ** ، بهادره کيدل .

او د حسب **يحسب** باب نه ، نه دی راغلي .

باب اول :صرف صغير ثلاثي مزيد فيه مهموز اللام از **افعال** چون **اَلْاِبْرَاءُ** ، بري کول .

باب دوم :صرف صغير ثلاثي مزيد فيه مهموز اللام از **تفعيل** چون **اَلتَّبَرِّئَةُ** ، بري کيدل .

باب سوم :صرف صغير ثلاثي مزيد فيه مهموز اللام از **مفاعلة** چون **اَلْمُفَاجَاةُ** ، کسي راناګاه ګرفتن .

باب چهارم :صرف صغير ثلاثي مزيد فيه مهموز اللام از **تفعُّل** چون **اَلتَّبَرُّءُ** ، بري کيدل .

باب پنجم :صرف صغير ثلاثي مزيد فيه مهموز اللام از **تفاعل** چون **اَلتَّوَطُّوءُ** ، موافقت کول .

باب ششم :صرف صغير ثلاثي مزيد فيه مهموز اللام از **افتعال** چون **اَلْاِجْتِرَاءُ** ، بهادره کيدل .

باب هفتم :صرف صغير ثلاثي مزيد فيه مهموز اللام از **انفعال** چون **اَلْاِنْطِفَاءُ** ، فرو مردن چراغ .

باب هشتم :صرف صغير ثلاثي مزيد فيه مهموز اللام از **استفعال** چون **اَلْاِسْتِبْرَاءُ** ، طلب د بيزاري کول .

او د باقي بابونو نه ، نه دي راغلي .

قوانين مضاعف :

متجانسين والا قانون	(۲) حکم	(۱۸) شرائط

هر گاه دو حرف متجانسين اگر جمع شوند در کلمه اول ثلاثی مجرد يا رباعی مجرد يا رباعی مزيد فيه ادغام ممتنع است ، و در اول کلمه ثلاثی مزيد فيه جائز است مطلقاً سوای مضارع چرا که در مضارع وقتی جائز است که حاجت به همزه وصلی نيفتد و اگر هر دو متجانسين در اول کلمه نباشند و اول ساکن ثانی متحرک باشد ادغام واجب است

بوجود پنج شرائط :

ترجمه : هر کله چې دوه حرفه متجانسين که چيرته سره جمع شي په اول د کلمه کې ثلاثي مجرد يا رباعي مجرد يا رباعي مزيد فيه نو ادغام ممتنع دی او په اول د کلمه د ثلاثي مزيد فيه کې جائز دی مطلقاً په غير د مضارع نه ځکه چې په مضارع کې په هغه وخت کې جائز دی چې ضرورت پيښ نه شي همزه وصلي ته او که چيرته هر دواړه متجانسين په اول د کلمه کې نه وي او اول ساکن دوهم متحرک وي ادغام واجب دی په وجود د پنځو شرائطو سره :

اول : اينکه آن متجانسين دو همزه در کلمه غير موضوع علی التضعيف نباشد چنانچه قِرَّءٌ که در اصل قِرْءٌ بود .

اول شرط : دا چې دا متجانسين دوه همزې په کلمه غير موضوع على التضعيف نه وي لکه قِرَءْءٌ چې په اصل کې قِرَءْءٌ وو.

دوم : اينکه اول متجانسين هاء وقف نباشد چنانچه اَغَرَّهْ هَلَال.

دوهم : دا چې اول متجانسين هاء د وقف نه وي لکه اَغَرَّهْ هَلَال.

سوم : مده مبدل بابدال جائز نباشد چنانچه رِئيا که در اصل رِءْيا بود.

دريم : دا چې مده مبدل نه وي په ابدال جائز سره لکه رِئيا چې په اصل کې رِءْيا وو.

چهارم : اينکه اول متجانسين مده در آخر کلمه نباشد چنانچه فی يَوْم.

څلورم : دا چې اول متجانسين مده په آخر د کلمه کې نه وي لکه فِي يَوْم.

پنجم : اينکه ادغام باعث التباس يك وزن قياسی بديگر وزن قياسی نباشد چنانچه تُقُوِّلَ و تُقُوِّلَ که ملتبس می شود بِقُوِّلَ وَ تُقُوِّلَ.

پنځم : دا چې ادغام باعث د التباس د يو قياسي وزن د بل قياسي وزن سره نه وي لکه تُقُوِّلَ او تُقُوِّلَ چې دا ملتبس کيږي د بِقُوِّلَ وَ تُقُوِّلَ سره.

اگر آن متجانسين هر دو متحرك باشد ادغام واجب است بوجود نو شرائط :

که چيرته دغه متجانسين هر دواړه متحرک وي نو ادغام واجب دي په وجود د نهه شرائطو سره.

اول : اينکه اول متجانسين در مدغم فيه نباشد چون حَبَّبَ.

اول : دا چې اول متجانسين به په مدغم فيه کې نه وي لکه حَبَّبَ.

دوم : اينکه کسی از متجانسين زائده برای الحاق نباشد چون حَبْبَبَ و شَمْلَلَ.

دوهم : دا چې يو د متجانسينو نه به زائد د پاره د الحاق نه وي لکه حَبْبَبَ و هَمْلَلَ.

سوم : اينکه اول متجانسين تاء افتعال نباشد چون اِقْتَتَلَ.

دريم : دا چې اول د متجانسين تاء د افتعال نه وي لکه اِقْتَتَلَ.

چهارم : اينکه آن متجانسين دو واو در باب افعلال نباشد چون اِزْوَوَی که اصل اِزْوَوَ بود.

څلورم : دا چې دا متجانسين دوه واوه په باب د افعلال کې نه وي لکه اِزْوَوَی چې په اصل کې اِزْوَوَ وو.

Maktaba Tul Ishaat.com

پنجم : اینکه که از متجانسین مقتضی اعلال نباشد چون قَوِیَ که در اصل قَوِوَ بود .

پنځم : دا چې د متجانسینو نه مقتضی د اعلال نه وي لکه قَوِیَ چې په اصل کې قَوِوَ وو .

ششم : اینکه حرکت ثانی عارض نباشد چون اُرْدُدِ الْقَوْم .

شپږم : دا چې دوهم حرکت عارضي نه وي لکه اُرْدُدِ الْقَوْم .

هفتم : اینکه آن متجانسین در دو کلمه نباشد چون مَکَّنَنِیْ ، و اگر در دو کلمه باشند پس اگر ماقبل متحرك یا لین غیر مدغم باشد ادغام جائز ورنه ممتنع .

اوم : دا چې دا متجانسین په دوه کلمو کې نه وي لکه مَکَّنَنِیْ ، او که چیرته په دوه کلمو کې وي نو که چیرته ماقبل یې متحرک یا لین غیر مدغم وي ادغام جائز دی ورنه ممتنع دی .

هشتم : اینکه آن متجانسین دو یاء نباشد چون حَیَیَ و رُمْیَیَانِ .

اتم : دا چې دا متجانسین دوه یاءګانې نه وي لکه حَیَیَ و رُمْیَیَانِ .

نهم : اینکه آن متجانسین در اسم بریکی ازین با پنج اوزان نباشد چون فَعَلٌ ، فِعِلٌ ، فُعُلٌ فِعَلٌ ، فَعَلٌ چون سَبَبٌ ، رِدِدٌ ، سُرُرٌ ، عِلَلٌ ، دُرَرٌ سوای مصدر حرف مدغمش او را بیاء مبدل کنند وجوباً چون دِیْنَارٌ ، شِیْرَازٌ که در اصل دِنَّارٌ ، شِرَّازٌ بود .

نهم : دا چې دا متجانسین په اسم کې یو ددې پنځو اوزانو نه ، نه وي لکه فَعَلٌ ، فِعِلٌ ، فُعُلٌ ، فِعَلٌ ، فَعَلٌ لکه سَبَبٌ ، رِدِدٌ ، سُرُرٌ ، عِلَلٌ ، دُرَرٌ ، په غیر د مصدر نه ، حرف مدغم ددې به په یاء سره بدلولې شي وجوباً لکه دِیْنَارٌ ، شِیْرَازٌ چې په اصل کې دِنَّارٌ ، شِرَّازٌ وو .

نوم : ددې قانون نوم دی د متجانسین والا قانون ، چې ددې د پاره دوه حکمه دی د اولنې حکم د پاره دوه شرطونه دی او که چیرې په مضارع کې وي نو بیا دري شرطونه دی او د دویم حکم د پاره د شرطونو دوه جماعته دي : د اولنې جماعت د پاره اوه (۷) شرائط دی او د دویم جماعت د پاره یولس (۱۱) شرائط دی ، اولنې حکم جوازي دی او د دویم حکم وجوبي دی .

(۱) حکم : چې په متجانسین کې ادغام کول جائز دی .

(۱) شرط : چې دواړه متجانسین به په اول کلمه کې جمع وي . **احترازي مثال** : مَدَدَیَنْدُدُ .

(۲) شرط : چې د ثلاثي مجرد او د رباعي مجرد په اول کې به نه وي .

احترازي مثال : دَدَنَ ، مَدْرَبَ . **اتفاقي مثال** : تَکَرَّکَ ، تَتَارَکَ لره اِتَّرَّکَ اِتَّارَکَ ویل جائز دی .

د مضارع د پاره دوه شرطونه هم هغه دی .

(۳) **شرط** : که چیري متجانسین په فعل مضارع کې وي نو د همزه وصلي راوړلو ضرورت دې نه وي .

احترازي مثال : تَتَصَرَّفُ ، تَتَضَارَبُ .

(۴) **حکم** : چې د متجانسین ادغام کول واجب وي .

د اول جماعت د پاره شرطونه :

(۱) **شرط** : چې دواړه متجانسین دې باید د کلمې په شروع کې نه وي . **احترازي مثال** : تَتَرَكَ ، تَتَارَكَ

(۲) **شرط** : چې متجانسین کې دې باید اولني ساکن او دویم متحرک وي . **احترازي مثال** : اِمْتَدِدْ .

(۳) **شرط** : چې د متجانسین دوه همزې په کلمه غیر موضوع علی التضعیف کې به نه وي . **احترازي مثال** : قِرَءُ .

(۴) **شرط** : چې په متجانسینو کې یو یاء هم د وقف په حالت کې نه وي . **احترازي مثال** : اَغَزَّهُ هِلَالٌ

(۵) **شرط** : چې دوو متجانسینو نه اول مده مبدل بابدال جوازي نه وي . **احترازي مثال** : رِئْيَا چې په اصل کې رِئْيَاً و ، په قانون ذ رَاسٌ سره مو همزه په یاء سره بدله کړه .

(۶) **شرط** : چې د متجانسینو نه اول مده د کلمې په آخر کې نه وي . **احترازي مثال** : فِيْ يَوْمٍ ، قَالُوْا مَالَنَا .

(۷) **شرط** : چې په ادغام کولو سره د یو وزن قیاسي د دویم وزن قیاسي سره باید التباس را نه شي .

احترازي مثال : قُوْلَ ، تُقُوْلَ ، که په باب مفاعله او تفاعل کې که ادغام وکړي نو التباس به راشي د باب تفعیل او د تفعل سره ځکه چې بیا به قُوِّلَ تُقُوِّلَ جوړیږي .

اتفاقي مثال : اِضْرِبْ بِعَصَاكَ الْحَجَرَ نه اِضْرِبْ بِعَصَاكَ الْحَجَرَ مِنْ نَانه مِنَّا عَنْ نَانه عَنَّا ویل واجب دی

د دویم جماعت شرطونه :

(۱) **شرط** : چې متجانسین د کلمې په شروع کې به نه وي . **احترازي مثال** : تَتَرَكَ ، تتارک .

(۲) **شرط** : چې دواړه متجانسین متحرک وي . **احترازي مثال** : اِمْتَدِدْ .

(۳) **شرط** : چې متجانسینو نه اول مدغم فیه نه وي . **احترازي مثال** : حَبَّبَ .

(۴) **شرط** : چې د متجانسینو نه یو زائد هم د الحاق د پاره نه وي . **احترازي مثال** : جَلْبَبَ هَمْلَكَ .

(۵) **شرط** : چې د متجانسینو نه اول تاء افتعال نه وي . **احترازي مثال** : اِقْتَتَلَ .

(۶) **شرط** : چې د متجانسینو نه دوه واوه د باب افعلال نه ، نه وي .

احترازي مثال : اِرْعَوَّ په اصل کې اِرْعَوَوَ و .

(۷) **شرط** : چې د متجانسینو نه په یو هم د متقضي اعلال نه وي . **احترازي مثال** : قَوِيَ ، طَوِوَ .

(۸) **شرط** : چې د متجانسینو نه د دویم حرکت عارضي نه وي . **احترازي مثال** : اُرْدُدِ الْقَوْمُ .

Maktaba Tul Ishaat.com

(۹) شرط : چې متجانسین به په یوه کلمه کې وي . **احترازي مثال** : مَكِنِيْ .

(۱۰) شرط : چې متجانسین دوه یاء ګانې نه وي . **احترازي مثال** : حَيَيَ .

(۱۱) شرط : چې د متجانسین په اسم کې د دې پنځه اوزانو نه ، نه وي .

احترازي مثال : سَبَبٌ، رِدَدٌ، سُرَرٌ، عِلَلٌ، دُرَرٌ . **اتفاقي مثال** : مَدَدَنه مَدَّ ، فَرَرَنه فَرَّ ویل واجب دی .

فائده : اجتماع متجانسین اول کلمه ماضي کې عام وي په صورت د ادغام کې د همزه وصلي ضرورت وي یانه وي مثلاً : اِتَّارَكَ اِتَّرَكَ یا فَتَتَارَكَ، فَتَتَرَّكَ لره فَتَّارَكَ فَتَّرَّكَ ویل جائز دی، باقي د مضارع دپاره شرط دادی چې تاء مضارعت نه مخکې حرف متحرک وي یا مده زائده مثلاً فَتَّنَزَّلُ لره فَتَّنَزَّلُ قَالُوا اتَّنَزَّلُ لره قَالُوا اتَّنَزَّلُ .

فائده : چې په کوم ځای کې تکرار د حرف الحاق د پاره وي نو هلته ادغام کول هم جائز نه دی مثلاً شملل کې دویم لام د دحرج په هم وزن کولو په خاطر راوړې شوې دی نو دې ته الحاق وایي .
په ثلاثي کې د یو حرف اضافه کول او د رباعي وزن جوړول او په رباعي کې یو حرف اضافه کول او د خماسي په وزن جوړول نو چې کومه معامله د ملحق سره وکړې شي هغه به د ملحق به سره هم کولې شي .

فائده : اِرْعَوْيٰ په اصل کې اِرْعَوَوَ وو د تولو شرائطو موجودیدو باوجود ادغام نه دې کړې شوې چې کوم ځای د ادغام او اعلال تعارض وي هلته اعلال مقدم کولې شي ځکه چې په اعلال کې خفت زیات دی نو ارعوی کې هم د زیات خفت د تعلیل د وجې نه مو قال قانون جاري کړو او اعلال مو مقدم کړو .

فائده : حرکت عارضي نه وي ځکه چې حرکت عارضي د سکون په حکم کې وي دا شرط صرف د اهل حجاز په نزد باندې دی ، بنو تمیم والا ادغام کوي وجوباً .

فائده : د ادغام جواز د پاره دوه صورتونه دی : (۱) متجانسین به په دوو کلمو کې وي او اولني به متحرک وي مثلاً ضَرَبَ بَشَرَ لره ضَرَبْ بَشَرَ لَاتَأْمَنَّا لره لَاتَأْمَنَّا ویل جائز دی ، که چیرې ادغام کې اولني متحرک نه وي نو ادغام ممتنع دی مثلاً قَوْمُ مَالِكٍ یا متجانسین دوه همزې په یو کلمه کې وي نو بیا هم ادغام ممتنع دی مثلاً قَرَءَ أَبُوْكَ . (۲) متجانسین به په دوو کلمو کې وي او اولني حرف لین غیر مدغم وي نو په دې صورت کې هم ادغام جائز دی ثَوْبَ بَشَرَ لره ثَوْبْ بَشَرَ ویل جائز دی .

فائده : د مصدر نه په غیر چې کوم اسم د فعال په وزن وي نو هلته به حرف مدغم په حرف علت سره وجوباً بدلولې شي مثلاً دینار ، هیزار دا په اصل کې دنّار ، هیدراز وو .

د مضاعف د قوانینو خلاصه :

(الف) دوه متجانسینو حروفو کې اولني ساکن وي نو په دویم کې به مدغم کیږي برابره خبره ده چې دواړه په یوه کلمه کې وي لکه مدّ وهدّ ، او که په دوه کلمو کې وي لکه اذهب بنا ، آوونصروا ، که چیرته اولني مده

وي نو ادغام مه کوي مثلاً فِي يَوْمٍ . (ب) که چيرته په يوه کلمه کې دواړه متحرک وي او ماقبل اول هم متحرک وي نو اول به ساکن کړي او دويم کې به ادغام وکړي مثلاً فَرَّ ، مَدَّ ، په شرط ددې چې اسم متحرک العين نه وي مثلاً شَرَرٌ ، سُرَرٌ . (ج) که چيرته ماقبل اول ساکن غير مده وي نو د اول حرکت به ماقبل ته ورکړي شي او ادغام به وکړي شي لکه يُمُدُّ ، يَعِدُّ ، يَعِزُّ په دې شرط سره چې ملحق نه وي لهذا جَلْبَبَ ، هَمْلَجَ کې به دا قاعده نه جاري کيږي . (د) که چيرې ماقبل اولني مده وي نو بې نقل حرکت مو اولني ساکن کړو او دويم کې مو ادغام کړي دی مثلاً حَاجَّ وَمَادَّ . (ه) که چيرته د ادغام نه پس په دويم حرف باندې وي د امر وقف يا د جازم جزم راغلو نو په دويم حرف کې فتحه ، کسره او بفک ادغام دري واړه جائز دی مثلاً فِرَّ فِرِّ اِفْرِرْ که چيرې ماقبل اولني مضموم وي نو ضمه جائز ده مثلاً لَمْ يَمُدُّ .

د مضاعف ابواب :

باب اول : صرف صغير ثلاثي مجرد مضاعف فعل يفعل چون الفر و الفرار ، تبنتيدل .

باب دوم : صرف صغير ثلاثي مجرد مضاعف از فَعِلَ يَفْعَلُ چون العض ، يو څيز په غاښونو کې نيول .

باب سوم : صرف صغير ثلاثي مجرد مضاعف از فَعَلَ يَفْعُلُ چون اَلْمَدُّ وَالْمُدّ ، رابنکل .

باب چهارم : صرف صغير ثلاثي مجرد مضاعف از فَعُلَ يَفْعُلُ چون اَلْحُبُّ وَالْمَحَبَّةُ ، محبت کول . او د نورو بابونو نه ، نه راځي .

شروع شد مزيدات مضاعف :

باب اول : صرف صغير ثلاثي مزيد فيه مضاعف از افعال چون الامداد ، مدد کول .

باب دوم : صرف صغير ثلاثي مزيد فيه مضاعف از تفعيل چون اَلتَّقْلِيْلُ ، کم جورول .

باب سوم : صرف صغير ثلاثي مزيد فيه مضاعف از مفاعلة چون اَلْمُحَابَّةُ ، د يو بل سره دوستي لرل .

باب چهارم : صرف صغير ثلاثي مزيد فيه مضاعف از تَفَعّل چون اَلتَّحَبُّبُ ، محبت لرل .

باب پنجم : صرف صغير ثلاثي مزيد فيه مضاعف از تفاعل چون اَلتَّحَابُبُ ، د يو بل سره محبت کول .

باب ششم : صرف صغير ثلاثي مزيد فيه مضاعف از افتعال چون اَلِامْتِدَادُ ، اوږديدل .

باب هفتم : صرف صغير ثلاثي مزيد فيه مضاعف از انفعال چون اَلِانْسِدَادُ ، بنديدل .

باب هشتم : صرف صغير ثلاثي مزيد فيه مضاعف از استفعال چون اَلِاسْتِمْدَادُ ، مدد طلب کول .

باب اول : صرف صغير رباعي مجرد مضاعف از فعللة چون اَلزَّلْزَلَةُ جنبانيدن .

باب اول : صرف صغير رباعي مزيد فيه مضاعف از تفعلل چون اَلتَّسَلْسُلُ ، پيوسته کيدل .

او د باقي بابونو نه ، نه راځي .

ختم شد ابواب مضاعف و شروع شد مختلطات و مرکبات

Maktaba Tul Ishaat.com

باب اول :صرف صغير ثلاثي مجرد مهموز الفاء و اجوف واوي بر وزن نَصَرَ يَنْصُرُ چون اَلْاَوْبُ راگرځيدل.

باب دوم :صرف صغير ثلاثي مجرد مهموز الفاء و اجوف يائي بر وزن ضَرَبَ يَضْرِبُ چون اَلْاَيْدُ ، قوي کيدل.

باب سوم :صرف صغير ثلاثي مجرد مهموز الفاء و ناقص واوي بر وزن نَصَرَ يَنْصُرُ چون اَلْاَلُوُ ، کوتاهي کول.

باب چهارم :صرف صغير ثلاثي مجرد مهموز الفاء و لفيف مقرون بر وزن ضَرَبَ يَضْرِبُ چون اَلْاَوْيُ.

باب پنجم :صرف صغير ثلاثي مجرد مثال واوي و مهموز العين بر وزن ضَرَبَ يَضْرِبُ چون اَلْوَءْدُ.

باب ششم :صرف صغير ثلاثي مجرد مثال ثائي و مهموز العين بروزن عَلِمَ يَعْلَمُ چون اَلْيَأْسُ ، نا اميده کيدل.

باب هفتم :صرف صغير ثلاثي مجرد مهموز العين و ناقص واوي بر وزن ضَرَبَ يَضْرِبُ ، نَصَرَ يَنْصُرُ چون اَلدَّوَاءُ فريفتن.

باب هشتم :صرف صغير ثلاثي مجرد مهموز العين و ناقص يائي بر وزن مَنَعَ يَمْنَعُ چون الرَّءْيُ ، ليدل.

باب نهم :صرف صغير ثلاثي مجرد اجوف واوي و مهموز اللام بر وزن نَصَرَ يَنْصُرُ چون اَلْبَوْءُ ، راگرځيدل.

باب دهم :صرف صغير ثلاثي مجرد مثال واوي و مهموز اللام بر وزن مَنَعَ يَمْنَعُ چون اَلْوَبَاء ، اشاره کول.

باب يازدهم :صرف صغير ثلاثي مجرد اجوف يائي و مهموز اللام بر وزن عَلِمَ يَعْلَمُ چون اَلشَّيْءُ ، غوښتل.

باب دوازدهم :صرف صغير ثلاثي مجرد مهموز الفاء و لفيف مقرون بر وزن ضَرَبَ يَضْرِبُ چون اَلْاَوَى پناه نيول

باب سيزدهم :صرف صغير ثلاثي مجرد مهموز العين و لفيف مفروق بر وزن ضَرَبَ يَضْرِبُ چون اَلْوَعْيُ وعده کول

باب چهاردهم :صرف صغير ثلاثي مجرد مهموز الفاء و مضاعف بر وزن نَصَرَ يَنْصُرُ چون اَلْاَبُّ .

باب پانزدهم :صرف صغير ثلاثي مجرد مثال واوي مضاعف بر وزن عَلِمَ يَعْلَمُ چون اَلْوُدُّ ، دوست لرل.

باب شانزدهم :صرف صغير ثلاثي مجرد مثال يائي و مضاعف بر وزن عَلِمَ يَعْلَمُ چون اَلْيَمُّ دريا ب ته اچول.

و از مزيدات کثير الاستعمال مهموز العين و ناقص از افعال چون اَلْاِرَاءَةُ ، نمودن.

او د مزيد اتو نه کثير الاستعمال مهموز العين او ناقص د افعال نه چې لکه اَلْاِرَاءَةُ ، نمودن .

مکمل شد

وَصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى غَيْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّاٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلَّمَ

کتبہٗ : فقیر شہزادہ

مکتبہ رحمانیہ پشاور

۱۴۳۹ھ

تشہیل الارواح	پشتو شرح مراح الارواح
تحفۃ الوالیہ	عربی شرح کافیہ
توضیح المدارسہ	پشتو شرح احماسہ
حکایات عجیبہ	پشتو گلے قصے
درس قطبی	پشتو شرح قطبی
درس مقامات	پشتو شرح مقامات
ملفوظات امام ابوحنیفہ	پشتو
دیچ احکام	پشتو
دکانکاتو رازونہ	پشتو
دیوان حضرت علیؓ مجلد	پشتو
دنبی کریم ﷺ نصیحتونہ	پشتو
سوال سجاوندی	عربی شرح شرح جامی
دشریعت اوطریقت تلازم	پشتو
دیچ مسئلے فتاوی	2 جلد
قصیدہ بردہ	پشتو ترجمہ وتشریح
کنزالانوار	پشتو شرح ارشادالصرف
مقامات ابی حنیفہ	پشتو
معدن الحقائق	پشتو شرح کنزالدقائق کامل
منہاج الصیغہ	پشتو شرح علم الصیغہ
تکمیل الایضاح	پشتو شرح دروس البلاغہ
نور التہذیب	پشتو شرح تہذیب
فیض الجامی	پشتو شرح ملاجامی معرب متنی کامل
ایضاح الغواشی	پشتو شرح اصول الشاشی
ایضاح النحو	پشتو شرح ھدایہ النحو
النجم الثاقب	عربی شرح المیبذی

انوار الشمسیہ	پشتو شرح الشمسیہ
ایضاح المنطق	پشتو شرح مجموعہ منطق
ایضاح الصرف	پشتو شرح میزان الصرف
النجم المیر	پشتو شرح نحومیر
الصحیح النورانی	پشتو شرح مختصر القدوری
العلامات النحویہ	پشتو نحوی کتاب
فیض الجامی فارسی	شرح ملاجامی (معرب متنی کامل)
الفیوضات النافعۃ	پشتو شرح کافیہ (معرب متنی)
المحمد علی المفید	پشتو مقائد علماء دیوبند
الحامدیہ مع تکملہ	عربی شرح ھدایۃ النحو
الاوفاق	پشتو تعویذات
المواقیت الرشیدیہ	پشتو شرح القواعد الرشیدیہ
الفوائد الاصولیہ	
الھدایۃ المرضیہ	پشتو شرح مسلم الثبوت
تحفۃ الطالبین	پشتو شرح مفید الطالبین
العلاجیہ	پشتو شرح شافیہ
بلغۃ المبتدی مجلد	پشتو شرح صرف بہائی
بھارستان	پشتو شرح گلستان
الھدا الولد	پشتو
دپنجگی مسائل	پشتو
قصیدہ طوبی	پشتو
تنویر التہذیب	پشتو شرح التہذیب
ترکیب عزیزی	پشتو ترکیب شرح مائۃ عامل
تعلیم المعلم	پشتو مترجم
تیسیر المنطق	پشتو
درس مثنوی	پشتو شرح مثنوی
ترغیب المسلمین	پشتو
شرح دیوان متنبی	پشتو

اھلِ دلو دپارہ زرۂ رابنکونکی واقعات

Maktaba Tul Ishaat.com